کار او شتمنی ، جهاد او دعوت ، سیاست او مفکوره او په عین حال کی سپیځلی عقیده بی ریا عبادت هم د هغه په وسیع مفهوم کی وجود لری .

د پورتنیو هدفونو د لاس ته راوړلو پخاطر لاندی پنځو وسایلو ته ضرورت:

کله چی څوک غواړی چی په آینده کی جنرال شی نو مخکښی له هغه څخه به په حربی ښوونځی او حربی پوهنتون کی ځان شاملوی ، که څوک عزم لری چی په مستقبل کی د طب دکتور واوسی نو د طب د پوهنځی تلاش به کوی ، که کوم کس دا قصد لری چی په آینده کی د سرکونو ، پلونو او تعمیرونو ماهر وګرځی نو د اینجینری د پوهنځی کوښښ به کوی .

کله چی مونږ غواړو په هر هیواد کی اسلامی حکومت جوړ کړو ، او په ټوله نړۍ کی یو ځل بیا اسلامی خلافت را ژوندی کړو ، تر څو د مظلومانو او مستضعفانو اوښکی پاکی کړو ، د ظالمانو او طاغوتانو د کبر او غروریتان یو په بل پسی دړی وړی کړو ، د یتیمانو آه او فریاد واورو ، نو لازمه ده چی د نهو هدفو د لاس ته راوړلو پخاطر دی پنځو وسایلو ته توجه او پاملرنه وکړو : صفا او اخلاص ، جهاد ، فدا کاری (سرښندنه) ، ثبات او ټینګتیا ، ورورولی .

ا ـ صفا او اخلاص :

له اخلاص څخه زمونږ منظور او هدف دا دی چی : د یوه مسلمان په قول او عمل ، جهاد او مبارزه سعی او لټون کی هدف او مرام یواځی د الله تعالی رضا مندی او خوشحالول وی ، او په مبارزه کی د به هدف هسکه مرتبه او مقام نه وی نه ئی نوم او نشان هدف وی ، همدا راز یو مسلمان مبارز د خپلی عقیدی نوکر او عسکر وی شهرت

او منفعت ئی په نظر کی نه وی .

یو داعی باید مخلص وی ځکه د الله تعالی اخلاص ډیر خوښیږی وګوری خدای جل جلاله څنګه د اخلاص له برکته حضرت یوشع علیه السلام او حضرت کالب رحمة الله د موسی علیه السلام څخه بعد خلیفګان وګرځول ، الله جل جلاله حضرت موسی علیه السلام ته امر وکړ چی لاړ شه فلسطین فتحه کړه زه ئی په میراث درکوم ، موسی علیه السلام دولس تنه د هیئت په ډول فلسطین ته ولیږل څلوویښت ورځی دولس کسو په فلسطین کی تیری کړی کله چی بیرته راستانه شول او د قوم په لویه غونډه کی ئی رپوټ وړاندی کړ وئی ویل چی هلته میشته دی هغوی ډیر زور ور دی ، په مونږ کی دا وس نشته چی پر هغوی باندی یرغل وکړو ، مونږ چی هلته څومره کسان ولیدل ، هغه ټول لوړی ونی لری ، مونږ په خپل نظر کی داسی وو لکه چتکی او همداسی د هغو تر نظره هم راتلو ، د دی رپوټ په اوریدو ټولی غونډی چیغه کړه او د جنګ د نه کولو اعلان ئی وکړ ، له هغه وروسته د هغو دولسو تنو مشرانو له جملی څخه چی د فلسطین د دوری له پاره لیږل شوی وو ، دوه تنه مشران ، یو شع او کالب پورته شول او پدغه بی زړه توب باندی ئی خپل قوم پړ او خجالت کړ ، کالب وویل ځی چی مونږ ورشو په یوځل دغه هیواد ونیسو ، ځکه چی مونږ د دی وړیو چی هغه تر خپل تصرف لاندی راولو ، بیا دواړو په یوه خوله وویل : که خدای جل جلاله له مونږ نه راضی شی نو هغه به مونږ دغه هیواد ته ورسوی ، یوازی دومره به کوی چی تاسی به له خدایه سرکشی نکوی او نه به د دغه هیواد له خلکو څخه ویریږی ، خو قوم دا ځواب ووایه چی دوی سنګسار کړی . په پای کی د الله تعالی غضب په حرکت راغی او فیصله ئی وکړه چی بنه اوس به له یوشع او کالب څخه پرته د دی قوم له بالغانو

نارینه وه څخه هیڅ یو هم هغه هیواد ته داخل نشی ، دا قوم به تر څلویښتو کلونو پوری بی کوره لالهانده وګرځی تر دی پوری چی د هغو له شل کلنو نارینه وو څخه پورته ټول مړه شی او نوی نسل ځوانی ته ورسیږی نو بیا په هغه وخت کی به ورته د فلسطین د فتحه کولو موقع ورکړه شی د دی خداوندی فیصلی سره سم د فاران له دښتی نه د اردن تر ختیځه پوری د بنی اسرائیلو په رسیدو کی پوره « ۳۸ » کاله وخت ولګیده ، پدی دوران کی هغه ټول خلك مړه شول چی د ځوانی په دوره کی له مصر څخه وتلی وو ، د اردن د ختیځ له فتحه کولو ته وروسته حضرت موسی علیه اسلام هم وفات شو ، له هغه وروسته د حضرت یوشع بن نون د خلافت په زمانه کی بنی اسرائیل د دی وړ وګرځیدل چی فلسطین فتحه کړای شی ، همداوه چی ټول خلك مړه شول حضرت یوشع او حضرت کالب ژوندی پاتی شول او فلسطین ئی فتحه کړ ، نو په دعوت کی یو داعی ته مناسب دی چی له اخلاص څخه کار واخلی او هر قدم خپل په اخلاص پورته کړی څکه یوشع او کالب له خدای جل جلاله سره اخلاص درلود خدای تعالی د فلسطین فتحه ورنصیب کړه ، مګر د موسی علیه السلام قوم موسی علیه السلام ته وویل چی ته او خدای جل جلاله د لاړ شی فلسطین فتحه کړی په همدی سبب الله تعالی دوی تباه او ورك کړل ، څکه خو د خوا او سر کشان وو (د المائده سورة له۲۰ آیت څخه تر ۲٦ ایت پوری).

د اخلاص تر څنګ یو داعی ته ښه نیت درلودل هم ډیر مهم ارزښت لوی ، یوه ورځ حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته اصحاب رضوان الله عنهم ورغلل او ورته وئی ویل : ای رسول الله یوه پیغله په نامه د ام قیس په مدینه کی مهاجره ده ، یوه شخص چی په مکه کی ژوند کاوه د دی پیغلی د غوښتلو لپاره ئی نمایندګان استولی وه ، مګر

ام قیس د نکاح کولو شرط د شخص هجرت کول ایښی وه ، نوموړی شخص د ام قیس د نکاح پخاطر هجرت وکړ ، آیا دا شخص مهاجر دی ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل بلی مهاجر دی ځکه کور او کلی ئی پریښی خو د ام قیس مهاجر دی ، پس له هغه ځخه ئی دا مبارك حدیث ذکر کړ .

إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ وَ إِنَّمَا لِكُلِّ امْرِىءٍ مَانَوىٰ فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللّٰهِ وَ رَسُوْلِهِ فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللّٰهِ وَ رَسُوْلِهِ وَ مَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ لِدُنْيَا يُصِيْبُهَا أَوِ امْرَأَةٍ يَنْكِحُهَا فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَاهَاجَرَ إِلَيْهِ 1 .

(په تحقیق سره ثواب د هر عمل په نیت سره دی ، او په تحقیق سره هر سړی لره هغه شی رسیږی چی نیت ئی ورته کړی وی ، پس هر هغه ځوك چی وی هجرت ئی د خدای او رسول د رضاء لپاره ، پس هجرت ئی د خدای جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم په نزد قبول شو او هر هغه ځوك چی هجرت ئی د دنیا د حاصلولو لپاره او یا د کومی ښځی سره د نکاح کولو په خاطر وی ، پس هجرت ئی تر هغه شی دی چی هجرت ئی ورته کړی دی) .

نو په دعوت او اسلامی مبارزه کی ښه نیت درلودل ډیر ضرور او حتمی دی ، د یوه داعی نیت باید د خدای جل جلاله رضامندی او دقرآن حاکمول وی په ټوله کره د ځمکه کی ، د یوه داعی نیت باید شهرت ، نوم ، نشان ، مال او دارائی پیدا کول نه وی .

ب ـ جهاد :

جهاد یو داسی دائمی فر ض دی چی د هغه فرض والی به د

---

1 . . . . روایت د مسلم او بخاری

قیامت تر قیامه پوری باقی پاتی وی .

اَلْجِهَادُ مَاضٍ إِلٰى يَـــوْمِ الْقِيَامَة .... الحديث

(جهـاد جـاری دی تـــر ورځـــی د قیامته) .

جهاد هغه فریضه ده چی رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغی په هکله فرمایلی دی .

څوک چی مړ شی پداسی حال کی چی په خپل ژوند کی ئی عملا هم جهاد نوی کړی او په زړه کی ئی هم د جهاد نیت نه وی کړی نو داسی شخص د جاهلیت په خصلت مړ شوی دی .

د جهاد لومړی پړاو دادی چی یو مسلمان په زړه کی کفر بد وګڼی هسکه او لوړه څوکه ئی د الله تعالی په لاره کی وسلوال جنګ کول دی ، همدارنګه په ژبه ، قلم او لاس سره مبارزه او جهاد کول ، او د یو مستبد او ظالم دیکتاتور او جلاد زمامدار په وړاندی حق ویل د پورتنیو دوه پړاوونو تر مینځ منځی پړاو دی ، له جهاد څخه پرته د الله جل جلاله په لاره کی دعوت ټینګ او باقی نه پاتی کیږی .

وَ قَاتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ وَّ يَكُوْنَ الدِّيْنُ كُلُّهٗ لِلّٰهِ (۱)

(ای مؤمنانو ! له دی کافرانو سره تر هغه پوری وجنګیږی چی فتنه پاتی نه شی او ټول دین د الله جل جلاله لپاره شی) .

إِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰى مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَنْفُسَهُمْ وَ اَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ط يُقَاتِلُوْنَ فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَيَقْتُلُوْنَ وَ يُقْتَلُوْنَ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِى التَّوْرٰةِ وَ الْاِنْجِيْلِ وَ الْقُرْاٰنِ ط وَ مَنْ اَوْفٰى بِعَهْدِهٖ مِنَ اللّٰهِ فَاسْتَبْشِرُوْا بِبَيْعِكُمُ الَّذِىْ بَايَعْتُمْ بِهٖ ط وَ

---

(۱) ... د الانفال سورة : ۳۹ ایت

ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ .

(حقیقت دا دی چی الله جل جلاله له مؤمنانو څخه د هغوی نفسونه او د هغوی مالونه د جنت په بدل کی اخیستلی دی ، هغوی د الله جل جلاله په لاره کی جنګیږی نو وژنی او وژل کیږی ، له هغو سره د جنت وعده د الله په ذمه باندی یوه کلکه پخه وعده ده ، په توراة او په انجیل او قرآن کی ، او څوك دی چی له الله نه زیات د خپلی وعدی وفا کوونکی وی !! نو خوښ اوسئ په خپلی دغی سودا باندی چی تاسی له خدای سره کړی ده ، همدا تر ټولو ستر بریالیتوب دی[۱]) .

الله تعالی مجاهدینو ته زیری ورکوی چی خوښ اوسی په خپل تجارت کی ، نو ای مجاهده تاته ولی خدای جل جلاله زیری د خوشحالی درکوی څکه تا خپل سر او مال په الله تعالی خرڅ کړی ، ته کوم دوکاندار د څیزونو نه ئی بلکی ته سر او مال خرڅوونکی ئی په الله باندی ، ای مخلص مجاهده ته یوازی د الله دین په ټول جهان باندی حاکم ګرځوی ، د ظالمانو ، کافرانو او فاسقانو د کبر او غرور مانی ګانی دړی وړی کوی ، تر څو د مظلومانو ، بیچاره ګانو او مستضعفانو تر پښو لاندی شوی حقوق بیرته راژوندی کړی او د غریبانو د زخم مرحم وګرځی څکه اسلام دمظلومانو په سر ظلم ختموی او د ظالمانو زور اوبه کوی نو اوس د خپل مقام ته نظر وکړه.

اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ هَاجَرُوْا وَ جَاهَدُوْا فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِهِمْ وَ اَنْفُسِهِمْ اَعْظَمُ دَرَجَةً عِنْدَاللّٰهِ ؕ وَ اُولٰٓئِكَ هُمُ

۱... د التوبه سورة ۱۱۱ ایت

الْفَآئِزُوْنَ .

(د الله په وړاندی خو د هماغو خلکو درجه لوړه ده چی ایمان یی راوړ او د هغه په لار کی ئی کور کلی پریښوده او په سر او مال ئی جهاد وکړ ، هماغوی بریالی دی[١]) .

إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الَّذِيْنَ يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِهِ صَفًّا كَاَنَّهُمْ بُنْيَانٌ مَّرْصُوْصٌ .

(د الله جل جلاله خو هغه خلك خوښ دی چی د هغه په لار کی پداسی شان صف تړلی جنگیږی چی گواکی هغوی یو محکم کړی شوی دیوال دی[٢]) .

د الله جل جلاله منظم صف ډیر خوښیږی ځکه اسلام دنظم او دسپلین دین دی ، د اسلام مبارك او حقیقی دین بی نظمی او گډوډی تل ترتله رد کړی او رده وی ئی ، نو ای داعی کوښښ وکړه چی د جهاد په لیکه ، د دعوت په ساحه ، او د ژوند په هر اړخ کی نظم ، اصول او مقررات ښه مراعات کړی .

فَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجَاهِدِيْنَ عَلَى الْقَاعِدِيْنَ اَجْرًا عَظِيْمًا

(خو د هغه په وړاندی د مجاهدینو د خدمتونو بدله له ناستو کسانو څخه ډیره زیاته ده[٣]) .

وَ لَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ يُّقْتَلُ فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتٌ ، بَلْ اَحْيَاءٌ

١... د التوبه سورة ٢٠ ایت
٢... د الصف سورة ٤ ایت
٣... د النساء سورة ٩٥ ایت

وَلٰكِنْ لَّا تَشْعُرُوْنَ

(او هغو خلکو ته چې د الله په لار کې ووژل شي ، مړه مه وائې ، داسې خلك خو په حقيقت کې ژوندي دي مګر تاسې دا شعور نه لرئ چې د هغو په ژوند خبر شئ[۱]) .

وَ اَعِدُّوْا لَهُمْ مَّا اسْتَطَعْتُمْ مِّنْ قُوَّةٍ وَّ مِنْ رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُوْنَ بِهٖ عَدُوَّ اللّٰهِ وَ عَدُوَّكُمْ وَ اٰخَرِيْنَ مِنْ دُوْنِهِمْ ۚ لَا تَعْلَمُوْنَهُمْ ۚ اَللّٰهُ يَعْلَمُهُمْ

(او تاسې تر خپلې وسې وسې ډير زيات طاقت او تيار زين کړي آسونه د هغوی د مقابلې لپاره برابر کړئ ، تر څو چې په دې وسيله د الله پر دښمنانو ، پر خپلو دښمنانو او پر هغو نورو دښمنانو هيبت راولئ چې تاسې ئې نه پيژنئ خو الله تعالی ئې پيژني[۲]) .

له دې نه مطلب دا دی چې له تاسې سره هر وخت جنګی تجهيزات او يو مستقل پوځ بايـد تيارو‌ی تر څو د اړتيا په وخت کې سمد لاسه په جنګ لاس پـوری کړای شي ، داسې نه وی چې له خطر سـره له مخامخ کيدو وروسته د وارخطائی په حـال کې د مجاهدينو او د وسلې او وسـايلو راغونـډولو هڅه وشي او د دې تياری نيولو په تـرڅ کې دښمن خپل کار وکړي ، بايد د اسـلامی دعوت مجاهدين هميشه دښمنانو ته ويښ او بيدار و اوسي او خپل د جهاد ګروپونه منظم او ترتيب کړي ، الحمد للـه فعلا په الجزايـر کې اسلامی جهاد خپل د برياليتوب پـړاونه وهي ، د اسـلامی دعـوت مخلصو مجاهدينو پنځه کسيز ياشپږ کسيز ګروپونه ترتيب کړي او خپل اسـلامی جهاد ته په منظم ډول إدامه

۱... د البقره سورة ۱٥٤ ايت
۲... د الانفال سورة ٦۰ ايت

ورکوی .

هر اسلامی نهضت چی په هر گوټ د نړئ کی وی باید منظم نظامی روزل شوی گروپونه ولری تر څو دښمنان د خدای ، خپل دښمنان او منافقان پری وحیروی ، او د دښمنانو دفتنو او شومو دسایسو مخه پری ونیسی ، هر هغه اسلامی جماعت چی منظم نظامی گروپونه و نه لری حتمًا به له ماتی سره یوه ورځ نه یوه ورځ مخامخ کیږی ، څکه د نړئ ټولو اسلامی تحریکونو ته زما دا خطاب دی چی خپل روزل شوی جهادی او نظامی گروپونه نظر په پورتنی مبارك آیة شریف سره ترتیب او منظم کړی .

ج ـ فدا کاری (سرښندنه)

د فداکاری له تعبیر څخه زمونږ هدف دادی چی : هر مبارز مسلمان ته پکار دی چی د خپل ستر او عالی هدف د لاس ته راوړو په خاطر خپل هر شی ، ځان ، مال ، وخت او د ژوند له شیبو څخه هره شیبه د خدای جل جلاله د رضا پخاطر وقف او قربان کړی ، په نړی کی داسی جهاد نشته چی له فداکاری څخه پرته وجود ولری ، کومه لاره چی مونږ ځانو ته غوره او اختیار کړی ده په دی لاره کی هر ځل چی قربانی صورت ومومی ، نه ضایع کیږی ، الله تعالی د هغه اجر او بدل په بشپړه توگه او پوره راکوی.

وَ مَا تُنْفِقُوْا مِنْ شَيْءٍ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَ أَنْتُمْ لَا تُظْلَمُوْنَ ⁽¹⁾

(د الله په لاره کی چی تاسی هر څه ولگوی د هغو پوره بشپړ مکافات به ستاسی لوری ته راوگرځول شی او له تاسی سره به هیڅکله

---

(۱) ... د انفال سورة ٦٠ ایت

ظلم و نه شی).

وَ اصْبِرْ فَإِنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ 1

(او صبر وکړه ، الله تعالى د نيکى کوونکو اجر هيڅکله نه ضايع کوى) .

د ـ ثبات او ټينګتيا :

زمونږ مطلب د ثبات او استقامت له اصطلاح څخه دادى چى ، مبارز مسلمان ته پکار دى چى خپل هدف ته درسيدو له پاره پرله پسى او نه پريکيدونکى جهاد او مبارزه وکړى ، د لارى اوږدوالى او ربړونه دى د ده د مأيوسى او ناامیدى سبب و نګرځى او د بريالى توب تر وخته دى مبارزه وکړى او مسلمان په ګردو حالاتو کى کامياب دى که هدف ته ورسيږى او که د هدف په لاره کى شهيد کيږى په دى دواړو صورتونو کى بريـالى توب د ده په برخه دى ، زمونـږ د سنګر ملګرى بايد وپوهيږى او دى ټکى ته ښه ځير شى چى زمونږ وخت لـږ کارونه مو ډيـر او لاره مو اوږده او هـدف ته د رسيدو ځـاى مو لرى دى ، مونـږ په کندو او سختيو تيريږو او کوم شى چى مونـږ هـدف ته ورنـژدى کوى هغه د ستونځو او مشکلاتـو په مقابل کى ټينګه اراده ، کلك عـزم ، ثبات او استقامت دى او هغه مشکلات چى مونږ ئى پـدى لاره کى تيره وه او ګالوئى چټى او عبث نه دى ، بلکى الله تعالى مونـږ ته د هغو بشپړ او پـوره اجـر او ثـواب راکوى ، زمونـږ هلى ځلى او کړاوونه نه ضايع کوى (انشاء الله) .

يو داعى بايد د مشکلاتو په وخت کى د رسول الله صلى الله عليه وسلم مشکلاتو او تکليفو ته نظر وکړى ، زه به د هغه د مشکلاتو

---

1 .... د هود سورة ۱۱۵ ايت

الف ـ د کفارو په وړاندې زمونږ دریځ :

نو له مسلمانانو سره به د خدای د رضا لپاره دوستی کوی او له کفارو سره به د خدای جل جلاله د رضا لپاره دښمنی کوی له کافر سره به هیڅ نوع کمك او مرسته نکوی ستا کمك باید له مسلمان سره وی ځکه الله تعالی فرمایلی دی :

يَٰٓأَيُّهَا النَّبِىُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَ الْمُنَافِقِيْنَ وَ اغْلُظْ عَلَيْهِمْ

(ای پیغمبره له کافرانو او منافقانو دواړو سره په پوره طاقت مقابله وکړه او له هغو سره ډیر سخت برخورد وکړه[۱]) .

له کفر ، سوسیالیزم او کمونیزم سره مسلمان په هیڅ صورت پخلا کیدونکی ندی او نه کافر د مسلمان دوست کیدای شی ځکه خدای جل جلاله فرمائی :.

وَ لَنْ تَرْضٰى عَنْكَ الْيَهُوْدُ وَ لَاالنَّصٰرٰى حَتّٰى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ

(یهودیان او عیسایان به هیڅکله له تانه خوشحاله نشی تر څو چی ته د هغو په لاره لاړ نشی[۲]) .

یو دعوتگر مسلمان پدی باید وپوهیږی چه کفار زمونږ دوستان نه کیږی تر څو چی د دوی د خواهشاتو تابع نشو نو مونږ ته هم لازمه ده چی د خپل مالك کلام ته غوږ ونیسو او په هغه باندی عمل وکړو لکه چی فرمائی :

مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ وَالَّذِيْنَ مَعَهٗٓ اَشِدَّآءُ عَلَى الْكُفَّارِ

---

۱ . . . د التوبه سورة ۷۳ ایت
۲ . . . د البقره،سورة ۱۲۰ اية

یوه مختصره قیصه دتبوك د غزا دلته تاسی محترمو لوستوونکو ته یاده کړم ، د تبوك غزا د هجرت په نهم کال د رجب په میاشت کی پیښه شویده ، تبوك د حجاز د وادی القری او شام تر مینځ د یوه ځای نوم دی ، د دی غزا د واقع کیدو سبب داوه چی د روم د امپراطوری مشر هرقل د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د فتوحاتونه په باره او هراس کی وه نوقصد ئی کړی وه چی دا نوی اسلامی حکومت له مینځه یوسی او په مدینی باندی حمله وکړی ، مخکی له دی څخه رسول الله صلی الله علیه وسلم «۳۰۰۰۰» دیرش زره مجاهدین برابر کړل تر څو د روم له امپراطوری سره مقابله وکړی پدی وخت کی موسم ډیر ګرم وه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د دو و مجاهدینو له پاره په ورځ کی یوه خرما اعاشه مقرره کړی وه ، کله چی په مجاهدینو باندی تندی زیره غلبه وکړه پداسی حال کی چی بلکل له دوی سره اوبه موجود نه وی نو به ئی اوښ ذبح کاوه او د اوښ د بطن (کیدی) اوبه به ئی څکلی .

اسلام پداسی مشقت ، حرج او تکلیف سره ګټل کیږی ، اسلام په لنډ کروزر ، پجرو او پاړسن باندی نه ګټل کیږی بلکی اسلام په تشه ګیډه ګټل کیږی ، زه نن بعضی تش په نامه داعیان وینم چی د پیسو له پاره ئی رنګ رنګ لاری جوړی کړی که دا چنایان له خپلو ماډل جدیدو موټرو څخه کوز کړای شی او بیا ورته خطاب وشی چی ځی لوس بدون د موټرو څخه پیاده او په تشو ګیډو د دعوت کار مخ په وړاندی بوزی زه یقین لرم چی دوی به بدون له موټرو او پیسو څخه یو قدم هم د دعوت لپاره پوړته نکړی ، ځکه داسی خلك د پالرو ، کلدارو او موټرو داعیان دی .

نو کله چی مونږ بیا قصد کړی چی اسلامی خلافت په ټوله نړۍ کی یو ځل بیا را ژوندی کړو او قرآن د ټولی نړۍ قانون وګرځوو

باید په ثبات او استقامت باندی خپل ځانونه وروزو ، یو داعی باید د ماتی په وخت کی امید واره او توکل کوونکی په الله تعالی باندی واوسی .

د احزابو یا خندق ، د غزا په وخت کی رسول الله صلی الله علیه وسلم د مدینی څلور طرفه خندق کیندلو کی حصهٔ اخیستلی وه ، کله چی رسول الله صلی الله علیه وسلم په خندق کی په کار کولو مصروف وه پداسی حال کی چی مبارك ویښتان او مبارکه ږیره ئی په ګرد باندی ګردجن وه یو صحابی رضی الله عنه ورته راغی او ورته وئی ویل ای د خدای رسوله زه ډیر وږیم څه وخورم ، رسول الله صلی الله علیه وسلم په ځواب کی ورته خطاب وکړ چی په بطن (ګیډی) باندی دی تیږه وتړه ، پس له دی خبری څخه رسول الله صلی الله علیه وسلم دی صحابی رضی الله عنه ته خپل بطن وروښود چی دوه تیږی ئی تړلی وی .

که مونږ د اسلامی خلافت غوښتوونکی او یاران واقعاً په شان د خپل محبوب رسول الله صلی الله علیه وسلم او ملګرو ئی قدمونه کیږدو ، انشاء الله ډیر زر به په ټوله نړۍ کی خپل تللی عزت چی اسلامی خلافت دی بیا راژوندی کړو ، او د نړی مظلومو مسلمانانو ته به د امپریالزم او سوسیالزم له ظلم ، استبداد او استعمار څخه نجات ورکړو ، او د مظلومانو اوښکی به انشاء الله یو ځل بیا پاکی او د دردونو مرحم او پټی به ئی وکړځوو ، ځکه اسلام د مظلومانو یار او ملګری دی ، او د ظالمانو په سر تندر او طوفان دی .

هـ - ورورولی :

د ورورګلوی له اصطلاح څخه زمونږ مطلب دادی چی د عقیدی او ایمان ټینګ پیوندونه او اړیکی مبارز مسلمانان یو په بل پوری جوخت او سره تړی ، او دا پخپله د ژوندانه په اړیکو یوه اوچته او پیاوړی رابطه

ده ، ورور گلوی او اتحاد یوازی په عقیده او ایمان کی لیدل کیږی او د تفرقی اساسی عامل کفر او الحاد دی ، او زمونږ دوستی او دښمنی د اسلام په اساس ولاړه ده ، د یوه جمیعت د ځواکمنی او قوت عامل د هغه د افرادو په مینځ کی اتحاد او اتفاق دی هر څومره چی د یوه جمیعت غړی په خپل مینځ کی سره متحد وی په هماغه اندازه هغه جمیعت متین او مستحکم وی .

او حقیقی یوالی د وروړگلوی له روحی څخه پرته هیڅ امکان نه لری ، د ورورۍ لومړی مرحله له خپل ورور سره مینه او اخلاص درلودل دی او د ورورۍ هسکه مرتبه یو د بل په مقابل کی قربانی ورکول دی .

پر مسلمان مبارز باندی لازم دی چی خپلو ورونو ته پر خپل ځان باندی ترجیح ورکړی ، ځکه چی که دوی په خپل مینځ کی دا روحیه و نه لری نو د نورو په وړاندی به چلن او روش نه شی اختیارولی .

مبارز مسلمانان هر څومره چی په خپل مینځ کی سره متحد وی په هماغه اندازه تر خارجی تهدید لاندی لږ واقع کیږی ، او د دی په خلاف هر څومره چی یو له بل څخه سره لری وی په هماغه اندازه له زیاتو خطرونو سره مخامخ کیږی .

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ 1 .

(مؤمنان خو یو د بل ورونه دی ، نو د خپلو ورونو په مینځ کی مناسبات سم کړئ) .

---

1 .... د الحجرات سورة ۱۰ ایت

اَلْمُؤْمِنُ مِـــرْآةُ الْمُؤْمِنِ وَ الْمُؤْمِنُ اَخُو الْمُؤْمِنِ 1 .

(هر مؤمن آئینه د بل مؤمن دی او هر مؤمن ورور د بل مؤمن دی) .

کله چی یو مسلمان په بل مسلمان کی کوم عیب ووینی باید د هغه عیب خلکو ته اعلان نکړی بلکی هغه یوازی گوښه کړی او د اصلاح له پاره ئی عیب ورته ووائی پداسی ډول ورته نصیحت وکړی چی تعمیری جنبۀ ولری نه تخریبی ، او کوښښ به کوی چی ورور ئی توهین نه شی ، زه نن بعضی کم ظرفیته خلك وینم چی څه کمه ، زیاته پوه ئی پیدا کړی یا ئی څه حرامی ، حلالی پیسی لاس ته راوړی بلکل څمکه نه وینی او د یوه مسلمان ورور توهین خو ورته نسوار هم نه ښکاری .

اَلْمُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِ كَا لْبُنْيَانُ يَشُدُّ بَعْضُهُ بَعْضاً ثُمَّ شَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ ... الحديث

(هر مؤمن د بل مؤمن له پاره حیثیت د دیوار د تعمیر لری چی ټلکوی بعضی د دوی بعضی نور ، پس له هغه څخه رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلو لاسونو مبارکی گوتی یو د بل په مینځ کی سره ورکړی تر څو خلکو ته واضح مثال بیان کړی) .

نو مسلمانان که واقعاً خپل ځانونه سره خښتی د یوه تعمیر وگرځوی ، نو دا خښتی به سره بافت وخوری او یو پر بل باندی به مستحکمه شی ، پدی صورت کی بیا د هیڅ قدرت زور پری نه رسیږی ، مسلمانان باید په شکل د ورونو سره ژوند وکړی او خصوصاً فکری او شعوری مسلمانان ، د دی په خاطر که مونږ ورور ولی ونکړو نو دا تللی عزت مو چی اسلامی خلافت دی بیا نه شوو را ژوندی کولای .

---

1 .... د مشکوة حدیث

د افغان مجاهد ولس په غنمو کی اغزی شنه شوی :

عجيبه قيصه ده ١٤ کاله جهاد وکړه ١٤ کاله د هجرت په مشقت حالت کی ژوند تیر کړه ، شل لکه ځوانان دی د قرآن د عادل نظام د نافذولو پخاطر د تورو خاورو خوراك وګرځه ، د شل لکو مجاهدینو شیرین اندامونه دی خدای جل جلاله ته نذرانه شول ، ټول افغانستان دی د کربلا میدان وګرځیده او بلأخره د خاورو په ايره تبدیل شو ، خو سره له دومره قربانی بیا هم زمونږ د شهیدانو ، فکری او شعوری بادرده مسلمانانو ارمان نیمګړی پاتی شو ، آخر داولی ؟ مونږ خو د دی صحنی د لیدلو هیڅ تصور هم نه کاوه ، دا زمونږ د غنمو په پټیو کی چا اغزی وکرل ؟ واضح ده چی زمونږ د غنمو په پټیو کی هغه وخت اغزی وکرل شول چی کمونستانو او ملحدانو ته دلمشروع عفو اعلان شوه ، خو زه د شهید زوی ، د شهید ورور ، د شهید پلار هغه مجروح مجاهد او هغه فکری او درد لیدونکی سابقه مجاهد ته خطاب کوم چی قسم ده که په خپله منطقه کی د امنیت ژوند تیر کوی ، ځکه ستا پلار ، ستا ورور ، ستا زوی ، تپی او سابقه داره ژوندیه مجاهده تا پخپله په سره سنګر کی کمونیست او ملحد له تیغه تیر کړی ، خو اوس د هماغه کمونیست وارثان ستا د شهیدانو د وینو په کابل کی بو سلاح او مهماتو باندی له پهر خپله تر سره مسلح دی ، نو بیا ځکه ستا په غنمو کی اغزی له دی شنه شوی ، ځکه خو زما او ستا صف له کمونیست سره واضح او معلوم وه ، اوس خو زمونږ د اسلام ټیکه دارانو په ډیره مهربانی سره مونږ ته لوی خدمت وکړ ، ځکه په هر کور او کلی کی ئی مونږ ته ښه نیشداره ګلان (اغزی) وکرل .

« از خیر تو بیزار ما را شر مترسان »

ما خو مخکی فکر کاوه چی زمونږ د جهاد مشران به مونږ ته اسلامی نظلم جوړ کړی خو اوس وایم چی دوی زمونږ له پاره نوری ستونزی او مشکلات را زیات کړل .

زه په دی اساس وخت کی د افغانستان د شهداء وارثانو ، مخلصو مجاهدو ، با احساسه علماؤو ، کړیدلو مهاجرو ، مظلومو او بادردو مسلمانانو ، فکری او شعوری اسلامی زوریدلو ځوانانو ته په ډیری عاجزی سره پیشنهاد کوم ، چی د بادردو او مظلومو مسلمانانو صف تشکیل کړی تر څو مو د شهیدانو ارمان له خاورو سره خاوری نه شی ، او د یوه تصفیوی انقلاب له پاره په ډیره میړانه او ورین تندی میدان ته ورو دانګی او له خپلو غنمو څخه اغزی لری کړی ، ددی نوی تصفیوی انقلاب د صف حیثیت د ګل غاټولو د غنچی په شان دی ، ګل غاټول په یوه ځای او په یوه پټی کی نه پیدا کیږی ، د ګل غاټولو د غنچی جوړولو له پاره په ډیرو ځمکو ګرځی او ګل غاټول به لټوی .

زه له ځینو سست ایمان اشخاصو څخه اورم چی وائی یوم البدتر دی ، مشرانو څــه وکړل چی ځوانان او کشران به ئی وکړی ، خو زه دی محترمو ته وایم چی یوم البدتر د بی ایمانو له پاره دی نه د مؤمنانو له پاره څکه خدای تعالی فرمائی :

وَ لَا تَهِنُوْا وَ لَا تَحْزَنُوْا وَ اَنْتُمُ الْاَعْـــلَوْنَ اِنْ کُنْتُمْ مُّؤْمِنِیْنَ ۰ (۱)

(بی زړه کیږی مه ، الدیښمن کیږی مه ، همدا تاسی برلاسی یاست که تاسی مؤمنان اوسئ) .

---

1 .... د ال عمران سورة ۱۳۹ ایت

دو صد مرد جنگی به از صد هزار :

دا شموئیل علیه السلام په زمانه کی جالوت یو ظالم پادشاه وه ، د مسلمانانو ښځی او ماشومان به ئی په زور باندی له خپلو کورو څخه ایستل ، مسلمانان د جالوت له لاسه ډیر په تنګ شول ، د وخت پیغمبر حضرت اشموئیل علیه السلام ته چی پدی وخت کی سپین ږیری شوی وه ورغلل او ورته ئی عرض وکړ چی مونږ ته پادشاه تعین کړه تر څو چی مونږ د الله تعالی په لاره کی جنګ وکړو ، اشموئیل علیه السلام ورته وویل تاسی جهاد نه شی کولای جهاد زیات تکلیف لری دوی په ځواب کی وویل ، پر مونږ څه شوی پداسی حال کی چی مونږ سره له خپلو ښځو او اولادونو له خپلو کورونو څخه ایستل کیږو ، اشموئیل علیه السلام د خدای جل جلاله په حکم دیرش کلن ځوان طالوت په صفت د پادشاه ورته تعین کړ ، دوی د طالوت له تعین کیدو څخه سر غړونه وکړه چی هغه مالداره او د لوئی کورنی غړی ندی ، اشموئیل علیه السلام ورته وویل چی هغه علم او ښه جسم لری .

وَ اللّٰهُ یُؤْتِیْ مُلْکَهٗ مَنْ یَّشَآءُ (1)

(او الله واکمن دی چا ته ئی چی خوښه شی خپل ملك ورکوی)

پدی سربیره د هغو پیغمبر هغو ته دا هم وښودل چی د خدای جل جلاله له لوری د پادشاْ په توګه د طالوت ټاکل کیدو نښانه داده چی د موسی علیه السلام د کورنی او د هارون علیه السلام د کورنی د اثارو صندوق به د ده د کور مخی ته راشی پداسی حال کی چی دا صندوق له بنی اسرائیلو څخه جالوت نیولای وه د دی صندوق لوی صفت داوه چی کله به مسلمانانو په جنګ کی په مخه کړ هغه ښار به فتحه کیده کله

---

1 .... د البقره سورة ۲٤۷ ایت

چی جالوت دا صندوق په جنګ کی په مخه کړ پنځه ښارونه ئی د خدای جل جلاله په حکم تباه شول ، بعد له دی حادثی څخه جالوت صندوق په دووغوایانو بار کړ او غوایان ئی په خپل سر خوشی کړل ، الله جل جلاله ملایکی مؤظفی کړی ، ملائیکو صندوق د طالوت د کور مخی ته یوړ کله چی قوم پوه شو چی واقعاً طالوت د خدای جل جلاله له لوری ټاکل شوی پادشاه دی ، نو (۸۰۰۰۰) اتیا زره فوځ د جالوت مقابلی ته له طالوت سره روان شو ، پدی وخت کی موسم ګرم وو کله چی نهر ته ورسیدل طالوت خپل فوځ په امتحان کی واقع کړ ، د دی پخاطر چی دوی د جنګ توان لری او که ئی نلری ، که ئی د تندی توان ودرلود نو د جګړی په میدان کی به هم ودریږی ، طالوت امر وکړ چی له یوی یا نیمی لپی اوبو څخه زیاتی و نه څښی ، خو یوازی «۳۱۳» کسانو د طالوت د قوماندی اطاعت وکړ ، طالوت او دا «۳۱۳» کسان له نهر څخه پوری وتل ، دا پاتی څه کم اتیا زره کسانو وویل :

لَا طَاقَةَ لَنَا الْيَوْمَ بِجَالُوتَ وَ جُنُودِهِ 1 .

(نن په مونږ کی د جالوت او د هغه له لښکرو سره د مقابلی وس نشته) .

خو د چاچی پدی باور ؤ چی یوه ورځ له خدای جل جلاله سره یو ځای کیدونکی دی ، هغو وویل :

كَمْ مِّنْ فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللّٰهِ ، وَ اللّٰهُ مَعَ الصّٰبِرِينَ (۲)

(ډیر ځله داسی شویدی چی یو وړوکی ټولګی د الله جل جلاله

---

1 . . . . د البقره سورة ۲٤۹ ایت

۲ . . . . د البقره سورة ۲٤۹ ایت

په امر پر يوی لوئی ډلی بر لاس شويدی ، الله د صبر کوونکو ملګری دی) .

کله چی دا « ۳۱۳ » کسانو د جالوت او د هغه د لښکرو مقابلی ته ورودانګل نو ئی خدای تعالی ته په عذر ، زاری او دعا شروع وکړه .

رَبَّنَآ أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَّ ثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ 1

(ای زمونږ ربه! مونږ ته صبر راکړه ، زمونږ قدمونه ټينګ کړه او پردی کافره ډله مونږ بر لاسی کړه) .

کله چی طالوت له ۳۱۳ کسانو سره د جالوت د لښکرو په مقابل کی ودريد داود عليه السلام ميدان ته د جالوت د مقابلی له پاره ورووت پدی حال کی جالوت ټول په اوسپنه کی پټ وه ، صرف او يوازی تندی ئی خالی وه ، د خدای جل جلاله په حکم د داود عليه السلام تيږی د جالوت په تندی باندی حواله شوی جالوت مړ او لښکر ئی له ماتی سره مخامخ شو ، حق راغی او باطل شکست وخوړ .

د بدر غزا ته نظر وکړی مسلمانان «۳۱۳ » يا «۳۱٤ » کسان وو د کفارو تعداد زر تنو ته رسيده ، څنګه اويا کسه کفار ووژل شول او اويا تنه اسير ونيول شول ، زمونږ جګړه دوسايلو او نفوس په توازن نده ولاړه بلکی دا د حق او باطل معرکه او جګړه ده :

جآء الحق و زهق الباطل، إن الباطل كان زهوقا

(راغی حق او محوه شه باطل ، باطل د تل له پاره محوه او له مينځه تلوونکی دیٰ) .

---

1 . . . . د البقره سورة ۲۵۰ آيت

هر بیشه گمان مبرکه خالی ست
شاید که فلنگی خفته باشد

د افغان قهرمان باغیوره مسلمان ولس د شهداء پاکی وینی هو خوك نه شی عفو کولای ، دا شهیدان قهرمان ، زړور باغیوره وارثان لری د دوی د قطری قطری وینی بدل او انتقام به اخلی .

گل است سعدی ولی در چشم دشمنان خار است

د ځینو سستو انسانانو طبعاً خاصیت داسی وی چی نه په خپله د خیر د کار کوم قدم پورته کولای شی ، او نه د بل چا له طرفه د خیر د قدم د پورته کولو برداشت کولای شی ، که کومه د خیر او اصلاح ډله د اسلام د دین د لوړولو په خاطر مجاهده کوی نو په رنګ رنګ نومونو باندی به ئی متهم کوی .

چی په زور ور سره نه ئی برابر
د هغو تر خنګه مه کښینه زړور .

مجاهده ۱٤ څوارلس کاله تیره په تیره ، سنګر په سنګر ، غر په غر ، پوله په پوله له کمونستانو او ملحدانو سره وجنګیدی ، خو اوس څنګه له کمونستانو سره دوست او ورور شوی ، چا سره دوستان کړی ، هغه سابقه دښمنی مو ولی ختمه شوه ، آیا سابقه دښمنی دی د لیونتوب خاصیت وو ، او که اوسینی دوستی دی د لیونتوب کوم خوی او عادت دی ، که واقعیت ته نظر وکړو نو فعلی دوستی دی له کمونستانو سره له ځنځیری لیونی څخه هم څو درجی لوړه ده څکه که کوم ځنځیری لیونی خوك ووهی نو دی ئی پیژنی او بد بد ورته ګوری ، خو ته کمونیست ته د محبت په نظر ګوری .

نو ای مخلصه مجاهده که می تندی او ترخی خبری درته وکړی څکه زړه می درد کړی د تندو او ترخو خبرو معافی درڅخه غواړم ، خو

رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ .

(محمد صلی الله علیه وسلم د الله رسول دی او کوم کسان چی له هغه سره ملګری دی هغوی پر کافرانو سخت او په خپلو مینځو کی خواخوږی او رحم دله دی[۱]) .

نو مسلمان ته لازمه ده چه له کفارو سره ډیر شدت وکړی په نامه د ماما زوی ، کاکا زوی ، ورور ، او وراره کمونستان په غیږ کی و نه نیسی که دا کار وکړی نظر په آیه ۵۱ سورة المائده چی وروسته به ستاسو مخی ته راشی دا شخص مسلمان ندی نو مونږ هم باید له هیڅ کافر سره دوستی و نکړو د دی پخاطر چه هغه زمونږ د خدای جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم دښمن دی نو زمونږ څنګه دوست کیدای شی .

مونږ کفارو ته وایو باخبره شی چه مونږ مسلمانان هغه بی باکه او بیغوره مسلمانان نه یو چه دوست له دښمن څخه و نه پیژنو مونږ بیا انشاء الله له یوه سوری څخه دوه ځله نه چیچل کیږو ، هیڅ وقت کفار ولوکه په هر رنګ وی زمونږ دوستان نه شی کیدای او مونږ دا د شرق او غرب د استعمار او استبداد سوری ښه پیژندلی چه پدی باره کی حضرت محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی :

لَا يُلْدَغُ الْمُؤْمِنُ مِنْ جُحْرٍ مَرَّتَيْنِ .... الحديث .

(نه چیچل کیږی مؤمن له یوه سوری څخه دوه واری) .

په ۱۹۲٤ میلادی کال کی اسلامی خلافت چه په ترکیه کی ئی مرکز وه په نامه د عثمانی خلافت مسمی کیده د چا له لاسه له مینځ څخه لاړه دا خبره ټولو ته په ډاګه ده چی دانسی شیطان له دننه او د

۱... د الفتح سورة ۲۹ اية

بیا هم درته وایم چی څنگه له کمونستانو سره څنګ په څنګ او اوږه په اوږه دروغی جوړی شپی او ورځی تیروی ، په داسی حال کی چی د سابقه او فعلی تباهیو عاملین همدا کمونیستان دی ٠

سږ کال د روژی په ٢٧ یو سابقه دار مجاهد د ننګرهار ولایت د خوګیانیو په ولسوالی کی د کمونیستانو د وارثانو د انتقام ښکار وګرځیده ، نو زه نورو سابقه دارو مجاهدینو ته خبر ورکوم چی د کمونیستانو د انتقام له پاره ځانو ته کفنونه خریداری کړی ٠

افسوس افسوس ستا په ای حال شه مجاهده
ځان ته نن په خپله ته کفن خریداری کوینه

مجاهده ته خپل سابقه هیبت ته نظر وکړه ، ستا رعب د روسانو د تښتی سبب وګرځید ، پکت وارسا چی بلاك د کمونیزم وه او شوروی اتحاد ستا د مجاهدی له برکته دړی وړی او له مینځه څخه ولاړ ، نو اوس په تا باندی څه شوی چی خوار او ذلیل ئی او د بی عزتی ژوندی تیروی ، له تا څخه یو کمونیست ډیر صلاحیت او قدرت لری ځکه تا ١٤ څوارلس کاله په غرو کی جهاد کړی ، کوم مسلکی ټانکست نه ئی ، خو یو کمونیست د مسکو ، تاشکند او دوشنبی د پوهنتون سور اسناد په لاس لری نو ستا او د هغه وطن فروش فرق ډیر زیات دی ځکه ته سره شهادت نامه په لاس کی نلری او هغه پوخ اسناد لری ٠

نو مجاهده ستا جهاد ندی خلاص شوی بلکی ستا جهاد د تاریخ په حساسو شیبو کی واقع شوی دی ، نو یو ځل بیا د تصفیوی جهاد او انقلاب له پاره په ډیره میرانه میدان ته ورودانګه او د افغان مجاهد ولس له غنمو څخه اغزی خشاوه کړه ٠

څوارلس کاله نوم د کمونیست په ټول جهان خپریده
نن خو زه نوم د کمونیست په کوم اخبار نه وینم

عجیبه قیصه ده ځوارلس کاله مو د پاکستان او ایران مطبعی د کمونیزم د غندلو په چاپولو ستړی کړی ، خو کله چی کمونستانو ته نامشروع عفو اعلان شوه ، پس له هغه به هیڅ یو کس د کمونیست غندل په کومه جریده ، یا مجله کی په زربین و نه وینی ، نه پوهیږم چی دا ځوارلس کاله مو کمونیزم په ړول ړول وکوبه د امو ځان ته بازی ورکړه که قهرمان ، مجاهد ، باغیوره ، افغان ولس ته که مو هر یوه ته فریب ورکړی وی نو غټه اشتباه مو کړی .

واخله د شـهید زویـــــه نـن ورځ د انتقام ده

پلار ته به ورځی څه به ته وائی په خواب کی

پلار ته چی ورځی خو چی سر لوړی خو ته ورشی

نـه چی تـه پیشـو ئـی چی پیشـو خـوور روانـه

زه د بعضی تش په نامه مجاهدو غیرت او همت ته هیران پاتی یم چی له هغو کمونیستانو سره نن د محبت لاسونه ورکوی چی له هغو کمونیستو لاسونو څخه د شل لکو شهیدانو وینی څاځی ، نه پوهیږم داد بعضی خلکو غیرت چیرته والوت ، یو نفر د کومی میوه داری ونی زړی خوړلی وه چا ورته وویل چی په ګیډه کی به دی ونه شنه شی هغه وویل چی سوری ته به ئی کښینم اوس زمونږ په بعضی مجاهد نماوو باندی همدا قیصه شوی .

هر هغه تنظيم چې د اسلام مسير پريږدي حتماً له مينځه تلوونکي دي :

پدې بايد پوه واوسو هر هغه چلوونکي چې د خپل هدف لاره پريږدي او په دښتو او کندو کې روان شي ولوکه د ده ګاډي ډير ماډل جديد هم وي او ډريور ئې هم ښه ماهر وي ، او د روغنياتو له اړخه هم پوره وي ، نو دا موټر به حتماً او ضرور پس له څه مودې ځخه دريږي ، ځکه چې خپل سرك او مسير ئې پرښودلى او په ګړه او ورانه روان شوى .

د تيرو شويو امدافو په رڼا کې بايد ووايو هر هغه تحريك چې عالي اهداف و نه لري ، او له خپل مسير ځخه منحرف شي او خپل اهداف شاته وغورځوي نو د دې ډلي په باره کې مالك الملك خداى تعالى داسى فرمائي :

وَ إِنْ تَتَوَلَّوا يَسْتَبْدِلْ قَوْماً غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَايَكُونُوٓا أَمْثَالَكُمْ [1] .

(که تاسي مخ واړوئ نو الله به ستاسي په ځاى کوم بل قوم راولي او هغوى به ستاسي په څير نه وي) .

مطلب دادى هره هغه ډله چې له خپل اصلي مسير يعني خط مشي د قرآن ځخه انحراف وکړي خداى تعالى ئې محوه او نابوده وي ، او په عوض کې ئې ښه با اخلاقه او مهذبه ډله مينځ ته راولي چې په مثل د هغې پخوانى ډلي به نه وي يعني غلا ، قتل ، چور او چپاول ، او داسى نور ناروا کارونه به نه کوئي بلکې دا نوى ډله به د خداى جل جلاله د دين د حاکمولو په خاطر مجاهده او کوښښ کوئي ،مسلمانانو ته به

---

1 . . . . د محمد سورة ۳۸ ايت

فهرست

مضمون	مخ
مقدمه	۳
دافغانسان داسلامي خلافت دتحريك شعار	۵
دافغانستان داسلامي خلافت دتحريك مهم اهداف	۷
لومړی هدف	
دځان اصلاح	۸
دوهم هدف	
دخپل کهول اصلاح	۱۵
دريم هدف	
د ټولنی اصلاح	۱۶
څلورم هدف	
دوطن نجات	۱۹
پنځم هدف	
دحکومت اصلاح	۲۰
شپږم هدف	
داسلامي حکمو او سيمو آزادول	۲۲
اووم هدف	
په ټوله نړئ کی داسلامي دعوت خپرول	۳۸
اتم هدف	
په ټوله نړئ کی داسلامي خلافت بيارا ژوندی کول	٤۱
نهم هدف	
قرآن د ټولی نړئ قانون گرځول	٦۹
الف : يوداعي بايد دماتی په وخت کی مايوسه اوناامیده نشي	
او د برياليتوب په وخت کی کبروغرور ونکړي	۷٦

مضمون مخ

ب : یوداعي باید نرم خویه او باحکمته واوسي ۸۵
ج : دیوه دعوتگرقول او عمل باید یو شان وي ۸۸
د : یوداعي باید دامام اعظم « رح » په شان مجاهده اوفداکاري ولري . ۹۰
هـ : زمونږ تربیوي اړخ تصوف اونظم مو عسکري دی ۹۲
و : تحریك خلافت اسلامي افغانستان له هیڅ مسلمان سره اختلاف نلري.. ۹۶
ز : د اسلامي حکومت له جوړولو څخه وړاندی سالمی اسلامي
روزنی ته اړتیا ۹۷
د پورتنیو هدفونو د لاس ته راوړلو پخاطر لاندی
پنځو وسایلو ته ضرورت ۱۰۰
الف : صفا او اخلاص ۱۰۰
ب :جهــــاد ۱۰۳
ج : فداکاري اوسرښندنه ۱۰۸
د : ثبات اوټینگتیا ۱۰۹
هـ : ورور ولی ۱۱۱
د افغان مجاهد ولس په غنمو کی اغزي شنه شوی ۱۱٤
هرهغه تنظیم چی داسلام مسیر پریږدي حتماً له منځه تلونکی دی ۱۲۲

* قرآن به په جهان باندی دستورکړو دستور به کړو قانون به کړو قانون د لا اله الا الله

* که مو قرآن په ټول جهان باندی حاکم شو خلکو، ظلم به ورك ، استبداد ورك ، ای مظلومانو خلکو .

* مونږ په واړه افغانستان باندی قانع نه یو مونږ په ټوله نړئ کې د اسلامي خلافت غوښتونکی یو.

* مونږ راضي نه یو په دی حال باندی ، قرآن حاکموو په ټول جهان باندی .

* دطورخم ، اسلام قلعه او آموسیند سرحدات مونږ له عالم اسلام څخه نشي جلاکولای .

ARIC
B
4.491
KHA
7811
ARIC

* قرآن به په جهان باندې دستور کړو دستور به کړو قانون به کړو قانون د لا اله الا الله

* که مو قرآن په ټول جهان باندې حاکم شو خلکو، ظلم به ورک ، استبداد ورک ، ای مظلومانو خلکو .

* مونږ به واړه افغانستان باندې قانع نه یو مونږ به ټوله نړۍ کې د اسلامي خلافت غوښتونکي یو.

* مونږ راضي نه یو په دې حال باندې ، قرآن حاکموو په ټول جهان باندې .

* د طورخم ، اسلام قلعه او آمو سیند سرحدات مونږ له عالم اسلام څخه نشي جلاکولای .

پل ، زرعتی ځمکه ، سرك اوسی مگر د خدای جل جلاله دښمنانو ته به تندر ، زلزله ، طوفان ، سیلاب او د هلاکت کنده اوسی ، او د هیڅ ملامتکوونکی له ملامتی څخه به نه ویریږی ، نو په همدی ارتباط د خدای تعالی دی قول ته غوږ ونیسی :

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَنْ يَرْتَدَّ مِنْكُمْ عَنْ دِينِهِ فَسَوْفَ يَأْتِي اللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَ يُحِبُّونَهُ أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَ لَايَخَافُونَ لَوْمَةَ لَائِمٍ ، ذَلِكَ فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ وَ اللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ 1

(ای مؤمنانو ! که له تاسی نه څوك له خپل دین نه واوړی « نو وادی وپوهی » الله به نور ډیر داسی خلك پیدا کړی چی الله ته گران وی او الله هغوی ته گران وی ، چی له مؤمنانو سره به نرمی کوی او پر کافرانو سختی ، چی د الله جل جلاله په لار کی به جدو جهد وکړی او د هیڅ ملامتوونکی له ملامتی څخه به و نه ویریږی دا د الله فضل دی چا ته یی چی خوښه شی ور په برخه کوی یی ، الله د پراخه وسایلو څښتن او په هر څه پوهیږی) .

پـای

---

1 .... د المائده سورة ٥٤ ایت

بهر د دسیسو لأمله د اسلامی خلافت وړانګی پای ته ورسیدی ، نو مونږ ځنګه بیا د امپریالیزم او کمونیزم روزل شوی بچیانو سره دوستی وکړو چه زمونږ عزت او آبرو چی اسلامی خلافت وه له مینځه یوړ خدای جل جلاله فرمائی :

لَا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُونَ الْكٰفِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ وَ مَنْ يَفْعَلْ ذٰلِكَ فَلَيْسَ مِنَ اللّٰهِ فِي شَيْءٍ

(مؤمنان دی هیڅکله داسی نکوی چه مؤمنان پریږدی او له کافرانو سره ملګرتیا او دوستی وکړی څوک چی داسی چلند وکړی د هغه له الله جل جلاله سره هیڅ اړیکه نشته) [۱].

له کافرانو سره دوستی کول جواز نلری ځکه خدای جل جلاله په بل آیت شریف کی داسی فرمایلی :

يٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَ النَّصٰرٰى أَوْلِيَاءَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ ، وَ مَنْ يَتَوَلَّهُمْ مِنْكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ إِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظّٰلِمِينَ

(ای مؤمنانو یهودیان او عیسایان خپل ملګری مه نیسی دوی په خپلو مینځو کی سره ملګری دی او که له تاسی نه څوک هغوی خپل ملګری نیسی نو بیا هغه هم په هماغو کی شمیرل کیږی پدی کی شك نشته چی الله جل جلاله ظالمان له خپلی لارښوونی څخه بی برخی کوی) [۲].

الله جل جلاله له کفارو سره دوستی بلکل منع کړی مګر مونږ د الله جل جلاله د حکم په خلاف ورته عفو وکړه ملحدان او کمونستان مو

۱... د ال عمران سورة ۲۸ اية
۲... د المائده سورة ۵۱ ایت

په خپلو کارونو مسلط کړل الله جل جلاله په مونږ خپل قهر یعنی د ذلت بر اعلی عامل اختلاف را پیدا کړ تر څو چه مونږ د خدای جل جلاله له حکم سره مطابق د ده له دښمنانو سره دښمنی ونکړو او له خپلو صفوفو څخه ئی تجرید نکړو له دی فعلی وضعی څخه به هم زمونږ حال خراب شی . راځی چه خدای جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم په دوستی ونیسو او له خدای جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه هیڅ کوم شخص غوره او محبوب و نګڼو لکه چه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم فرمائیلئ دی :

لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتّٰى أَكُوْنَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَّالِدِهٖ وَ وَلَدِهٖ وَ النَّاسِ أَجْمَعِيْنَ •.

(هیڅ یو کس له تاسی څخه تر هغه کامل مؤمن نشی جوړیدلای چه تر څو زه ورته د خپل پلار او د خپل اولاد او د ټولو خلکو څخه زیات محبوب نه شم).

نو مونږ ته هم لازمه ده چه پدی حدیث شریف باندی عمل وکړو او له خدای جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه هیڅوک محبوب او دوست ونګڼو په نامه د قوم وطن او قرابت د نسب له کمونستانو او غرب ګرایانو سره دوستی ونکړو هر هغه څوک چه زما او ستا د خدای جل جلاله رسول الله صلی الله علیه وسلم او اسلام دښمن وی نو زما او ستا هیڅکله دوست نشی کیدای څنګه به کفار زمونږ دوستان شی پداسی حال کی چه زمونږ عزت او آبرو چه اسلامی خلافت دی راته ختم او له مینځه یوړ او په دنیا کی د دوی له لاسه مونږ ذلیل او خواریو او هم په ټوله نړی کی مسلمان د ظلم د مشق تخته ده.

• .... متفق علیه حدیث

که ټول جهان ته نظـــر وکړی د مؤمن کور خو ورانيږی .
که ټول جهان ته نظـــر وکړی د مؤمن کور خو سوځيږی .
که ټول جهان ته نظـــــر وکړی مؤمنان قتل عام کيږی .
که ټول جهان ته نظـــــر وکړی مؤمنان خوايری کيږی .

وګوری په الجزاير کی اسلامی نهضت په انتخاباتو کی ۸۸ فيصدی رائی تر لاسه کړی مګر د دنيا يهودانو او نصرانيانو خپل دوستان وهڅول او حکومت ئی اسلامی نهضت ته ورنکړ بلکی د اسلامی نهضت سازمان چه په جبهه نجات اسلامی باندی مسمی دی غير رسمی اعلان کړ او د دی نهضت ډير ستر ستر شخصيتونه لکه عباس مدنی او علی با الحاج ئی هم زندانی کړل او په زرګونو نور مسلمانان چه د دی نهضت غړی دی په زندان کی واچول او ځينی نور ئی په دار وځړول خو الحمدلله اسلامی غورزنګ په الجزاير کی خپل اوج ته رسيدلی دی ، په مصر کی مسلمانان را پاڅيدلی دی خو ورشره د مسلمانانو اعدامول هم جريان لری ، راشی نظر وکړی په بوسنيا کی په مسلمانانو باندی د کفارو له طرفه څه ظلم او وحشت روان دی ، دا پنځوس کاله په فلسطين کی د اسرائيلو له طرفه په مسلمانانو څه نوع ظلمونه کيږی ، بابرئ جماعت د بت پرستانو له طرفه ولی ورانيږی ، د آمو درياب کی د تاجکستان مؤمنان ولی غرقيږی پدی قسم ډيری نوری مسئلی هم د مسلمانانو په سر باندی جريان لری .

دوهم هدف

د خپل کهول (فامیل) اصلاح :

د یوی اسلامی کورنی په جوړولو کی به چه په اسلامی تعلیماتو او اخلاقو سمبال وی تلاش او کوښښ کوی او داسی زمینه به برابروی چه د ده د کورنی ټول غړی د ده د مفکوری او عقیدی درناوی او احترام وکړی دی باید دا زیار وباسی چه کورنی ئی په اسلامی آدابو او اخلاقو سره جوړه شی او باید له دینداری مسلمانی ښځی سره د خپلی زندگی چاری مخکی بوځی (نکاح وکړی) او بیا د هغی حقوق او وجائب په بشپړه توگه اداء کړی خپل اولاد او ماشومان دسم وروزی او د هغوی پالنه دی د اسلامی تربیی په اصولو سره عیاره کړی .

دریم هدف

د ټولنې اصلاح

د خپلې ټولنې د لارښوونې او اصلاح لپاره به کوښښ کوی او د خلکو په مینځ کی به خپل حق دعوت خپروی له مفاسدو او بدو چارو سره به مبارزه کوی او د ښو کارونو په خپرولو کی به تلاش کوی او ښو کارونو ته به خلك رابولی او په نیکو اعمالو کی به سیالی او مسابقه کوی او د اسلامی ایدیالوژی او مفکوری لپاره به د خلکو ملاتړ تر لاسه کوی او د اسلامی تعالیمو د عملی کولو په لاره کی به زیار باسی

كُنْتُمْ خَيْرَاُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَ تَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ ٥

(اوس په نړۍ کی هغه غوره او بهتره ډله تاسی یاست چی د انسانانو د لارښوونی او اصلاح له پاره مینځ ته راوړل شویده تاسی د نیکی امر کوی او منعه کوی له بدی څخه او پر الله ایمان لری) .

الف : اسلامی ټولګی ته اړتیا

پر مونږ باندی د خلکو اصلاح ضروری ده مګر دا اصلاح یواځی یو فرد نشی کولی دا یو منظم جماعت ته اړه لری نو ځکه الله جل جلاله پر مونږ د یوه اسلامی جماعت د جوړولو امر کړی او فرمایلی ئی دی :

وَلْتَكُنْ مِّنْكُمْ اُمَّةٌ يَّدْعُوْنَ اِلَى الْخَيْرِ وَ يَأْمُرُوْنَ

---

0 .... د آل عمران سورة ۱۱۰ ایت

بِالْمَعْرُوْفِ وَ يَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَ أُوْلَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ 1 .

(په تاسی کی باید څه خلك اورمرو داسی وی چی د نیکی لوری ته بلنه وکړی په ښو امر وکړی او له بدو منع وکړی کوم خلك چی دا کار وکړی همغوی به بریالی شی) .

نو کله چه پر مونږ باندی د یوه جماعت جوړول فرض دی نو پلا هغه جماعت کی داخلیدل هم لازم او ضروری دی پدی هکله رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی :

تَلْزَمُ جَمَاعَــــــةَ الْمُسْلِمِيْنَ وَ إِمَامَهُمْ .... الحديث

(لازم ده په تا باندی چه پابندی وکړی د مسلمانانو د جماعت او د امیر ئی یعنی د مسلمانانو له یلی سره اوسه او د هغوی د امام اطاعت وکړه) .

یعنی بی له اسلامی سازمان او تنظیم څخه ژوند کول شرعاً جواز نلری ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی یو مسلمان چه په اسلامی سازمان کی شامل نه وی دی ډیر زر د دښمن ښکار کیږی په مثل د هغه څاروی دی چه له خپلی رمی څخه جلا شوی وی نو پدی وخت کی د لیوه ډیر ښه ښکار گرځی ، که یو مسلمان په یوه اسلامی نهضت کی شامل نوی د نرۀ نور انسی شیطانان ئی په رنگ رنگ دسیسو ښکار کولای شی نو ځکه پر مونږ باندی دا لازم ده چه په یوه اسلامی جماعت کی ژوند وکړو پدی باره کی حضرت محمد صلی الله علیه وسلم فرمائی :

يَدُاللّٰهِ مَعَ الْجَمَاعَةِ وَ مَنْ شَذَّ شُذَّ فِى النَّارِ .. الحديث

(لاس د خدای یعنی کمك د خدای جل جلاله له اسلامی جماعت

---

1 .... د آل عمران سورة ١٠٤ ایت

سره دی هر هغه څوك چه له اسلامی جماعت څخه یوازی شی دی به یوازی وی په اور کی .

مرسته د خدای جل جلاله څکه له اسلامی ټولگی سره ده چه اسلامی جماعت د الله د کتاب او نبوی سنتو حکومت راولی او هر هغه څوك چه منحرف شی له اسلامی ټولگی څخه نو ځای ئی اور دی چه دی به پرته له اسلامی ډلی څخه حتماً په دام او جال د کفارو کی نښلی .

شلورم هدف

د وطن نجات

هر مسلمان مجاهد دا وظیفه لری چه د پردیو له نفوذ او تسلط څخه د خپل هیواد د خلاصون لپاره زیار او کوښښ وکړی دغه تسلط که سیاسی وی او که نظامی که اقتصادی وی او که ایدیالوژیکی (مفکور وی) وی .

مونږ آزاد اسلامی افغانستان جز د عالم اسلام غواړو مونږ نه غواړو چی د خپلو ګاونډیانو یا کوم بل هیواد کومه صوبه یا ولایت واوسو بلکی مونږ د عالم اسلام او د اسلامی خلافت یو جز ځان بولو .

(آزاد اسلامی افغانستان جز د عالم اسلام غواړو ، مونږ غلامان نه یو مونږ اجیران نه یو) .

پنځم هدف

د حکومت اصلاح

د حکومت د سمون او اصلاح لپاره پکار دی چه مبارزه پیل شی تر څو دیوه ریښتینی او حقیقی اسلامی حکومت بنه غوره کړی .

حکومت ته پکار دی چی د خلکو خدمت گار اوسی او داسی چاری سرته ورسوی چی د خلکو گټی او اصلاح پکی تأمین وی یو حکومت هغه وخت اسلامی بڼه غوره کولی شی چی د هغه غړی مسلمانان وی او هغوی خپل اسلامی مکلفیتونه او فرائیض سرته ورسوی او له اسلامی احکامو څخه سرغړونه ونکړی .

دا باید هیر نکړو چی که چیری اسلامی حکومت د خپلو اهدافو د پرمختك او انسجام له پاره غیر مسلمانو متخصصینو ته اړتیا پیدا کړی لکه ډاکتر یا انجنیر نو کولای شی چی هغه پر داسی چارو مقرر کړی چی د عمومی واکدار او آمر حیثیت و نه لری یعنی لاس لاندی و اوسی آمرونه اوسی بلکی مامور واوسی نو د دغو شرایطو په مراعاتولو سره په اسلامی حکومت کی د لادینو عناصرو استخدامول او مقررول روا دی ، اسلامی حکومت هغه حکومت ته وائی چی کوم کافر نظامی ، سیاسی او اجتماعی صلاحیت و نلری او نه کوم کافر امر یا رئیس وی یا په ټانک او وسله سمبال وی .

د یو اسلامی حکومت له ځانگړتیاو څخه یو ځانگړتیا دا ده چی د خپل ولس له حالاتو څخه به خبردار وی او د هغوی په وړاندی به د خپل مسئولیت احساس کوی ، پر خلکو به زړه سواند او مهربان وی د هغوی په مینځ کی به په عدالت او انصاف سره چلن کوی عامه اموال به

بی ځایه نه تلف کوی خپله بودیجه به سمه تنظیموی ، امنیت به قایموی ، قوانین د قرآن به جاری او نافذوی ، پوهه او علم به عاموی ، خپل دفاعی ځواك (قدرت) به پیاوړی او قوی کوی ، صحی امورو ته به عمومیت ورکوی ټولنیزی گټی یعنی د ټول ملت گټی به په سمه توگه ساتی ، ملی سرمایه او شتمنی به پیاوړی او قوی کوی ، د خلکو دارائی او شتمنی به حفظ کوی (د خلکو د مال او ناموس څخه به دفاع کوی او د لوټمارانو مخه به نیسی) ، اخلاقی فضایل به پیاوړی او قوی کوی ، او د اسلامی دعوت په خپرولو کی به زیار باسی ، کله چی حکومت خپل دغه مسئولیتونه تر سره ورسوی نو پر مسلمانانو باندی دا حق لری چی په ټول ځواك له هغه سره مرستی او همکاری ته تیار شی او په خپل سر او مال سره له هغه څخه دفاع وکړی او کله چی د حکومت واکمنان په خپلو دندو کی غفلت او بی پروائی وکړی نو لوړمړی باید هغه ته نصیحت وشی او خپلو نیمگړتیاوو ته ئی متوجه کړی که چیری دی کار گټه و نکړه خپلی بی پروائی او غفلت ته ئی ادامه ورکړه نو پدی صورت کی باید د هغوی په وړاندی پاڅون وکړای شی دا ځکه چی د الله جل جلاله له آوامرو څخه د نافرمانی په صورت کی د هیچا اطاعت هم روا ندی .

شپږم هدف

د اسلامی ځمکو او سیمو آزادول

د اسلامی محکومو سیمو او ځمکو د آزادولو په لاره کی هلی ځلی او زیار ایستل د مسلمانانو د هیر کړای شوی عظمت او عزت بیرته را ژوندی کول او نوی کول د اسلامی ثقافت او فرهنګ را ژوندی کول او انسجام ، د اسلامی خلافت او حکومت د بیا مینځ ته راوړلو په خاطر د اسلامی ولسونو او ملکونو د ځانګړی (مستقل) سیاست د موجودیت او د مسلمانانو یووالی او په خپل مینځ کی سره یو موټی کیدل د هر مسلمان مجاهد له خورا سترو هیلو او ارمانونو څخه دی ، چی په دی لاره کی به له هیڅ ډول قربانی ورکولو څخه ډډه نه کوی .

الف : نشنلیزم د خدای جل جلاله او اسلام په نزد مردوددی .

د پاکستان یو پیاوړی انقلابی شاعـــــــــــر عـلامه اقبال رحمة الله علیه فرمایلی دی : هر ملك ملك ماست که ملك خدای ماست

مطلب دا دی چی مونږ دا جغرافیائی سرحدات او پولی سره نه شی جلا کولای ځکه که دا پولی او سرحدات مونږ مسلمانان سره جلا کړی نو اسلامی نړی به په ټوله دنیا کی ټکړی ټکړی وی لکه چی اوس زمونږ تر سترګو کیږی ، هر هغه څوك چی په نامه د هیواد ، قوم ، ژبی او نژاد مسلمانان سره جلا کوی دا کس ولوکه ځان ته مسلمان هم ووائی خو مسلمان ندی ، په اسلام کی نشنلیزم (وطن ، قوم ، نژاد ، لسان پرستی) مردود دی الله جل جلاله پدی مبارك اية شریف کی نشنلیزم پدی ډول غندی :

يَاَيُّهَا النَّاسُ اِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِّنْ ذَكَرٍ وَّ اُنْثٰى وَ جَعَلْنَاكُمْ شُعُوْبًا وَ قَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوْا اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَاللّٰهِ اَتْقَاكُمْ 1

(ای خلکو ! مونږ تاسی له یوه نارینه « آدم علیه السلام » او یوی ښځی « بی بی حوا » نه پیدا کړی او بیا مو تاسی قومونه او قبیلی وګرځولی تر څو چی تاسی یو تر بله سره وپیژنی په حقیقت کی د الله تعالی په نزد له تاسی نه تر ټولو زیات عزت مند هغه څوك دی چی په تاسی کی تر ټولو زیات پرهیزګار وی) .

نو په اسلام کی یو قوم پر بل قوم فضیلت او برتری نلری نه تور په سپین برتری لری نه پښتون په فارسی زبان نه ازبك په بلوچ او نه ترکمن په هزاره برتری لری بلکی خدای جل جلاله ته هغه څوك محبوب دی چی د خدای جل جلاله څخه ویریږی او د هغه مطیع بنده واوسی نه افغانی په پاکستانی برتری لری نه پاکستانی په ایرانی نه مصری په الجزایری نه عرب په عجم برتری لری که برتری لری د خدای جل جلاله په نزد نو په اساس د تقوی او پرهیزګاری به ئی لری ، نو دا دی دښمنانو دسیسی دی چی مونږ ئی د وطنداری او قومیت په نامه سره په اختلاف کی اخته کړی یو ، ملحدان او غرب ګرایان په نامه د قوم او ژبی ځینی نافهمه خلك تیر باسی په داسی حال کی چی په اسلام کی قومی او لسانی ملتونه وجود نلری اصلا د ټولی نړی مسلمانان یو ملت دی یعنی امت مسلمهٔ دی .

ځینی کفری ولی د خپلی نشنلستی مبارزی رنګ اسلامی ګرځوی او وائی : حب الوطن من الایمان (له وطن سره مینه لرل د ایمان جز دی نشنلستان پورتنی معقولی ته د حدیث شریف نسبت کوی حال دا چی

---

1 .... د الحجرات سورة ۱۳ ایت

ملاّ علی قاری ستر حنفی محدث په الموضوعات الصغری نومی کتاب کی د دی حدیث په باب ویلی دی : لا اصل له عند الحفاظ (دا حدیث د احادیثو د حافظانو په نزد اصل نلری) .

محدثین وائی :

هذا الحدیث لا اصل له ، یا لا اصل له بهذا اللفظ : یا لیس له اصل (دا حدیث « راوی » او « اسناد » نلری) نو څکه کوم ارزښت نه لری او نه ورته پاملرنه پکار ده ، دا یو په دروغو جوړ شوی حدیث دی او په دروغو په حضرت رسول کریم صلی الله علیه وسلم پوری منسوب شوی دی .

صحیح ده چی یوه ورځ یوه شاعر په مدینه منوره کی په خپل شعر کی مکه معظمه یادوله رسول الله صلی الله علیه وسلم ته مکه ورپه یاده شوه زړه ئی درد وکړ او له سترګو څخه ئی اوښکی راغلی شاعر ته ئی خطاب وکړ شعر د بند کړه ، دا ژړا خو پدی دلالت نه کوی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم دی نشنلست وی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم که د نشنلیزم د تقوئی پخاطر ژړلی نو د مکی اوسیدونکو ته به ئی د مدینی په اوسیدونکو ترجیح او برتری ورکړی وه که چیرته حب او محبت د وطن جز د ایمان وائی نو ولی ئی مکه ترک کړه او مدینی ته ئی هجرت وکاوه بیا ئی ولی وروسته له فتحی د مکی څخه په مدینه کی ژوند کول اختیار کړل چی په مدینه منوری کی ئی د دی فانی نړۍ څخه رحلت وکړ ، که چیرته رسول صلی الله علیه وسلم نشنلست وائی نو ولی ئی تره ابو لهب ورسره دښمنی کوله که رسول الله صلی الله علیه وسلم نشنلیزم تقویه کولی نو بیا ولی ئی خپل قومی ابوسفیان ورسره په دښمنی لاس پوری کړ ، معلومه شوه چی محبت د وطن جز د ایمان ندی بلکی محبت د خدای جل جلاله ، محبت د رسول الله صلی الله علیه

وسلم ، محبت د قرآنی کریم او محبت د اسلام جز د ایمان دی لکه چی رسول الله صلی الله علیه وسلم پدی حدیث شریف کی فرمایلی :

مَنْ أَحَبَّ لِلّٰهِ وَ ابْغَضَ لِلّٰهِ وَ أَعْطَی لِلّٰهِ وَ مَنَعَ لِلّٰهِ فَقَدِ اسْتَكْمَلَ الْاِيْمَانَ

(هر هغه څوك چی یوازی د الله جل جلاله د رضا لپاره له چا سره دوستی کوی او د الله تعالی د رضا لپاره له چا سره دښمنی ، بغض او کینه کوی او د خدای جل جلاله د رضا په خاطر چاته یو څه شی ورکوی او د الله جل جلاله د رضا لپاره چا ته څه شی نه ورکوی نو یقیناً ده خپل ایمان تکمیل کړ)[۱].

نو رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپل تره ابو لهب سره او له خپل قومی ابوسفیان سره دښمنی وکړه او له حضرت سلمان فارس رضی الله عنه او حضرت بلال حبشی رضی الله عنه او حضرت صهیب رومی رضی الله عنه سره ئی د خدای جل جلاله د رضا په خاطر دوستی او ورورولی وکړه پداسی حال کی چی حضرت سلمان فارس رضی الله عنه د ایران وه حضرت بلال رضی الله عنه غلام او تور پوستی د حبشی وه او حضرت صهیب رضی الله عنه د روم (ایتالیا) وه پداسی حال کی چی دوی ئی قومی هم نه وه خو د فکر ، ایدیالوژی او تئوری ملګری ئی وه ، په اسلام کی قوم ، ژبه او منطقه ارزش نلری بلکی اسلامیت ارزش لری که په اسلام کی منطقی ، قوم او وطن ارزش درلودلای نو کله چی د فارس امپراطوری چی کسری ئی مشر وه د حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه د خلافت په دوره کی فتحه شوه کله چی حضرت سلمان فارس رضی الـلـه عنه له نورو اصحابو رضوان الـلـه عنهم سره یو ځای

۱... د ترمذی په روایت

فارس ته چی اوس ورته د ایـران خطاب کیږی ورسیده اصحابو رضوان الـلـه عنهم ورسره ټوکه وکړه چی مونــږ فارس فتحه کړ ، د دی پخاطـر چی سلمان فارس رضی الـلـه عنه د همدی نوی فتحه کړی شوی وطن اوسیدونکی وه نو ورته په ډیره ښه لهجه ئی وویل : زه د فـارس زوی نه یـم بلکی زه د اســلام زوی یـم .

نو زمونــږ د افغانستان د اســلامی خــلافت د تحریك شــعار هـم دا دی :

یوازی افغانستان زمونږ وطن ندی ، بلکی ټوله نړۍ زمونږ وطن دی ، افغانستان زمونږ وړ کور دی عالم اسلام زمونږ لوی کور دی

د طورخم ، اسلام قلعه ، او د آمو سیند پولی مونږ له عالم اسلام څخه نشی جلا کولای مونږ مسلمانان یوازی له کفارو سره سرحدات لرو ، وروسته له دی مونږ مسلمانان دا کفار پدی دسیسو او چالونو چی په نامه د سرحداتو ئی وضع کړی دی نشی جلا کولی مسلمانان د یوه جسد حیثیت لری ، د یوه خدای بندگان دی ، د یوه رسول صلی الله علیه وسلم امتیان دی ، د یوه کتاب (قرآن) پیروان دی ، نو ولی په یوپنځوس هیوادونو باندی تقسیم شوی ولی مسلمانان په نړۍ کی سره متحد ندی ولی په ټوله نړۍ کی مسلمانان په جلا جلا شکل ټکول کیږی ، ولی مسلمانه په نړۍ کی ته خوار او ذلیل ئی ته خو الله جل جلاله ذلیل او خوار نه وی پیدا کړی د جهان امامت او رهبری خو خدای جل جلاله تاته درکړی وه آدم علیه السلام خو خدای جل جلاله اولین بار په دنیا کی خلیفه وگرځاوه ، الله تعالی ملائکو ته وویل :

إِنِّیْ جَاعِلٌ فِـــــــــی الْاَرْضِ خَلِیْفَةً

(زه په ځمکه کی د یو خلیفه پیدا کوونکی یم[۱]).

پس آدم علیه السلام خدای جل جلاله خلیفه وګرځاوه نو ته اوس ولی مسلمانه نه امامت لری ، نه خلافت لری او نه یو مرکز لری په تا باندی د غرب او شرق کفر او کمونیزم حکومت کوی که داسی ووایو چی مسلمانان په نړۍ کی اقلیت لری او کم دی نه داسی خو هم نده بلکی مسلمانان په ټوله نړۍ کی زرملیونه نفوس لری او لا له دینه به هم زیات وی ، بل هیڅ علت نشته مونږ سره حب د ژوند او محبت د دنیا پیدا شوی او ترس له مرګه ځکه مونږ دی ذلت ته راوستلی یو ، د دنیا په ګوټ ګوټ کی د مسلمانانو آبروتویږی د مسلمانانو ناموس بی عفت کیږی د مسلمانانو ماشومان د کفارو د برچو بازیچی ګرځی د مسلمانانو کورونه سوځول کیږی د مسلمانانو قافلی د هجرت منزلونه طی کوی ، بیا هم ځینی مسلمانان د غفلت په خوب ویده دی او غرب ته د محبت په نظر ګوری او امید ورته لری چی غرب به زما مشکلات را ته حل کړی ، پاځی مسلمانه ! د عزت پګړی دی بیا په سر باندی اوچته کړه ، د بی عزتی ژوند پریږده ، د غلامی ژوند پریږده ، د شغال او ګیدړ ژوند پریږده ، د زمری توب ژوند اختیار کړه ، سلطان محمودی غزنوی ، صلاح الدین ایوبی او احمد شاه ابدالی د ځان وګرځوه ، مسلمانه نن په نړۍ کی ذلیل ترین امت په سر د ځمکی ته ئی ، بیا هم خوشحاله ئی او د غرب ویدو او تلویزونو ته خپلی پاکی بیبیانی کښینوی او خپل ماشومان د غرب او کفارو په فرهنګ روزی ، عجیبه قیصه ده په نړۍ کی خوار هم اوسه ، ذلیل هم اوسې ، بی عزت او بی

۱... د البقره سورة ۳۰ اية

آبرو هم اوسه ، بی عفت او بی قدرت هم اوسه ، خو بیا هم خوشحاله ئی لدی ژوند څخه دی مرګ ډیر بهتر دی د ځوانمردی یوه ورځ ژوند د بی همتی د زرکاله له ژوند څخه ښه دی ، بیا هم درته وایم چی ځان دی شیر وګرځوه د حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه تاریخ وګوره ، مسلمان باید شیر صفته واوسی چی باقی مانده غذائی پست او چاپړوسان خوری نه چی په خپله مسلمانه پست او چاپړوس وګرځی او د زمریانو پاتی شوونی وخوری ، نن خو زه بعضی غرب ګرایان افغانان وینم چی په پاکستان کی ئی د عزت ژوند درلوده خو اوس د غرب په هوټلونو کی د خپلو بادارانو قاپونه مینځی ، د آغاتوب ژوند ئی خوشی کړ د غلامی ژوند ئی اختیار کړ ، د داسی خلکو د باداری ژوند نه خوښیږی ځکه فطرتا پست او بی غیرت روزل شوی وی نو ځکه مونږ کومه ګیله تری نه کوو ، اصلا داسی کسان د غلامی او مزدوری له ژوند څخه لذت وړی یو متل دی چی وائی : پهلوان زنده خوش است

پر مونږ مسلمانانو باندی همدغه قیصه شویده په دنیا کی خوار هم یو ، ذلیل هم یو ، عزت او پت مو نشته خو بیا هم خوشحاله یو او بی غمه ګرځو ، که ته د عالم اسلام له حال څخه خبرونه لری نو فکر به وکړی چی حتماً د حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه د خلافت دوره ده ځکه دا خلك د بی مسئولیت توب احساس کوی ځکه حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه ژوندی دی نو څه احساس د مسئولیت وکړی او که ته خبر شی چی نه د حضرت عمر رضی الله عنه دوره ختمه شوی اوس په مؤمن باندی دغلامی دوره راغلی ، اوس په نړۍ کی نه خلافت شته او نه د مسلمانانو امیرالمؤمنین موجود دی ، مسلمانان په ټوله نړۍ کی په سرو لمبو کی سوځول کیږی او د مسلمانانو آبرو او عفت توییږی نو ته به دومره وژاړی او خدای جل جلاله ته به فریاد وکړی

چی ای الله د مسلمانانو عزت چیرته لاړه او د مسلمانانو قوت ولی ختم شو ، مسلمانان دی ولی ذلیل او خوار کړل ، خدای جل جلاله به په ځواب کی درته ووائی چی مسلمانان ځکه بی عزته او بی عفته شوی چی محبت د دنیا ، حب د ژوند ، ترس له مرګه ځخه او نفاق پردوی غلبه کړی ، نو ولی به په نړی کی ذلیل او خوار و نه اوسی ، د حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه په دوره کی خو حب د دنیا ، حب د ژوندانه ، ویره له مرګه او اختلاف نه وو ، نو ځکه ژوند ئی د زمریانو او شیرانو وو او ټولی نړۍ د مسلمانانو تر بیرغ لاندی ژوند تیراوو .

اسلام د نشنلیزم ډیر سخت دښمن دی ، هر هغه ځوك چی په نامه د قومیت ، وطنداری ، هم لسانی ، هم نژادی د مسلمانانو په مینځ کی اختلاف پیدا کوی همدا شخص نشنلست دی ، خدای جل جلاله نشنلیزم پدی ډول غندی ، کله چی د نوح علیه السلام کشتی د اوبو په سر باندی ودریده او اوبه په حکم دخدای تعالی سره له آسمان ځخه جاری شوی او له ځمکی راوختلی ټوله نړۍ اوبو ونیوله پدی وقت کی د نوح علیه السلام زوی کنعان او ښځه ئی کافران وو .

وَ نَادٰی نُوحٌ رَّبَّهٗ فَقَالَ رَبِّ اِنَّ ابْنِیْ مِنْ اَهْلِیْ(۱).

(نوح علیه السلام خپل رب ته غږ وکړ ویی ویل ، ای زما ربه ، زما زوی زما له کورنی ځخه دی).

کله چی دنیا اوبو ونیوله نوح علیه السلام مسلمانان کشتی ته پورته کړل خپل زوی کنعان ته ئی هم آواز وکړ چی راوخیجه خدای جل جلاله په ځواب کی ورته وویل :

---

۱ .... د هود سورة ٤٥ ایت

يَا نُوحُ إِنَّهُ لَيْسَ مِنْ أَهْلِكَ إِنَّهُ عَمَلٌ غَيْرُ صَالِحٍ

(ای نوح علیه السلام ، هغه ستا له کورنی څخه ندی ، هغه خویو فاسد عمل دی[۱]) .

یوه پلار ته دا ویل چی دا زوی ستا له کورنی څخه ندی څکه چی د اخلاقو او عمل په لحاظ سره فاسد شوی نور څه مطلب نلری بلکی د دی مطلب یوازی دادی چی دغه فاسد شوی انسان ستا د صالحی کورنی غړی ندی ، که هغه ستا د نسبی کورنی یو غړوی خو وی به مگر ستا د اخلاقی کورنی له هغه سره څه خپلوی نشته ، کله چی د نوح علیه السلام په نزد د خدای جل جلاله کومه فیصله وشوه ، هغه د نژادی یاملی شخړی فیصله نه وه چی یوه نسل ته نجات ورکړ شی او بل نسل له مینځه یوورل شی ، بلکی دا د کفر او ایمان د شخړی فیصله وه ، چی پداسی فیصلو سره صالحان وژغورل شی او فاسدان له مینځه یوړل شی تاسی که دی خبری ته ځیر شی چی په اسلامی نړۍ کی کفار همیشه نشنلیزم ته لمن وهی ځوك په نوم د قوم پرستی تحریك کوی ، ځوك په نوم د نژاد او رنګ تحریك کوی ، ځوك په نامه د اقلیتونو او ځوك په نامه د ژبی او وطن تحریك کوی ، نن تاسی په افغانستان کی وګوری په نامه د قومونو شوراګانی جوړیږی دا ټولی د کفارو د سیسی دی ځینی بی ثقافته او ناپوهه خلك په نامه د قومونو هڅوی ، او غواړی چی د اسلامی نظام مخه پری ونیسی .

ب ـ په نړۍ کی مسلمانان ولی د ویتو حق نلری :

دا چی اوس په ټوله نړی کی یوپنځوس اسلامی هیوادونه شته دا هیوادونه په بین المللی ډګر کی د ویتو حق نلری د ویتو او د فیصلو د

---

۱ ... د هود سورة ٤٦ ایت

ماتولو حق په تړوله نړۍ کی پنځه هیوادونه لری چی هغه ۱ ــ امریکا ۲ ــ روس ۳ ــ چین ٤ ــ فرانسه ٥ ــ برتانیا (انګلستان) دی ، ولی مسلمانان د ویتو حق نلری ځکه مسلمانان متفق او متحد ندی او یو مرکز او قوت نلری ځکه په کفارو باندی نه د دوی هیبت او پار شته نه ورته په ارزش او قیمت قایل دی ، نو مسلمانه اوس هم په اسلام منګولی مه لګوه حال به دی لدی ځخه هم خراب شی ، د پنځو بین المللی بادارانو د غلامی کړی به نوره هم دربانِدی زیقه او تنګه شی .

دا پنځه هیوادونه د نړۍ واکوال دی او ته مسلمانه ذلیل ، خوار ، غلام او مزدور اوسه ، مه قوت لره ، مه مرکز لره ، مه یو امام او قائد لره او نه اسلامی خلافت لره ، له داسی ژوند ځخه چی اوس ئی لرو مرګ ډیر تری ښه دی که ژوند وی نو د عزت ژوند دی وی ، د عفت او آبرو ژوند دی وی ، د قوت او هیبت ژوند دی وی نه د بی همتی ، بی عزتی او مظلومیت ژوند .

نو تاته وایم مسلمه راویښ شه ، بیا دی خپل قوت دنیا ته ښکاره کړه ، بیا دی په نړۍ باندی قرآن قانون وګرځوه ، بیا دی ظلم او استبداد مانۍ یو په بل پسی ړنګی کړه ، بیا د مظلومانو اوښکی پاکی کړه ، بیا د مستضعفو او مظلومو مسلمانانو د عزت پګړی ورپه سر کړه ، بیا د مظلومانو د زخم مرحم وګرځه ، بیا د مظلومانو امام او پیشوا وګرځه د مظلومانو او بی چاره وه خلکو آه او فریاد واروره .

مسلمانانو مه ناهیلی کیږی خدای جل جلاله تاسی ته زیری ورکوی او فرمائی :

وَ لَاتَهِنُوْا وَ لَاتَحْزَنُوْا وَ اَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ

(بی زړه کیږی مه ، اندیښمن کیږی مه ، همدا تاسی برلاسی یاست که تاسی مؤمنان اوسئ) .[۱]

---

۱ ... د آل عمران سورة ۱۳۹

نو مسلمانه اوس بیا په لټه شه چی خپل تللی عزت او عظمت چی په ټوله نړۍ کی اسلامی خلافت دی بیا را ژوندی کړی او ټول اسلامی هیوادونه سره متفق او متحد کړی نو ستا سستی او اندیښن کیدل د مسلمانانو د درد دارو نشی ګرځیدلای خو ستا بریالیتوب په مؤمن کیدلو پوری مربوط دی یعنی ځان په : ٱدْخُلُوا۟ فِى ٱلسِّلْمِ كَآفَّةً[۱] کی داخل کړه ، خدای جل جلاله پدی ایت شریف کی وائی داخل شی په اسلام کی پوره ، که ته واقعاً مؤمن شی نو حتماً کامیاب ئی د واقعاً مؤمن توب صفت دادی چی دوستی او دښمنی به دی د خدای جل جلاله د رضا لپاره وی هر هغه څوك چی ښه مسلمان دی ولوکه د هر هیواد اوسیدونکی وی ته به دوستی او محبت د خدای تعالی د رضا لپاره ورسره کوی او که یو شخص ستا له نزدی دوستانو څخه وی او دی کمونیست یا غرب ګرا یا فاسد او فاحش واوسی د خدای جل جلاله د رضا لپاره به ورسره دښمنی بغض او کینه ساتی ، بل د مؤمن توب صفت دادی چی د خدای تعالی په آوامرو به عمل کوی او له نواهیو څخه به ئی پرهیز کوی ، دا څو اوصاف د مؤمن توب مادرته یاد کړل که پردی عمل وکړی انشاء الله ته به بریالی ئی څکه خدای جل جلاله د خپلو دوستانو په حق کی فرمائی :

أَلَآ إِنَّ أَوْلِيَآءَ ٱللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ .

(واوری ! څوك چی د الله جل جلاله دوستان دی ایمان ئی راوړی دی ، د تقوی کړنلاره ئی غوره کړی ده پر هغو باندی کومه ویره او کړ او نشته[۲]) .

ای مسلمانه ! خدای جل جلاله وائی هیڅ ویره مسلمان لره نشته

۱... د البقره سورة : ۲۰۸ ایت
۲... د یونس سورة ٦۲ ایت

او نه به اندیښمن شی نو ته بیا ولی ویرېږی بیا یوازی له الله جل جلاله څخه وویرېږه له بنده څخه هیڅ مه یارېږه .

وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَ عَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ

(له الله جل جلاله نه په ویریدو کار کوونکی اوسی ، د ایمان خاوندان باید په الله جل جلاله باندی باوره وی[۱]) .

مؤمنه ته یوازی له هغه خدای تعالی څخه وېار شه چی د ټول جهان څښتن دی او د آسمانونو او ځمکی خزانی او پادشاهی د هغه په بلا کیف لاس کی دی د پادشاهانو تغیر او تبدیل ، انسانانو ته عزت او ذلت ورکول د هغه عزیز او با حکمت څښتن په اختیار کی دی نو بیا ته هیڅ وقت له کوم شخص یا کوم تنظیم یا کوم دولت یا کوم ځواك څخه مه ویرېږه ځکه دغه دنیائی قوتونه ټول د خدای تعالی په لاس کی دی اصلی څښتن اصلی بادار اصلی پادشاه خو یوازی خدای جل جلاله دی ځکه عزت او ذلت د هغه په اختیار کی دی په داسی حال کی چی د ځمکی او آسمانونو ټول قدرت له خدای جل جلاله سره دی بیا ته له بل هیڅ کوم شخص څخه مرسته او همکاری مه غواړه ټولی ستونزی دی خدای تعالی ته وراندی کړه هغه د ټولو مشکلاتو حل کوونکی دی ، ستا راز باید له الله جل جلاله سره وی د راحت او مشقت په وقت کی یوازی له هغه ذات څخه وویرېږه او یوازی له هغه مبارك ذات څخه مدد او مرسته وغواړه ، حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی :

---

۱. د المائده سورة : ۱۱ ایت

اَلدُّعَاءُ هُوَ الْعِبَادَةَ (دوعا خپله عبادت دی[١]) .

مؤمنه ته یوازی له الله جل جلاله څخه هر څه غواړه هر څه له هغه ذات سره دی ، دا غوښتنه پخپله له خدای تعالی څخه عبادت دی ځکه ته د جهان اصلی څښتن هغه مبارك ذات بولی ، پس په خدای جل جلاله باندی توکل وکړه ، یوازی د هیلو ځای د خدای تعالی دربار دی ، یوازی مرسته له هغه ذات څخه غواړه ، انسان سره هیڅ هم نشته ، انسان د خپل خیر او شر صلاحیت او واك هم نلری ، خپل ځان ته له مرگه څخه نجات هم نشی ورکولای ، نو بیا څنگه لدی ناقص انسان څخه مرسته غواړی ، نو بیا ولی له هغه اصلی مالك څخه مرسته نه غواړی او پر هغه توکل او تکیه نه کوی ، بیا ولی د هغه ذات نصرت او مرستی ته انتظار نه باسی ، بیا ولی خپله کامیابی او شکست یوازی په الله جل جلاله پوری نه منحصر کوی .

وَ مَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ فَإِنَّ اللّٰهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ

(په داسی حال کی چی څوك په الله جل جلاله باندی توکل وکړی نو په باوری ډول الله زیات برلاسی او حکمت والا دی[٢]) .

پس مؤمنه په دی حال کی چی خدای جل جلاله غالب او با حکمت دی یعنی د وخت او عصر مطابق عمل کوی ، بیا نو باید ستا د توکل امید او د موفقیت غوښتلو مرکز د خدای تعالی دربار وی ، نه د امریکا ، روس ، چین ، انگلستان او فرانسی یا نورو مرکزونه .

وَ لِلّٰهِ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَ مَا فِى الْاَرْضِ ط وَ كَانَ اللّٰهُ

---

١ ... الحدیث رواه الترمذی و هو صحیح .

٢ ... د الانفال سورة ٤٩ ایت

بِكُلِّ شَيْءٍ مُحِيطًا .

(په آسمانونو او ځمکه کې چې هر څه دي د الله دي او د الله علم له هرڅه نه چاپېر دی[۱]).

د ځمکې او آسمانونو پادشاهي هم له الله جل جلاله سره ده او هر څه چې په ځمکه او آسمانونو کې دي هغه هم خدای تعالی لره دي او خدای جل جلاله په هر شي باندې قدرت لري او قادر دی .

لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَ مَا فِيهِنَّ ۚ وَ هُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ

(د ځمکې ، آسمانونو او ټولو موجوداتو پاچاهي یوازې د الله ده او هغه پر هر څه قادر دی[۲]).

د نړۍ د پادشاهانو تغیر او تبدیل هم د خدای جل جلاله په ارادې پورې منحصر او تړلی دی چاته چې وغواړي پادشاهي ورکوي چاته ئې چې اراده وشي پادشاهي ترې اخلي .

قُلِ اللّٰهُمَّ مٰلِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَآءُ وَ تَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَآءُ

(ووایه د ملك مالكه ! ستا چې چاته خوښه شي حكومت وركوي او له چا نه چې وغواړي اخلي يې[۳]).

نو پادشاهي او قيادت وركول يو شخص ته د انسان كار ندى بلكې دا د الله جل جلاله په اراده باندې كيږي نو كله چې د پادشاهي وركول او بيرته ترې اخيستل د خداى تعالى تر امورو پورې مربوط دي

۱- . . . . د النساء سورة ۱۲۶ ايت
۲ . . . . د المائده سورة ۱۲۰ ايت
۳ . . . . د آل عمران سورة ۲۵ ايت

نو همدارنگه د انسان عزت او ذلت هم د خدای تعالی په لاس کی دی .

وَ تُعِزُّ مَنْ تَشَآءُ وَ تُذِلُّ مَنْ تَشَآءُ ط بِيَدِكَ الْخَيْرُ ط إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ

(چا ته چی دی خوښه شی ، عزت ورکوی او څوك چی وغواړی ، ذلیل کوی یی ښیګڼه ستا په واك کی ده ـ بیشکه ته په هر څه قادر یی [۱]).

د دی پخاطر چی د ټولو آسمانونو او ځمکی خزانی او د پادشاهانو تغیر او تبدیل ، د عزت او ذلت صلاحیت له خدای جل جلاله سره دی بیا پدی صورت کی ته مسلمانه له چا څخه مدد او مرسته غواړی .

قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ اسْتَعِينُوا بِاللَّهِ وَ اصْبِرُوا ج إِنَّ الْأَرْضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَنْ يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِ ط وَ الْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ

(موسی علیه السلام خپل قوم ته وویل ، له الله نه مرسته وغواړئ او زغم ولرئ ځمکه د الله ده له خپلو بندګانو څخه یی چی چاته خوښه شی د هغی وارث یی ګرځوی ، او وروستی کامیابی د همغو له پاره ده چی له هغه څخه په ویریدو کار کوی [۲]).

نو مسلمانه باید همیشه له خدای تعالی څخه مدد وغواړی او د مشکلاتو په وخت کی صبر او استقامت ولری ، ثابت قدم باید واوسی ثبات او پابندی باید ولری ، نه لکه د ډارن انسان په شان په یوه فشار او تهدید د کوم شخص ، تنظیم یا حکومت سره خپل د دعوت مبارزی او جهاد مسیر پریږدی او له میدان څخه په منډه منډه وتښتی دا د واقعی

---

۱ . . . . د آل عمران سورة ۲٦ ایت
۲ . . . . د الا عراب سورة ۱۲۸ ایت

مسلمان کړه وړه ندی بلکی دا دی بی همتو او بی ایمانو خلکو ستر عادت دی ، نو مسلمانه باید ثابت قدم ، حلیم او سرښندونکی واوسی لکه چی رحمن بابا په دی هکله ښه فرمایلی :

لکه ونه مستقیم په خپل مکان یم ، که خزان را باندی راشی که بهار

نو مسلمانه که ته چیرته ثابت قدم ، حلیم ، او سرښندونکی اوسی نو پوه شه انشاء الله چی بیا به د نړۍ امام وګرځی ، او تللی عزت د مسلمانانو به بیا را ژوندی کړی او که د بزدلانو خوی او عادت په ځان کی پیدا کړی قسم ده که په خپل کور کی د دی کفارو له دسیسو څخه هم خلاص شی .

خدای جل جلاله فرمائی چی دا ځمکه زما ده زه ئی په میراث هغه چاته ورکوم چی خوښه می شی له بندګانو خپلو څخه ، نو مسلمانه وروره بیا دی د ځمکی وارث ځان وګرځوه ، ځان کی دی د نیك او محسن بنده اوصاف پیدا کړه ، بیا به انشاء الله په ټوله نړۍ باندی حکومت وکړی :

وَ إِنَّ اللّٰهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِیْنَ (او په باوری ډول الله جل جلاله د نیکو کارانو ملګری دی[۱]) .

که مونږ واقعاً خپل ځانونه په اسلام کی په پوره ډول داخل کړو ، نو کولای شو چی هغه اسلامی ځمکی چی کفارو له مونږ څخه نیولی بیرته آزادی او لاس ته راوړو ، او دا زمونږ ډیر لوړ مسئولیت دی چی هغه اسلامی غصب شوی ځمکی باید آزادی کړو .

---

۱ ـ ـ ـ د العنکبوت سورة آیت ۶۹

اووم هدف

په ټوله نړۍ کی د اسلامی دعوت خپرول

هر مبارز مسلمان دا خپله دنده او وظیفه گڼی چی په ټوله نړۍ کی د اسلامی دعوت د خپرولو لپاره زیار او کوښښ وکړی او ټول بشریت د اسلام ارزښت ناکو تعلیماتو قبولو ته دعوت او رهبری کړی .

حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ وَ يَكُوْنَ الدِّيْنُ كُلُّهٗ لِلّٰهِ [1]

(تر دی چی د فساد ریښی غوڅی شی ، د فتنو او کفر لمن ټوله شی او یوازی د الله تعالی دین باقی پاتی شی).

رسول الله صلی الله علیه وسلم کله چی په پیغمبری مبعوث شو او د خدای تعالی دا لوی رسالت ورپه غاړه شو نو له پیله ئی په پټه دعوت شروع کړ تر څو چی دعوت ته ئی «۳۰» ډیرش کسانو لبیك وویل تر هغه وخته ئی د دعوت لړی مخفی وه بیا کله چی یو ټولگی ته ورسیدل نو الله تعالی ورته وویل دا بلنه دی اوس په ډاگه کړه خو تر دری کلونو پوری د پیغمبر صلی الله علیه وسلم دعوت سری او مخفی وه کله چی د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دعوت ظاهره شو په «۱۳» دیارلس کلونو کی ئی له «۲۵۰» تنو څخه تر « ۳۰۰ » تنو پوری وروزل ، نو مونږ هم باید په مبارزه کی ډیری تیزی منړی و نه وهو خپل قائد ته نظر وکړو ورو ورو ولاړ شو خو پاخه پاخه قدمونه کیږدو ورو تګ دی ته نه وائی چی ستا د دعوت کارونه به سست وی ورو تګ دی ته

---

[1] .... د الانفال سورة ۳۹ ایت

وائی که ته ورو ورو حرکت وکړی ته کولای شی په لاره کی دوست او دښمن تشخیص کړی ، ته کولای شی چی له تیږو او کندو څخه په موفقیت سره تیر شی او خپل ځان هدف ته ورسوی او نه به هیڅ وخت ستړی شی ، که ته بر عکس منډی ووهی حتماً به په لاره کی ستا پښی په تیږو لګیږی او په کندو کی ستا لویدل حتمی دی او ډیره کمه لاره وهلی شی هدف ته خو بلکل ستا رسیدل ناممکن دی پس له ډیری کمی منډی ستا دریدل حتمی او ضروری کار دی ، یو داعی باید په خپله مبارزه کی نه سست شی او نه غمګینه بلکی باید مدبر او باتدبیره و اوسی او خپل دعوت ته ادامه ورکړی ، که ستا دعوت ډیر تیز او په منډه کی وی هر ډول کسان ستا په صف کی ځای نیسی نو خپل صف تصفیه کولای نشی ، نو مونږ ته هم لازمه ده چی په شان د خپل مدبر نبی صلی الله علیه وسلم ځوانان او خویندی په سالمه اسلامی روحیه باندی تربیه کړو .

که مونږ واقعاً دپیغمبر صلی الله علیه وسلم په څیر ځوانان په سالمه اسلامی بڼه باندی وروزو هیڅ بعیده نده لکه چی پیغمبر صلی الله علیه وسلم د روم او فارس امپراطوری دړی وړی کړی مونږ هم انشاء الله د شلمی پیړی د شرق او غرب امپراطوری ختمولی شوو خو دا کار بعضی سست ایمانه مسلمانانو ته خوب او خیال ښکاری خو مسلمان مجاهد داعی ته هغه حقیقت ښکاری ، مونږ د عالمونو د پالونکی الله جل جلاله له رحمت څخه نامیده نه یو او د هغه په مرسته او نصرت ایمان او باور لرو او دا مو باور دی چی یوه ورځ به د امید دغه ستوری انشاء الله د مسلمانانو د هیلو په افق کی وځلیږی او دا کار الله تعالی ته ډیر آسان دی :

وَاللّٰهُ غَالِبٌ عَلَىٰٓ أَمْرِهِۦ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ

بسم الله الرحمن الرحيم

مقدمه (سریزه)

الحمدلله رب العالمین و العاقبة للمتقین و الصلوة و السلام علی سید الانبیاء و المرسلین و علی آله و أصحابه أجمعین.

اما بعد: له الله تعالی څخه زیات خوشحاله یم چی ماته ئی ددی رسالی د لیکلو توفیق راکړ زه دا رساله پداسی شیبو کی لیکم چی د نړئ په ګوټ ګوټ کی د مسلمانانو په کوروونو باندی اور بل دی او د مسلمانانو پرله پسی وژنی روانی دی ، د مسلمانانو قافلی د هجرت کولو منزلونه وهی ، او په ټوله نړئ کی مسلمانان نه یو مرکز لری او نه یو امام ، نن په ټوله نړئ کی مستضعف او کمزوری خلك مسلمانان دی ، پداسی حال کی چی د دنیا لوی شیطان او لوی امپریالیزم امریکا د ملل متحد تر بیرغ لاندی اسلامی هیوادونه یو په بل پسی تهدیدوی او له مینځه ئی وړی او امریکا ځان د ټولی نړئ بادار ګرځولی دی .

د افغانستان د اسلامی خلافت د تحریك هدف یوازی په افغانستان کی د اسلامی حکومت جوړول نه بلکی د دی تحریك لوړ هدف په ټوله نړئ کی د اسلامی خلافت بیا راژوندی کول دی ، تر څو د نړئ مسلمانانو ته یو مرکز پیدا شی او د کفارو له ظلم او استبداد څخه نجات پیدا کړی او بیا په ټوله نړئ کی د عزت پګړی په سر باندی اوږچته کړی .

ما خو دا رساله خاص د افغانستان د اسلامی خلافت د تحریك د غړو د تربیی او روزنی په خاطر لیکلی تر څو زمونږ غیور مجاهد ولس

النَّاسِ لَا يَعْلَمُوْنَ 1

(الله تعالى پر خپل کار باندی بشپړ بر لاسی دی مگر ډیر وگړی له حقیقت څخه بی خبره دی).

---

1 .... د یوسف سورة ۲۱ ایت

اتم هدف

په ټوله نړۍ کې د اسلامي خلافت بیا را ژوندي کول :

مؤمن که دي خبرې ته ځیر شي چې کله الله تعالی دا کائنات پیدا کړل او د انسانانو ژوند پکې پیل شو د دې ځمکې په سر باندي امام ، خلیفه او پیشوا د مسلمانانو څوك وه نو دې به بې له کوم درنګ څخه ووائي چې اولین خلیفه په سر د ځمکه کې آدم علیه اسلام وو ځکه الله تعالی فرمائلی دی :

وَ إِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّى جَاعِلٌ فِى ٱلْأَرْضِ خَلِيفَةً 1.

(بیا لږ شان هغه وخت په زړه کړه چې کله ستا رب پرښتو ته ویلی ؤ چې زه په ځمکه کې د یو خلیفه پیدا کوونکی یم).

نو مسلمانه په داسی حال کې چې د ځمکې د سر خلافت اولین بار ستا وه نو دا د ځمکې د سر خلافت ٦٩ کاله مخکې هم ستا وه خو په ١٩٢٤ میلادي کال کې ستا د عقیدې دښمنانو په ګډه ستا عزت او ستا آبرو ختم کړ او ستا د عزت او پت پګړې په خاورو او ایرو کې ولویدله یعنی عثماني خلافت په ١٩٢٤ میلادي کال کې د نړۍ په مخ په ترکیه کې له مینځه یوړل شو ، نو پس له همدې پیښې څخه په تا باندې دښمنان زرور شول ځکه ستا قوت او مرکزیت له مینځه ولاړ ، نو کفار ولی له تا څخه ډار او ویره وکړي ځکه اصلا ته بلکل قوت او ځواك نه

---

1 .... د البقره سورة ٣٠ ایت

لری د ځمکې په سر ستا هیڅ حکومت نشته که دا تش په نامه اسلامی حکومتونه وینی دا اسلامی حکومتونه ندی د غرب او شرق اجیر او مزدور حکومتونه دی نه ئی اعضاوه ته مونږ واقعی مسلمانان ویلی شو و ځکه هر څوك چی خپله فیصله په قرآن باندی ونکړی دوی کافران ، فاسقان او ظالمان دی نو د الله تعالی دی قول ته نظر وکړی :

وَ مَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ أَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ 1

(کوم خلك چی د الله جل جلاله د نازل کړی قانون سره سمی فیصلی ونکړی هماغوی کافران دی) .

هر هغه حکومت چی د قرآن او نبوی سنتو قانون پیاده نکړی او فیصلی ئی د قرآن او نبوی سنتو مطابق نه وی پس هغه حکومت غیر اسلامی حکومت دی ، که د دی حکومت رئیس جمهور ، وزیران او د شورا غړی مسلمانان هم وی د پورتنی اية شریف په اساس ورته اسلامی حکومت نه شو وویلی ، نو ویلی شو و چی فعلا په نړئ کی په نامه اسلامی حکومتونه موجود دی ، دا حکومتونه د عالم اسلام لپاره درد او تباهی ده ، د عالم اسلام دردونه نشي درمل کولای .

تاسی فکر وکړی کله چی د مسلمانانو مرکز او اسلامی خلافت له مینځه ولاړ له همدی وخت څخه را پدی خوا مسلمانان په نړئ کی خوار او ذلیل شول ، بی عزت او بی عفت شول ، د مسلمان کور وران شو د مسلمان کور اور واخیست مسلمانان تباه او برباد شول ځکه چی اسلامی خلافت ئی ړنګ شوی ، په بوسنیا هرزګونیا کی د مسلمانانو کورونه ، ښارونه او وطن ورانیږی ، ما یوه ورځ په خبرونو کی واوریدل هغه مجاهدین چی په جګړه کی ټپی شوی وی او د دوی زخمونه زیات نه

---

1 . . . . د المائده سورة ٤٤ ایت

وی نو بیا هم آرام نه کوی او بیرته د صر بی او کرواتی کفارو مقابلی ته وردانګی دا وه د بوسنیا هرزګوینا اوسینی حال ، نظر وکړی فلسطین ته دا پنځوس کاله کیږی اسرائیل مسلمانان وژنی او په زورئی زمونږ لومړی قبله بیت المقدس یا مسجد اقصی نیولی ده او د فلسطین مسلمانان په ټوله نړۍ کی د هجرت شپی او ورځی تیروی د فلسطین مجاهدین هم داسی پوره اسلحه نه لری په تیږو او ډبرو باندی جهاد کوی

وګوری د هندوستان د مسلمانانو حال ته د څو سوو کلونو جوړ شوی د مسلمانانو بابری مسجد د بت پرستو هندوانو له خوا ورانیږی او په زرګونو مسلمانان د دی توطئی ښکار ګرځی .

نظر وکړی کشمیر ته هندوانو په مسلمانانو باندی څه قتل عام شروع کړی ، نظر وکړی الجزایر ، مصر ، تونس ، ترکیه ، اردن ، تاجکستان او افغانستان ته ، مسلمانان په څه حال کی ژوند تیروی ، په الجزایر کی د اروپایانو له خوا چی د وخت نظام ئی په لاس کی دی د اسلامی تحریك کار کنان په دار کوی او د اسلامی تنظیم تحریکی بچیانو څخه زندانونه ډك دی او بل دا چی حکومت اعلان کړی هغه ښځی چی د اسلامی حجاب په لباس ملبس دی ګرفتاری دی شی او اسلامی حجاب ئی قانونی ملغی کړی خو الحمدلله اوس جهاد هم په الجزایر کی خپلی څپی وهی :

وګوری په مصر کی څه حال دی په مصر کی مسلمانان را پاڅیدلی انشاء الله ډیر زر به غربی حکومت په مصر کی ختم کړ شی او د قرآن حکومت به نافذ شی ، خو د شهید سید قطب رحمة الله علیه او استاد شهید عبدالقادر عوده رحمة الله علیه په شان تحریکی ځوانان اوس هم اعدام کیږی خو دا درته وایم چی مصر د شهید امام حسن البناء رحمة الله علیه د زیږیدلو ځای دی لکه چی افغانستان د روس ګورستان

وگرځید ، انشاء الله مصر به هم ډیر زر د شیطان امریکا قبرستان وگرځی .

په تونس ، اردن او ترکیه کی هم په مسلمانانو باندی ظلمونه او تیری جریان لری او د اسلامی تحریك بچیان په زندانونو کی د تورو تمبو تر شا شپی او ورځی تیروی .

په تاجکستان کی څه تیریږی ؟ مسلمانانو او غرب گرایانو یو ائتلافی حکومت جوړ کړ خو ډیر زر دا حکومت بیرته ړنګ او سابقه کمونستانو قدرت په لاس کی ونیو او مسلمانان د کمونیزم د ظلم او تیری له سبب افغانستان ته د آمو د دریاب له لاری څخه تیر وتل او هجرت ئی وکړ ، ډیر زیات شمیر ماشومان ، ښځی ، بوډاگان او ځوانان د اسلام د بیا ژوندی کولو په ارمان د ماهیانو خوراك وگرځیدل ، دا اوس الحمدلله په تاجکستان کی اسلامی جهاد خپل طوفانی منزل وهی او انشاء الله ډیر زر به اسلامی حکومت په تاجکستان کی قایم شی او د اویا « ۷۰ » کالو د ظلم او استبداد په زخمونو به د مرحمو پټی کیښودل شی ، زمونږ د تحریك خلافت اسلامی افغانستان شعار د تاجکستان په حصه کی دادی :

افغانســتان مــو فتحه کــړی خــو مســکو تــه روان
مونږ به خو جوړ تاجکستان کی اسلامی نظام کړو

بعضی ورونو ته به سوال پیدا شی چی افغانستان مو څنگه فتحه کړی ؟

مونږ په خواب کی ورته وایو چی د جهاد په برکت مو روس ټوټی ټوټی کړ او له افغانستان څخه شرمنده او خجالت وتښتید دا چی زمونږ مشرانو کمونستانو ته نامشروع عفو وکړه او بیرته ئی په ملت حاکمان کړل ، نو دا د څو تنو عمل خو د افغان قهرمان باغیوره مجاهد

ولس په نافتحی باندی دلالت نه کوی ، فتحه مو کړی خو تصفیه مو پاتی ده .

الف ـ ملحدانو ته نامشروع عفو :

داعی راشه د افغانستان حال ته د نظر وکړه ، استاد غلام محمد نیازی صاحب ، استاد عبدالرحیم نیازی صاحب ، مولوی حبیب الرحمن صاحب ، اینجنیر حبیب الرحمن صاحب ، داکتر محمد عمر صاحب ، استاد سیف الدین نصرت یار صاحب ، استاد ربانی عطیش صاحب او پدی قسم نور تحریکی ورونه د قرآن د حاکمولو په خاطر شهیدان او تورو خاورو ته د اسلامی نظام د حاکمولو په آرمان ولاړل ، څوارلس کاله مو جهاد وکړ شل لکه مجاهدین مو تورو خاوروته ولاړل او د شهادت جامونه ئی وڅکل ؛ پنځه ملیون مؤمن افغانان مو د اسلامی نظام د جوړولو په خاطر مهاجر شول او د پاکستان او ایران په سوزانو دښتو کی ئی شپی او ورځی تیری کړی ، شل لکو مجاهدینو مو د الله تعالی د رضاء او د اسلامی نظام د استقرار لپاره خپل ګران اندامونه خدای جل جلاله ته نذرانه کړل ، د ملحد او بی دینه مزدور لا نجیب د رژیم ملی مصالحه مو و نه منله او په صراحت سره مو په کال ١٣٦٥ هجری شمسی د ژمی په موسم د پېښاور په ښار کی دا ووه تنظیمونو په ګډه جلسه کی د نجیب آشتی ملی رد کړه په دی هکله می د خپلو مشرانو تندی خبری لا تر اوسه په یاد دی ، خو مونږ د لا نجیب آشتی ملی په دی خاطر قبوله نکړه چی سیاسی قدرت به د لا نجیب په لاس کی وی که داسی نه وائی او سیاسی قدرت ئی هم مونږ ته راکولای نو دڅور د میاشتی تر پنځم تاریخه د کال ١٣٧١ هجری شمسی پوری مو انتظار نه شوای کولای ، مونږ هم ملی مصالحه غوښتله خو په بل رنګ په داسی ډول چی سیاسی قدرت به زمونږ وی ، مونږ ته اسلام کوم

جل جلاله فرمائي :

يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِى الْقَتْلٰى

(اى مؤمنانو ! ستاسى له پاره د قتل په دعواؤ كى د قصاص حكم ليكل شويدى[۱]) .

قصاص يعنى د خون بدل ، دا چى له يو انسان سره هغه څه وشى چه هغه له بل سره كړيدى خو د دى دا مطلب ندى چى خون كار چى مقتول په كوم ډول وژلى دى په هماغه شان دى دى هم ووژل شى ، بلكى صرف وژل مقصد دى چى هغه يى وژلى دى دى هم ووژل شى .

نو كله چى الله تعالى پر مونږ باندى انتقام او بدل په قتل كى فرض كړى چى خپل بدل واخلى نو څوك څه حق لرى چى زمونږ د شهيدانو او ټپيانو مجاهدينو وينى عفو كوى ، كه دوى ځانو ته دا حق وركوى دا د دوى حق ندى ، عفو ملحدانو ته د شهيدانو د وينو په بدل كى ده ، دا عفو د شهيدانو د وارثانو او د هغو مجاهدينو ثابت او مسلم حق دى چى خپل شيرين اندامونه ئى د اعلاء كلمة الله په خاطر قربانى كړى ، كه د جهاد مشران ځانونه د اسلام غمخوران گڼى نو لازمه ده چى لومړى دى ملحدان او كمونستان له هغو ټانگونو او توپونو څخه كوز كړى چى د شهيدانو د وينو په واسطه فتحه شوى بيا د ټول غير اسلامى غړى خلع سلاح او خلع قدرت كړى ، پس له هغه څخه د جهادى انقلابى محكمى په هرى ولسوالى او علاقدارى كى جوړى كړى او مطابق د شريعت د په سزا ورسول شى ، كه جهادى مشرانو دا كار وكړ انشاء الله په ډير كم وخت كى به يو سوچه او خالص اسلامى حكومت جوړ كړ شى او هيواد به له غلو او لاره وهونكو څخه خلاص

---

۱ . . . د البقره سورة : ۱۷۸ ايت

ارزش او قیمت نه درلود نه مو د شهیدانو پاکی وینی په یاد کی پاتی دی هغو کمونستانو ته مو عفو اعلان کړه چی افغانستان ئی تباه او له خاورو سره خاوری کړ ، نه مو د مجاهدینو تکلیفونه او کړ او نه په یاد دی ، زه به د مجاهدینو د اولو کلونو د جهاد د سترګو لیدلی حال درته بیان کړم ، د ۱۳۶۰ هجری شمسی کال د میزان په پنځمه د پغمان په ولسوالی باندی د روسانو سور پوځ راوخوت په اوله ورځ قهرمانو مجاهدینو سخت مقاومت وکړ خو کله چی ورځ په آخر شوه د زیاتو توپونو او بمبار د په واسطه څه مجاهدین الله ته وصل شول ، د خوراکی موادو او د جنګی مهماتو د قلت په اساس د مجاهدینو شورا له پغمان څخه د عقب نشینی قومانده ورکړه ، پغمان د شکردری د ولسوالی له خوا او د میدان د ولایت له خوا محاصره شوی او پوازی د هزاره جات خواته لیار چی د پغمان په غرب کی واقع ده د مجاهدینو په مخ خلاصه وه د لمر د غروب په وخت ټولو مجاهدینو د پغمان د درو په طرف د عقب نشینی په قصد مخه کړه کله چی مونږ د پشیوډری ته ورسیدلو د توپونو د اور لاندی واقع شوو کله چی شل متره حرکت وکړو توب مو په څنګ کی اصابت وکړی ، د پغمان غرونه ډیر جګ زما په نظر د دیوار حیثیت لری څه مجاهدین تر سحره د پغمان له غرو څخه واوښوتل او څه مجاهدین د غره په نیمائی کی پاتی شول پدی حال کی شپه خلاصه شوه نو په غوه باندی تګ د بمبار دله جهته ممکن نه وه پدی وخت کی دومره له لوګی سره مخامخ شوو د څو ورځو وچه ډوډی مو په اوبو کی لنده کوله او بیا مو خوړله ، بیا لاندی کلیوته به د شپی چریکی کوز شوو د اعاشی لپاره مو څه لاس ته راوړل دا عاشی لپاره چی کله په دوهمه شپه منطقی ته کوز شوو د منی موسم وه په یوه کور کی چی یو سپین ږیری سړی زمونږ د مجاهدینو د یوه قریب وه مونږ ته ئی د توتو یوه بوری په

مخ کی خالی کړه خدای جل جلاله د سپین ږیری ته خیر ورکړی زمونږ
جیبونه ئی له توتو ټخه را ډک کړل بیرته مو د پښه ائی غرو ته مخ کړه
پنځه ورځی په پغمان کی روسان پراته وه بیا بیرته پس له پنځو ورځو
کابل ته ولاړل دا پنځه ورځی زمونږ خوراك توت او وچه ډوډی وه ، کله
چی په کال ۱۳٦۱ هجری شمسی د ثور په میاشت کی مو له پېښاور
ځخه مخ په افغانستان حرکت وکړ کله چی پغمان ته ورسیدلو په دا ټول
کال کی داسی ورځ زما نه په یاد کیږی چی د پغمان په یوی نقطی به
بمبار د نه وی شوی ، په همدی کال د ۱۳٦۱ هجری شمسی د سرطان په
میاشت کی پغمان ته یوه عظیمه او لویه قوه د روسانو راغله د
مجاهدینو د سخت مقاومت سره مخامخ شوه زمونږ زیات مجاهدین
شهیدان شول دومره وخت مو پیدا نکړ چی خپل شهیدان خاورو ته
وسپارو شهیدان مو د غنمو په پټیو کی د شنو غنمو په مینځ کی د
مجاهدینو له خوا مخفی کړ شول او بعضی شهیدان مو په کوروکی د
وچو واښو په مینځ کی پټ کړل شول او پس له هغه ځخه د زنانه وه له
خوا دفن کړل شول ، زه په دری کاله مسلحانه جهاد کی په کال ۱۳٦۰
، ۱۳٦۱ ، ۱۳٦۲هـ ش . کی نهه واری د پاکستان اسلامی هیواد ته د
سلاح او مهماتو د نقلولو لپاره راغلی یم پدی نهه واره تګ را تګ کی می
په خپلو اوږو سلاح او مهمات د پکتیا ولایت په جګو جګو غرو د لوګر
ولایت په لویو لویو دښتو او د میدان ولایت په عظیمو عظیمو ځنګلو کی
په توره شپه په رڼو سترګو د قرآن د حاکمولو په خاطر نقل کړی ، که
زه د خپلو دری کلونو مسلحانه جهاد قیصی ——— چی د اسلامی
انقلاب په سر کی تیری شوی بیان کړم نو یوه مکمله رساله به تری
جوړه شی ، دا زما د سترګو لیدلی حال وه ، د افغان قهرمان باغیوره
مجاهد ولس د هر غړی تکلیفونه زما دا ځو قیصی په زیری کی هم نه

اخلی .

را به شم اصلی مطلب ته ائتلافی حکومتونه مو ردول خو مونږ ائتلافی نظام په خپله جوړ کړ .

لِمَ تَقُوْلُوْنَ مَا لَا تَفْعَلُوْنَ (ولی هغه څه وایئ چی کوئی یې نه)[1] .

حکومت لا څه کوی بلکی خپل اسلامی تنظیمونه مو هم ائتلافی کړل او له خپلو اسلامی احزابو څخه مو دا چارو مرتبانو نه جوړ کړل ، بیا هم فریاد کوو چی ای خدایه پر مونږ ورحمیږه بیا هم خجالت نه باسو د شل لکو شهیدانو څښتن ته فریاد کوو ، هغه څښتن به تا ته وائی ته لا تر اوسه ماته فریاد کوی تا زما له شهیدانو او اسلام سره څه وکړل د دوه ملیونو شهیدانو وینی دی ، د پاکستان له هندوانو څخه هم ازرانه خرڅی کړی .

وَ لَاتَشْتَرُوْا بِاٰيَاتِىْ ثَمَنًا قَلِيْلًا (او د لږی لږی بدلی اخیستلو په مقابل کی زما د ایتونو پلورل پریږدئ)[2] .

ای زما و رونو ! آیاتونه د الله جل جلاله او د الله د لاری د شهیدانو وینی مه خرڅوی په کمه متاع باندی یا په ږیره باندی ، د دی وینو په مقابل او عوض کی هیڅ ډول پیسو او دنیا ته ارزش او قیمت مه ورکوی .

نو زمونږ د جهاد مشرانو ټولو ملحدانو او د روسانو گوډاگیانو ته عفو وکړه پداسی حال کی چی دا عفو ناروا ده او د شهیدانو له وینو ، وران او تباه او له خاورو سره خاوری افغانستان سره جفا ده ، خدای

---

1 .... د صف سورة ٢ ایت
٢ .... د المائده سورة ٤٤ ایت

او په تیره بیا ځوان نسل په سالمه اسلامی روحیه باندی وروزل شی ، د یوه اسلامی نهضت بریالی توب په دوو مسئلو پوری تړلی دی :

١ ـــ ښه نظم

٢ ـــ د غړو ښه روزل .

ګرانو او محترمو لوستونکو د دی پخاطر چی فعلا زه طالب العلم یم او ما د جهاد په خاطر خپل تحصیلات په افغانستان کی شاته وغورځول او اوس ما د خپلو تحصیلاتو د بشپړولو پخاطر اقدام کړی ، که د دی رسالی په لیکلو کی له ما څخه څه شی زیات شوی یا کم شوی وی ، هیله مندیم چی سترګی پری پټی کړی ، ځکه یو خدای جل جلاله پوره ذات دی انسان حتمًا څه نواقص لری .

خدای تعالی ته عرض کوم تر څو د افغانستان د اسلامی خلافت تحریك د اسلامی خلافت د بیا ژوندی کولو وسیله وګرځوی ، او د استعمار او استبداد د ظلم او فساد مانۍ یو په بل پسی ونړوی ، او د اسلامی خلافت بیرغ په ټوله نړی باندی یو ځل بیا ورپوی ، تر څو د مظلومانو او مستضعفانو اوښکی پاکی کړی ، او د غریبانو او بی وزلانو آه او فریاد واوری .

و السلام علیکم ورحمة الله و برکاته

روح الله خلافت یار

د افغانستان د اسلامی خلافت د تحریك مسئول

شي او د چور او چپاول ورقه به د امنيت ، عدالت ، انصاف ، انسانيت او اسلاميت په ورقې بدله شي ، که جهادي مشرانو زما دا خبرې د کاغذ په سر ليکلې کړې وبوللي نو دا درته وايم چې د شهيدانو د انتقام جګړې به تر هغه وخته رواني وي تر څو د يوه شهيد د يوې قطرې وينې بدل هم پاتې نشي ، ځکه د شهداء وينې تيزاب دي هر هغه چاچې دا تيزاب څکلی حتماً به ئې معده شنيږي .

دا فعلي جګړې چې په کابل او ټول افغانستان کې رواني دي او دا يوتيم کال مجاهدينو سياسي قدرت نيولی او آرامي نه راځي ، دا زما په نظر د شهيدانو د وينو د ناروا عفوې انتقام دی چې د خدای جل جلاله له خوا پر افغانستان باندې راغلی دی ، يو بيت دی چې وائي :

که له چوپان څخه پاتې شي ، له څښتن څخه نه پاتې کيږي

دا دين د خدای جل جلاله دی خدای جل جلاله به له هر هغه چا څخه حساب واخلي چې د ده له دين سره ئې جفا کړې ، تاسې فکر وکړئ داؤد تړون د حفيظه الله امين په خاطر قرباني ورکړه او د حفيظه الله امين په خاطر د تره کې د مرميو سپر وګرځيد ، حفيظ الله امين د داؤد تړون انتقام پخپله له نورمحمد تره کي څخه واخيست او هغه ئې د بالښت په ذريعه قتل کړ پس له هغه څخه ئې د جلال آباد ښار په شهيد تړون ښار باندې مسمی او ياد کړ ، تاسې څه فکر کوئ چې د نړۍ څښتن خدای تعالی به د دې شهيدانو انتقام او بدل وانخلي ؟ حتماً او ضرور به ئې اخلي ځکه حفيظ الله امين يو ملحد شخص وه هغه چاچه د ده پخاطر قرباني ورکړې وه ده ئې انتقام واخيست ، نو هغه خدای جل جلاله چې د نړۍ واکوال دی څنګه به د شهداء په انتقام کې درنګ وکړي پداسې حال کې چې دا شهيدان د الله جلّ جلاله له پاره قرباني شوي .

که دوی وائی چی د مکی په فتحه کی هم عفو وشوه صحیح ده ستاسو په شان عفو نه وه چی کمونستان ئی په خپل وطن او حکومت باندی مسلط کړی وائی او هغوی په شکل د یوه قدرت او قوت بروزکړی وائی او بیرته ئی پدوی باندی ملنډی او استهزا گانی کولای ، د مکی په فتحه کی هغه « ۱۵ » پنځه لس کسان چی لکه زمونږ کمونستان شعوری او فکری د اسلام دښمنان وه عفو نه کړای شول بلکی ووژل شول ، علماؤ په اتفاق سره فتوی صادره کړی چی زندیق نه عفو کیږی ، دا افغانی بی دینان ټول زندیقان دی ، زندیق هغه چاته وائی چی خپل دین (اسلام) پریږدی او د خدای جل جلاله د وحدانیت څخه انکار وکړی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم کړو وړو ته بد ووائی او یا د گمراهی لپاره دعوت وچلوی ، دی افغانی کمونستانو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په شان کی هم بی عزتی کړی آیا د غدار او مزدور ظاهر شاه په دوره کی همدو کمونستانو په نامه د مرد(۹) نو زنه کاریکاتورونه نه وه ویستلی ، صحیح ده ویستلی ئی وه چی یو کس (۹) نهو ښځو په مخکی روان دی او یو هوټل ته ځی د هوټل څښتن ورته خطاب کوی (برای مرد نوزنه جای نیست) بل دا چی همدغو کمونستانو د بی دینی لپاره دعوت هم چلاوه که دوی د کفر او الحاد د دعوت کار او مسئولیت په غاړه نه وای اخیستلای نو په افغانستان کی به دومره کمونستان له کومه شوی وه ، نو دا ټول زندیقان دی د زندیق توبه نه قبلیږی ، نو زه جهادی مشرانو ته مشوره ورکوم چی تاسی دا دعفو فیصله لغوه کړی دا حق د عفوی د شهیدانو وارثانو او ټپیانو مجاهدینو ته ورکړی که دوی د خپلو وینو عفو وکړه نو مونږ ته هم منظوره ده ، بیا پدی صورت کی تاسی هم حق لری په شرط د دی که مو کوم شهید ورکړی وی یا مو د کوم قریب کوم اندام په جهاد کی الله ته نذرانه شوی وی ، د یوه کس

په مقابل کی يو تن عفو کړی نه چی په پټو سترګو د شهداء قاتلان عفو کړی .

وَلَكُمْ فِى الْقِصَاصِ حَيٰوةٌ يَّاُولِى الْاَلْبَابِ

هوښيارانو ! ستاسی له پاره په قصاص کی ژوند دی ، په کار ده چی له دی قانون نه سرو نه غړوئ (۱) .

دا د يوی بلی ناپوهی غندنه ده چی پرون هم د ډيرو خلکو په مغزو کی پرته وه او نن هم شته ، لکه څنګه چی ځينی ناپوهانو د غچ اخيستلو په برخه کی زياتوالی او افراط وکړ ، په همدی ډول ځينو نورو د ښښنی په برخه کی له ټيټ والی او تفريط نه کار واخيست او هغو د قصاص پر خلاف دومره پروپاګنډونه کړيدی چی ډير خلك قصاص ته د کرکی په نظر ګوری او د نړئ يو شمير هيوادونو قصاص بيخی پريښی دی ، قرآن مجيد له همدی امله هوشيارانو ته په خطاب کولو کی آګاهی ورکوی چی په قصاص کی د ټولنی ژوند دی ، کومه ټولنه چی د انسان د ژوند د احترام نه کوونکو ، د ژوند احترام کوی ، هغه په اصل کی په خپل لستوڼی کی مار ساتی ، تاسی د يو خونکار د ژغورنی له پاره د ډيرو بی ګناه انسانانو ژوند په خطر کی غورځوی .

اصلا په قصاص او بدل کی ژوند پدی معنی ده که کوم کس قتل وکړی او په عوض کی ئی قاتل قصاص شی بيا بل څوك د قتل کولو جرأت نشی پيدا کولای ، که يو کس غلا وکړی او لاس ئی قطع شی بيا نور خلك له غلا کولو څخه ډډه کوی ، نو حقيقت دی چی په قصاص کی ژوند دی د انسانانو له پاره ، خدای تعالی د همدی دوه آيتونو څخه بعد په قرآن کی فرمائی که عفو وکړی څه اجر به هم درکړم نو عفو

---

(۱) .... د البقره سورة ۱۷۹ ايت

الله تعالی پر مونږ لازم نکړه بلکی انتقام او قصاص ئی لازم کړ څکه په قصاص کی ژوند دی ، نو له همدی کبله د افغانستان د اسلامی خلافت تحریك د شهیدانو قاتلانو ته عفو په هر رنګ چی وی مر دوده ګڼی .

ب ـ د ځمکی په سر خلافت د مسلمان حق دی :

مسلمه ستا په جهان کی فعلا څه حال دی د نړئ په هر کوټ کی ته زپل کیږی نو ولی د خپل عزت د بیا راوستلو په خاطر د همت ملا نه تړی نو بیا ولی خپل مسلم او ثابت حق دی چی اسلامی خلافت دی بیا نه را ژوندی کوی .

وَ هُوَ الَّذِیْ جَعَلَكُمْ خَلٰٓئِفَ الْاَرْضِ

(هماغه ذات دی چی هغه تاسی د ځمکی خلیفه ګان وګرځولئ[1]) .

اصلا د نړئ امامت او مشری د مسلمان ده که چیرته دا مسلمان واقعا خپل اعمال اصلاح کړی او نیك نیك عملونه وکړی او ځان په اسلام کی پوره داخل کړی ، حتما به ئی خدای جل جلاله د ځمکی امام وګرځوی

وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَیَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِی الْاَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ

(الله له تاسی نه د هغو کسانو سره چی ایمان راوړی او ښه عملونه وکړی وعده کړی ده چی هغوی په ځمکه کی هماغه شان خلیفه ګان وګرځوی لکه چی له هغو نه مخکی تیر شوی خلك یی ګرځولی وو[2]) .

که چیرته مسلمانان خپل اعمال اصلاح کړی حتما د ځمکی امامت

---

۱ . . . د الانعام سورة ۱۶۵ ایت

۲ . . . د النور سورة ۵۵ ایت

الله جل جلاله ورسپاری ، خو د فعلا لپاره مونږ مسلمانان د نړئ د امامت په خاطر امادگی نلرو ځکه تر اوسه مو خام مواد تهیه کړی ندی ، د خام موادو د تهیه کیدلو لار داده چی باید خپل ځانونه په اسلام کی پوره داخل کړو تر څو خدای تعالی زمونږ تللی عزت چی اسلامی خلافت دی بیرته را ژوندی کړی او مونږ بیا په نړئ کی د عزت خاوندان شوو.

إِنَّ الْأَرْضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ

(ځمکه د الله ده ، له خپلو بندگانو څخه یی چی چاته خوښه شی د هغی وارث یی گرځوی[۱]).

کله چی ځمکه د خدای جل جلاله ده او خپلو بندگانو ته ئی په میراث ورکوی خو شرط لری ، شرط ئی دادی چی مصلح ، پرهیزگار ، مطیع او محسن بنده به وی

وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ (او په باوری ړول الله جل جلاله د نیکو کارانو ملگری دئ[۲]).

إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ (په تحقیق سره الله جل جلاله ظالمان له خپلی لارښوونی څخه بی برخی کوئ[۳]).

نو گوره وروره په لټه کی شه چی د ظالمانو ، فاسقانو او کافرانو په صف کی و نه دریږی ، که ته د خدای جل جلاله د دښمنانو په صف کی ودریږی ، الله تعالی به هدایت درته و نه کړی او لاره د خیر به در څخه ورکه کړی ، باید ځان د واقعی مؤمن جوړ کړی او د

۱... د الاعراف سورة ۱۲۸ ایت

۲... د العنکبوت سورة ٦۹ ایت

۳... د المائده سورة ٥۱ ایت

خیر او نیکیو په طرف د قدمونه پورته کړه ، د مظلومانو او مستضعفانو یار او ملګری وګرځه د کفارو ، منافقانو او ظالمانو بت شکن وګرځه ، د مظلومانو او یتیمانو اوښکی پاکی کړه ، د ظالمانو په سر باندی تندر وګرځه نو هغه وخت به د خدای جل جلاله خوښ شی او تاته به د ځمکی په سر باندی بیا خلافت درکړی او که ته خپل ځان واقعاً مؤمن نکړی ستا او د یوه کمونیست او غربی په کړو ورو او تهذیب کی څه توپیر له ورایه واضح او معلوم نشی نو پدی پوه شه چی نور به هم ذلیل ، خوار او مزدور شی او د قیامت تر ورځی به بیا د عزت په دروازه ورننه نه وځی ، کله به په کوم غربی ښار او کله به په کوم کمونیستی ښار کی د اسلام د دښمنانو خدمت ګار اوسی ۰

ج ـ د اسلامی خلافت تعریفونه د اسلامی سیاست پوهانو په اقوالو کی :

د دی پخاطر چی زما ډیر ترکیز په اسلامی خلافت باندی ځر خیږی نو لازم بولم چی د اسلامی خلافت په ارتباط د اسلامی سیاست پوهانو اقوال درته بیان کړم ۰

اسلامی سیاست پوهانو چی د خلافت یعنی اسلامی جهانی حکومت کوم اصطلاحی تعریفونه کړی دی د هغو یو څو مثالونه په لاندی توګه دی :

امام ابو الحسن ماوردی رحمة الله علیه چی په کال « ۴۵۰ هجری » کی وفات شوی دارنګه لیکی چی :

الامامة موضوعة لخلافة النبوه فی حراسة الدین و سیاسة الدنیا :

امامت (اسلامی نړیوال حکومت) د دی له پاره جوړیږی چی د نبی صلی الله علیه وسلم د نیابت او نمایندګی کولو په خاطر د اسلام د

دین د ساتنی په خاطر او د دنیا د نظم أو نسق د چلولو او د هغی اصلاح په کی وشی .

ابن عابدین شامی حنفی رحمة الله علیه لیکلی چی :

ریاست عامة فی الدین و الدنیا خلافة عن النبی صلی الله علیه وسلم.

(هغه عمومی ریاست « اسلامی خلافت » چی په دینی او دنیوی امورو کی د نبی صلی الله علیه وسلم په نیابت او نمایندگی کولو کی کار وکړی).

شاه ولی الله دهلوی محدث رحمة الله علیه « وفات ۱۱۷٦ هجری » فرمائی چی :

هی الریاسة العامه فی التصدی لاقامه الدین

(خلافت عبارت له هغه عمومی ریاست څخه دی چی عملا د دین د اقامی په طرف متوجه وی) .

پدی تعریفونو کی کوم اختلاف نه شته خو یواځی په تعبیر کی ئی فرق موجود دی د هغو تعریفونو لنډیز دا دی چی خلافت عبارت له هغه عمومی ریاست څخه دی چی د محمد صلی الله علیه وسلم په نیابت او نمایندگی کولو کی د دین او دنیا کار وکړی .

عمومی څخه مقصد دا دی چی په کوم ملك کی چی خلافت جوړیږی نو باید د هغو په اوسیدونکو کامل اختیار ولری .

خو کور ، قبیلی ، یا کورنی حکومت ته په اصطلاح کی خلافت

نه ویل کیږی بلکی د هغه لپاره (ولاية عامة) شرط دی 1

د : د کفارو د توررونو په مقابل کی زمونږ بوه ځوابونه د اسلامی خلافت په ارتباط :

د اسلامی خلافت په ارتباط د امپریالیزم او سوسیالیزم بچیان داسی وائی که اسلامی خلافت راشی نو سرحدات له مینځ ځخه وړی او زمونږ گټی به خوندی نه شی او بیا هم دوی وائی د وړو وړو هیوادونو استقلال هم ختم کیږی .

خو مونږ د اسلامی خلافت ملگری ، یاران او غوښتوونکی په ډیرو ښو دلایلو ورته معقول ځوابونه وړاندی کوو :

لومړی ځواب مو دا دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل مبارك حدیث شریف کی فرمایلی دی : چی یو مسلمان حیثیت د هغه تړلی آس لری چی په ځو کزه پری په یوه ثابت میخ باندی تړلی شوی وی پداسی حال کی چی ځلور خوائی ښه واښه وی خو دی له خپل تړلی میخ او ځو کزه وندنی ځخه تجاوز نه کوی ، نو ځکه مؤمنان هم له خپلو حدودو ځخه تیری نه کوی او ځانونه د خدای جل جلاله په قانون پوری تړلی بولی نه حرام خوری ، نه غلا کوی ، نه قتل کوی ، نه د فحشا په طرف میلان کوی ، او نه د مسلمانانو تر مینځ د اختلاف وسیله گرځی .

د دی پخاطر چی مسلمانان په یوه محکم میخ باندی په ډول د هغه آس په ځو کزه وندنی تړلی دی ، نو ځکه مونږ مسلمانان له خپل قانون ځخه سرغړونه نه کوو په ټوله نړۍ کی د یوه قرآن او نبوی سنتو

---

1 ... اسلامی سیاست ، د مولانا گوهرالرحمٰن صاحب لیکنه ۱۳۰ _ ۱۳۱ مخونه

پیروان یو ، نو بیا ولی پدی صورت کی د یوه قانون پیروان سره متفرق او ټوټه ټوټه واوسی ، بیا ولی مونږ په سرحداتو ، پولو او مرزونو باندی ویشل شوی یو ، له یوه عالم اسلام څخه « ۵۱ » یو پنځوس کوچنی هیوادونه جوړ شوی ، پداسی حال کی چی له « ۵۲ » دوه پنځوس لویو ایالاتو څخه یو متحد هیواد په نامه د امریکا جوړ شوی ، اصلا مونږ مسلمانان په خپل مینځ کی بلکل سرحدات ، پولی او مرزونه نه لرو بلکی مونږ مسلمانان په واقعیت کی په ټوله نړۍ کی له کفر سره سرحدات ، پولی او مرزونه لرو ، نو مونږ په صراحت ، په ډیر جرأت او میړانی سره د اسلام دښمنانو ته اعلان کوو چی اسلام سرحدات ، مرزونه او پولی په رسمیات نه پیژنی ، ځکه که اسلام پولی په رسیمات وپیژنی نو عالم اسلام په ټوکړی ټوکړی شی لکه چی فعلا ټوټی ټوټی دی .

دوهم ځواب دا دی چی دوړو ، وړو هیوادونو په نامه استقلال کی خیر نه شته ، تاسی دوه کاله مخکی ولیدل چی په نامه مستقل د کویټ حکومت ، صدام حسین د عراق رئیس جمهور په څو ساعتو کی ونیو ، بیا پدی حال کی د کویټ استقلال چیرته او په کوم غربی ښار کی بیا د کوم بادار په غیږ کی ئی پټ او مخفی شو ، کویټ اصلا استقلال نه درلود چی فعلا د امریکا د ځواکونو پایګاه او مرکز ګرځیدلی دی ، پس د کویټ له تش په نامه استقلال څخه وروسته امریکا د خپلو ګټو پخاطر خپل هم حلیفان او مزدور ګوډاګیان راټول کړل تر دی چی په نامه اسلامی حکومتونو او تنظیمونو هم خپل فوځونه د خپل بادار د خوشحالی او چاپلوسی په خاطر د طاغوت امریکا تر قیادت لاندی واقع کړل او فعلا د مستقل کویټ د سرحداتو او پولو محافظین غربیان او امریکایان دی ، نو پدی ډول استقلالونو عالم اسلام

له خاورو سره خاوری وګرځید ، اصلا اسلام نظام د غیرت ، عزت او آزادی دی چی هر انسان په اسلام باندی خپلی منګولی ټینګی کړی نو حتمًا به الله جل جلاله غیرت ، عزت او آزادی ور وبښی .

هـ ـ د اسلامی خلافت دوه مثالونه د عاقلانو په تله کی :

٤ اوسنیو په نامه مستقلو مسلمانو هیوادونو مثال داسی دی لکه په یوی هیبت ناکه دشته یا دره کی چی یوازی یوه کورنی په یوه کور کی ژوند تیروی غله او نور دښمنان په آسانی سره کولای شی د کور خلك ووژنی بی عفته او بی عزته ئی کړی او ټوله شتمنی ئی تری غصب کړی ، د کور خلك په یوازی صورت سره چی پدی هیبت ناکه دشته یا دره کی پراته دی او ماحول ته ئی هم ټول دښمنان په کمین کی ناست دی اولاً مقاومت نه شی کولای که مقاومت هم وکړی نو سبب د هلاکت به ئی حتمًا وګرځی .

فعلا د مستقلو مسلمانو هیوادونو حال د پورتنی مثال په ډول دی امریکا د ملل متحد تر بیرغ لاندی له خپلو مزدورانو سره یو ځای په کوم هیواد کی چی د مسلمانانو قوت ووینی نو حتمًا به پری حمله کوی او له خاورو سره به ئی خاوری کوی ، د عراق په مظلوم مسلمان ولس باندی ئی د ملل متحد تر بیرغ لاندی حمله وکړه له مخی ځخه ئی لری او محوه کړ ، فعلا کفارو د ملل متحد تر بیرغ لاندی د بوسنیا هرزګونیا په اسلامی هیواد باندی د سلاح اخیستلو بندیز لګولی او مستقیمًا د امریکا فوځونه د ملل متحد تر نامه لاندی د ظالمو کفارو چی صربیان او کرواتیان دی حمایت کوی ، پدی ورځو کی ملل متحد فیصله کړی چی بوسنیا د په دری مستقلو هیوادونو وویشل ښی تر څو د غرب په قلب یعنی اروپا کی یو قوی او ځواکمن اسلامی حکومت جوړ نه

د افغانستان د اسلامی خلافت
د تحریك شعار

۱ ــ لا شرقية لا غربية احياء الخلافة الاسلاميه.

۲ ــ نه منو روسان نه امریکایان ، مونږ پاك قرآن په ټول جهان غواړو.

۳ ــ آزاد اسلامی افغانستان جز د عالم اسلام غواړو ، مونږ غلامان نه یو مونږ اجیران نه یو .

٤ ــ د تورخم ، اسلام قلعه او د آمو سیند سرحدات مونږ له عالم اسلام څخه نه شی جلا کولای .

٥ ــ مونږ په انقلاب کی انقلاب فرهنگی او تصفیوی راولو .

٦ ــ امریکا دی خبرداروی چی روسانو ته روان دی ، اتحاد جماهر شوروی خو دړی وړی .

۷ ــ افغانستان مو فتحه کړی خو مسکو ته روان ، مونږ به خو جوړ تاجکستان کی اسلامی نظام کړو .

۸ ــ قرآن به په نړۍ باندی دستور کړو ، دستور به کړو قانون په کړو قانون د لااله الا الله .

۹ ــ یوازی افغانستان زمونږ وطن ندی ، بلکی ټوله نړۍ زمونږ وطن دی .

۱۰ ــ افغانستان زمونږ وړکور دی ، عالم اســـــلام زمونږ لوی کور دی .

۱۱ ــ په جهان کی ظلم ، زور په مسلمان باندی دی ، دا ظلم زور خو ورك کړی ای الله زمونږ په لاس .

۱۲ ــ مونږ راضی نه یو په دی حال باندی ، قرآن حاکموو په

شي ، خو د بوسنيا مسلمان حکومت دا پريکړه په صراحت سره رد کړې ده .

پدې ورځو کې د امريکا او غلامانو قوتونو ئې د ملل متحد تر بيرغ لاندې د سوماليا په مظلومو مسلمانانو باندې خپل عمليات شروع کړي او سوماليا ئې له ځمکې سره يو برابر کړي .

د امريکا غلامان (افغاني غرب گرايان) د ملل متحد تر سيورې لاندې افغانستان ته د امريکا د فوځونو د راتګ آوازونه د خپلو بادارانو د راديوګانو د استيشنونو له امواجو څخه خپروي او د لوی جرګې د راغونډولو غوښتنې کوي چې دا د ميرويس نيکه او احمد شاه ابدالي ميراث مونږ ته پاتې دې ، خو مونږ ورته وايو چې د ميرويس نيکه او احمد شاه ابدالي کارنامو ته مونږ د احترام په سترګو ګورو ، که تاسې غدار ظاهر شاه له احمد شاه بابا سره برابر ګڼې دا مو په ډيره سادګۍ دلالت کوي ، ځکه ظاهر شاه خو(٤٥) پنځه څلويښت کاله دروس او امريکا حلقه بګوش غلام وه ، ظاهرشاه خو د کفر او کمونيزم باغبان ګرځيدلی وه ، کفر او کمونيزم د خپل کفريت او الحاديت نهالونه په افغانستان کې کښينول ظاهرشاه په ډير اخلاص خو په ډيره بې همتي او بې غيرتي سره د هغو د نهالونو باغباني وکړه او هغو ته ئې وده ورکړه ، ظاهرشاه خو هغه پست انسان وه چې د افغانستان يو تاريخي ښار پنجده ئې روسانو ته هسې مفت ورتسليم کړ ، ظاهرشاه خو د هغه تاريخي غدار نادرشاه زوی دی چې د خپلو فوځيانو په واسطه ئې هغه مظلوم مهاجرين او مجاهدين د ماوراالنهر چې د روسانو د ظلم او تيری له عمله د آمو د درياب له لياری څخه د افغانستان اسلامي خاوری ته ئې هجرت کړی وو په ډيره بې شرمانه او بې رحمانه ډول له افغانستان څخه وشړل .

غرب گرايان خاين ظاهرشاه له احمد شاه بابا سره يو شان بولی پداسی حال کی چی احمد شاه بابا غير موجود افغانستان يو واکمن افغانستان وگرځاوه او د افغانستان خلکو ته ئی آزادی او عزت ورویاښه مگر ظاهر شاه بر عکس د افغانستان مظلوم ملت تباه ، بی وطنه ، بی عزته او بی عفته کړ ځکه که ده ملی خاين وطن مستقيم وران نکړ خو باغبانی ئی افغانستان له خاورو سره برابر کړ ، او ده کفر او الحاد ته ښه وفادار شاگردان وروزل ، دا ځوارلس کاله د ده روزل شويو شاگردانو زمونږ گران ټاټوبی راته وران او تباه کړ زه له بعضی نادانه او بی فرهنگه جاهلانو څخه اورم چی وائی د ظاهرشاه ٤٥ پنځه څلوويښت کلنی دوره کی آرامی وه ، خو زما په نظر د افغانستان د شل لکو شهيدانو او دومره تباهی او کړاوونو اصلی عامل او سبب ظاهرشاه دی ، غدار ظاهرشاه په « ٤٥ » پنځه څلوويښت کلو سلطنت کی د کابل ولايت کومی ولسوالی ته چی د افغانستان په زړه (پايتخت) کی واقع دی برق تير کړ ، پداسی حال کی چی د افغانستان خلکو ښه ډير گاز ورلودل خو هسی دی غلام خپل روسی بادار ته ورليږل ځکه شوروی اتحاد او خصوصاً د کرملين واکوالو د ده او د ده د کورنی د استراحت او تفريح لپاره ځايونه برابرول ، چی کله به په افغانستان کی خسته شو بيا به خپل د تفريح مکان ته ورسيد ، د افغانستان مظلوم ولس گاز درلودل خو پيژاندله ئی نه پداسی صورت کی چی ډير ضرورت ئی ورته درلوده ، ظاهر شاه هغه څوك وو چی علماوو د ده د غير اسلامی کردارو او اعمالو پر ضد غونډی وکړی خو هغه خپل اعمال اصلاح نکړل او د دی پر خلاف ئی د ملت د جيدو علماوو سپکاوی وکړ تر دی پوری چی تر څو سوود لا اله الا الله محمد رصول الله بيرغونه ئی دپل خښتی په جومات کی تر پښو لاندی کړل .

نو تاته وایم ای د غرب جاسوس او مزدوره چی کله د عالم په بڼه ، کله د قوماندان په رنګ ، کله د قوم د سپین ږیری په څیره ، کله د تاریك فکره او روشن فکره په قیافه د مظلوم او شهید پروره میړنی او باتوره مسلمان مجاهد افغان ولس په سترګو کی د خپلو بادارانو د رادیو ګانو له امواجو څخه د بی غیرتی او بی همتی خاوری شیندی .

که تاسی د غرب چاپروسان وائی او دا ادعا کوی چی احمد شاه بابا د لوی جرګی له لیاری د افغانستان واکمن وګرځید زیات دروغ وائی د احمد شاه بابا تاریخ به زه هم درته کم بیان کړم .

له کال ۱۱۲۵ هجری شمسی څخه مخکی د افغانستان سیاسی نقشه د دنیا له خریطی (نقشی) څخه محوه شوی وه د افغانستان شرقی ، جنوبی او مرکزی سیمی او ولایات د مغلو تر حکومت لاندی وی چی د هندوستان له ډهلی څخه اداره کیدلی او د افغانستان نوموړی سیمی د ډهلی د مغولی د امپراطوری جز وی ، او د افغانستان جنوب غربی ولایات او سیمی د ایران د صفوی حکومت مربوط وی ، او د افغانستان شمالی ولایات تر آمو پوری د خانانو د ملك الطوایفی حکومتونو په لاس کی وی پدی حال کی افغانستان ټوکړی ټوکړی وه او بلکل وجود ئی نه درلود ، په کال ۱۱۲۵ هجری شمسی کی د ایران د حکومت پادشاه نادر افشار په مشهد کی په ناڅاپه توګه قتل کړای شو .

ایرانیان په خپلو کی سره اخته شول خو په فوځ کی لوی لوی پښتانه افسران لکه نورمحمد خان غلجی او احمد خان سدوزی له خپلو وطنی پوځونو (پښتنو ، تاجکو ، ازبکو ، هزاره ، او بلوڅو) سره یو ځای خپل وطن ته راستانه او په قندهار کی تم شول .

او پس له همدی چی د ایران پادشاه مړ شو افغانانو ته ښه فرصت وه چی خپله آزادی له ایرانیانو او مغلو څخه واخلی هماغه وه چی په

قندهار کی د خلکو لومړنی لیدنی کتنی مفاهمی او مباحثی پیل شوی چی له دی وروسته به د ایران او مغلو له تسلط څخه خپل هیواد او ولس آزاد ساتی او د خپلی خوښی حکومت او دولت به جوړوی ، پدی مقصد د یوه متقی او پوه مشر د ټاکلو فیصله وشوه .

د ۱۱۲۵ هجری شمسی کال د صفر المظفر په میاشت کی د مشر ټاکلو د پاره د شیر سرخ بابا د مزار په سیمه کی جرگی پیل شوی پرله پسی اته جرگی وشوی خو په اتفاق سره په چا باندی رای په بشپړه توگه رانغله د نهمی جرگی په ترڅ کی له یو لړ جلسو نه وروسته ټولو گډون کوونکو د مشر د انتخاب واك یوه روحانی درویش صابرشاه کابلی ته ورکړ ، صابر شاه کابلی چی د اشخاصو په هکله تشخیص او تمیز درلود پدی برسیره د تیرو شویو جرگو ننداره چی هم وه ، صابر شاه هم ورکړی واك او صلاحیت د یوه مناسب شخص په انتخابولو سره ښه په ځای استعمال کړ صابر شاه کابلی ۲۵ کلن ځوان احمد خان سدوزی د افغانستان د پادشاهی لپاره انتخاب کړ او له یوه نوړدی پټی څخه ئی وږی را پری کړ د احمد خان په پټکی کی ئی نصب کړ کله چی احمد شاه بابا د افغانستان رسمی پادشاه د صابر شاه لخوا انتخاب شونو اول ئی افغانستان د مغلو او بیا له ملکو الطوایفی او بیا له ایرانیانو نه خلاص کړ لوی افغانستان ئی له آمو سیند څخه تر اوسنی هندوستانه تر مشهده او نیشاپوره جوړ کړ او افغانستان د هغه خپلواك او اسلامی دولت نوم شو .

باید ووایم چی محترم لوستوونکی دی احمد شاه بابا او ظاهرشاه په خپلو مدبرانه ذهنونو کی تمیز کړی بل دا چی په اتو جرگو کی دوی د مشرتابه په ټاکلو کامیاب نشول صابر شاه ئی انتخاب کړ بیا هغه احمد شاه بابا د افغانستان د پادشاهی په خاطر انتخاب کړ ، که اوسنی

مزدور غرب گرایان د لوی جرگی فریاد کوی دوی خو هغه خرڅ شوی قومی مشران هغه مزدور قوماندان هغه اجیر علماء نما ، هغه تاریك فکره غلامان یادوی او د خپلو بادارانو له پاره لویه جرگه غواړی ، که داسی نه وی دا لویه جرگه چی دوی ئی احمد شاه بابا ته منصوب ولی هغه خو ما درته واضح کړه چی په هغو لویو جرگو باندی مشر تعین نشو بلکی هلته هم صابر شاه کابلی د انتخاب لپاره انتخاب شو بیا هغه هم په انتخاب سره کار تمام کړ ، مونږ به هم افغان مجاهد ملت ته د انتخاب حق ورکړو لویه جرگه خو اصلا د کفارو مهمه اسلحه ده څکه خپل غلامان اقتدار ته پری رسوی .

نو دا مزدور افغانی غرب گرایان او کفار غواړی زمونږ افغانستان لکه د خلق او پرچم اجیرو او مزدورو پلو په شان چی په روسانو ئی خرڅ کړی وه دوی ئی هم د ملل متحد تر بیرغ لاندی د عالم اسلام لوی دښمن امریکا ته ورتسلیم کړی خو دا خیال به انشاء الله له ځان سره خاورو ته نقل کړی

این خیال است و محال است و جنون

مونږ دی غربی مزدورو افغانانو ته خطاب کوو چی افغانستان ستاسو په شان د څو پستو نامردانو کور ندی دا د هغو شاه زلمیانو او بازانو کور دی چی ستاسو بل بادار د پکت وارسا امام او پیشوا شوروی اتحاد ئی ټوټی ټوټی کړ بلکی د دنیا دخریطی (نقشی) له مخی ئی الحمد لله بلکل له مینځه یووړ ، تاسو غربی ایجنټانو او مزدورانو خو کله چی د روسانو سور فوځ د آمو له سیند څخه راواوښت خپل ځانونه مو سپینی ماڼی ته ورسول بیا مو له هغه ځایه څخه ځینی بی ایمانه عناصر چی نه د اسلام کوم اثر په کی ښکاریده او نه پکی د غیرت کومه نښه معلومیده د قوماندان ، عالم ، د قوم سپین ږیری ، او روشن

فکره یعنی په اصل کی تاریك فکره وګڼمارل ، کله د کوم قوم په نامه شورا جوړه کړی یا د قوماندانانو په نامه شورا جوړه کړی او کله په نامه د خیریه موسساتو خپل مرکزونه خلاصوی له دی لاری خپل هدف ته ځانونه رسوی خو د افغانستان قهرمان او باغیور مسلمان ولس دا څوارلس کاله د قرآن د عادل نظام په خاطر شل لکه د زړه ټوټی خپل محبوب ځښتن ته نذرانه کړ او شل لکو مجاهدینو سپیڅلی اندامونه خپل مالك الملك ته مخکی کړی او خپل کورونه ئی پریښودل خو خپله عقیده ئی پری نښوده ، ولی ئی د سور استعمار غلامی و نه منله ؟ بیا به څنګه د سپین استعمار غلامی ومنی ، افغان هغه غیرتی قوم دی چی د سکندر واکوالی ئی قبوله نکړه ، د چنګیز او هلاکو په وړاندی ئی تندی ټیټ نکړ ، آخر چنګیز دومره په افغانستان کی وژنه وکړه ، وی ویل افغانان چی څومره رییم او لو کوم ئی بیرته راشنه کیږی نو په دی هیواد کی ورته عصبی تکلیف پیدا شو ، تیمر لنګ په خپل زور او قوت درلودلو سره له افغانستان څخه وتښتید او خالی لاس ووت ، انګلیسانو دری واری افغانستان ونیو خو دری واری له ماتی سره مخامخ شول ، د روسانو حال مو الحمد لله په خپلو سترګو ولید چی په څه ډول بی عزتی له ګران افغانستان څخه ووتل .

نو مونږ د غرب ګوډاګیانو ته چیلنج ورکوو چی راځی دا بادار مو هم مسابقی ته مخکی کړی روسانو خو په نړۍ کی شکست نه وه خوړلی څکه زړور وه ستاسو بادار خو له هغو روسانو څخه چی مات کوږ له افغانستان څخه ووتل د ویتنام په جګړه کی شکست وخوړ .

مونږ له دی اسلامی احزابو څخه ګیلی لرو خو د اسلام دښمنانو او غربګرایانو ته دا موقع په لاس نه ورکوو چی د دوی په هکله بد وغږیږی که مونږ پکی څه وایو خو زمونږ خبری اصلاحی او تعمیری

جنبهٔ او اړخ لری خو د اسلام د دښمنانو او غربی مزدورانو خبری تخریبی اړخ او جنبهٔ لری ، نو مونږ بیا هم دا اسلامی تنظیمونه په داسی حال کی چی زمونږ اهداف ئی فعلا شاته غورځولی د کفارو په مقابل کی یوازی نه شوو پریښودلی ، که د دوی له کفر ، کمونیزم او غرب گرایانو سره مقابله پیل شی نو د تحریک خلافت اسلامی افغانستان سازمان به په لومړی صف کی د دوی تر څنگ ودریگی .

نو مونږ امریکا او غرب ته مشوره ورکوو چی له روسانو څخه د عبرت درس واخلی افغان هغه غیرتی مسلمان باغیوره او همت والا ولس دی چی د تاریخ په اوږدو کی ئی چاته د غلامی سر نه دی ټیټ کړی ، لکه چی هتلر د المان د یوه عصر واکمن ویلی که زما فوج له افغانانو وائی او قوماندانان می د ترکی وائی ما به ټوله نړئ نیولی وه ، د افغانانو په شجاعت او میړانه ټوله نړی قانع ده ، زما ښه په یاد دی کله چی په شپږم د جدی د ۱۳۵۸ هجری شمسی کال کی روسانو افغانستان قبضه کړ په همدی شپه د بی بی سی رادیو روسانو ته خطاب وکړ چی یو ښکاری همیشه گیدړی ښکار کولی یوه ورځ گوری چی د ژرو په مینځ کی یوه ببره لکی معلومیږی ښکاری خو د گیدړانو په ښکار عادت وه ببری لکی ته ئی لاس کړ گوری چی شیر وخوت پدی صورت کی ئی نه نیولای شی او نه ئی خوشی کولای شی ، نو بی بی سی وویل چی روسان د له مونږ (انگلیسانو) څخه د عبرت درس واخلی دری واری مو په افغانستان حمله وکړه تسلیم مو نشو کړای نو موږ به ئی څنگه ونیسی .

زمونږ د جهادی مشرانو څخه یوه مشر (استاد سیاف) ویلی چی افغانان د هغه دیگ بخار حیثیت لری چی هر قسم خواره پخولای شی خو سر پوښ نلری زه هم د ده محترم خبره تائیدوم او وایم که د

افغانستان ځوان نسل واقعاً د قرآن او اسلام په سالمه روحیه وروزل شی انشاء الله بیا به په ټوله نړۍ کی د اسلام بیرغ ورپوی او د مسلمانانو تللی عزت چی اسلامی خلافت دی د دی قهرمان ولس په لاس بیا را ژوندی شی .

مخکی می دوړو وړو به نامه مستقلو هیوادونو مثال بیان کړ اوس غواړم د اسلامی خلافت مثال درته واضح کړم ، اسلامی خلافت په ټوله نړۍ کی د یوه ګڼ کلی حیثیت لری ، او واړه په نامه مستقل هیوادونه د هغه کور حیثیت لری چی یوه کورنی پکی ژوند تیروی او همدغه کور په یوه هیبت ناکه دره یا دشته کی واقع وی چی هره شیبه له خطر سره مخامخ کیدل ئی بعید او لری ندی .

اسلامی خلافت حیثیت د هغه ګڼ کلی لری چی جامع مسجد ئی یو وی ، امام د مسجد ئی یو وی ، امنیتی قوت او فوځ ئی یو وی ، قانون ئی یو وی ، ښار والی او مارکټ ئی یو وی او د کلی خیر او شر ئی یو وی که څوك پر کلی یرغل کوی نو ټول د کلی اوسیدونکی په اتفاق سره د دی کلی له حدودو څخه دفاع کوی کله چی د دښمن له تعرض څخه فارغ شی نو بیا د کلی وګړی په مختلفو کورونو او کورنیو سره تقسیم او ویشل کیږی ، کله چی د کلی ټول وګړی خپلو کورونو ته ورسیږی ، بیا به یو د بل کور ته په غلا د دیوار له لیاری بی له کومی اجازی څخه نه ورځی او که ورځی نو د دروازی له لاری به په اساس د اجازی داخلیږی ، هر کور او کورنی په خپل کور کی استقلال او آزادی لری ، کومه کوټه او اطاق چی په څه ډول جوړول غواړی جوړولی شی د کور په داخل کی چی هر څه شی کری کرلی شی ، بلأخره هره کورنی په خپل کور کی عام او تام صلاحیت لری مګر د کلی له قانون څخه به تجاوز نکوی .

اسلامی خلافت هم په شان د یوه کلی دی لکه په پورتنی مثال کی چی بیان شو ، په اسلامی خلافت کی به د ټولو اسلامی هیوادونو مرکز یو مکان او ځای وی ، چی هغه مرکز ته دارالخلافة ویل کیږی ، د اسلامی خلافت په ټولو ایالاتو کی به یو قانون وی چی قرآن او نبوی سنت دی ، فوځ او اردو به ئی یو وی ، امام او امیر المؤمنین به ئی یو کس وی ، خیر او شر به ئی شریك وی ، که څوك د اسلامی خلافت په حدودو او سرحداتو تعرض کوی په مثل د هغه کلی ټول وګړی به د اسلامی خلافت د سرحداتو د محفوظوالی او دفاع له پاره د قربانی ډګر ته په شجاعت او میړانی سره وردانګی ، کله چی تعرض ختم شو هر څوك پوهیږی او خپل کور او ژوند ئی ، ستا کوچنی کور خو هغه دی چی ستا کورنی په کی ژوند تیروی خو ستا لوی کور دا کلی دی زمونږ کوچنی کور افغانستان دی خو لوی کور مو عالم اسلام دی ، محترم لوستوونکی دی په خپلو ذهنونو کی د خلافت موجودیت ته نظر وکړی چی د خدای جل جلاله څومره لوی حکمت پکی پروت دی ، چی مونږ ته د عزت ، غیرت او میړانی پګړی را په سر کوی .

نو مونږ دی غربی کفارو ته یو ځل بیا خطاب کوو چی افغانستان د شهیدانو کور دی د شهیدانو په وینو ګټل شوی ، انشاء الله پدی غیور هیواد به د شهیدانو د وارثانو حکومت یوه ورځ نه یوه ورځ حتماً راځی ، نو له خپلو شومو پروګرامو ، برنامو او دسایسو څخه په شاه شی او که نه په شاه کیږی انشاء الله د روسانو په سرنوشت به ګرفتار شی .

نهم هدف

قرآن د ټولی نړئ قانون گرځول

قـــرآن بـه پـه نـــــــړی بانـدی دستور کړو

دستور به کړو قانون به کړو قانون د لا اله الا الله .

زمونږ نهم مرام او هدف قرانکریم د ټولی نړئ قانون گرځول دی ، تاسی فکر وکړی (۷٤) کاله د کمونیزم بشری قانون په پنځلسو مظلومو هیوادونو چی په نامه د شوروی اتحاد ئی را قبضه کړی وه وچلید او په نیمه نړئ نوری باندی ئی هم په نامه دپکت وارسا خپل قانون چلاوه خو آخر له موده څخه ولوید او اوس به څوك په کنده کی هم د کمونیزم قانون پیدا نکړی ، د پکت وارسا په حصه کی باید لږ څه وضاحت ورکړم ، د اسلامی خلافت له ړنگیدو وروسته په شلمه پیړی کی نړئ په دوه امپراطوریو یادوه ښامارانو یعنی روس او امریکا باندی تقسیم شوه روس څانته په نامه د پکت وارسا یعنی بلاك د کمونیزم او امریکائیانو د څان لپاره په نامهٔ دپکت ناتو یعنی بلاك د سرمایه داری جوړ کړ چه نړی ئی په شرق او غرب تقسیم کړه ، رابه شم اصلی موضوع ته ۷٤ کاله د کمونیزم قانون په نیمه نړئ باندی وچلیده بیا ولی له ۷٤ کاله څخه وروسته محوه شو ، مونږ ته دا خبره په ثبوت رسیږی چه د کمونیزم قانون د بشر د ناقص فکر جوړ کړی شوی قانون وه څکه له مینځه ولاړ د بشر فکر ناقص دی څکه قانون ئی هم ناقص دی ، وگوری قرانکریم څوارلس سوه (۱٤۰۰) کاله مخکی په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی نازل شوی وو په هغه وخت کی هم دا قرآن د بشر قانون گرځیدلی وه په دا څوارلس سوه کلو کی هم دا قرآن د ټولی نړئ قانون

ټول جهان باندی .

۱۳ ــ که مو قرآن په ټول جهان باندی حاکم شو خلکو ، ظلم به ورك ، استبداد ورك ای مظلومانو خلکو .

۱٤ ــ جهان دی خبردار وی ، خلافت به بیا راځی ، امامت به بیا راځی ، عدالت به بیا راځی .

۱۵ ــ په نړۍ کی دغه نور د الهی به بیا راځی ، خلافت به بیا راځی ، انسانیت به بیا راځی .

۱٦ ــ مونږ په واړه افغانستان باندی قانع نه یو مونږ په ټوله نړۍ کی د اسلامی خلافت غوښتوونکی .

۱۷ ــ ای د نړۍ اسلامی تحریکونو ټولو سره یو شی تر څو په نړۍ کی بیا اسلامی خلافت رامنځته شی .

۱۸ ــ اسلام د عزت او آزادی نظام دی چه انسان ته عزت او آزادی ببښی .

۱۹ ــ اسلام یو جامع او مکمل نظام دی چه د عالم ټول مشکلات په مکمل او منظم ډول حل کوی .

۲۰ ــ تحریك خلافت اسلامی افغانستان د شل لکو شهیدانو قاتلان نه شی عفو کولای .

پاتی شوی پدی یوزر او څلور سوه (۱٤۰۰) کلونو کی یوه ماده ئی هم چا محوه نشوای کړای ځکه چه دا د بشر قانون ندی دا د هغه حقیقی څښتن او پادشاه قانون دی چه د قیامت تر ورځی به انشاء الله په نړۍ باندی چلیږی ، د بشر د لاس په جوړ شوی قانون باندی چه یو کال تیر شی او چه څه تحول په جامعه کی راشی بیا د وخت حکومتونه مجبوره دی چه د قانون په مادو کی تغیر او تبدیل راولی خو د خدای جل جلاله قانون ته نظر وکړی که دا دنیا دومره ترقی وکړی چی باالاخره آسمان ته هم پورته شی د قرآن یوه ماده به هم تغیر و نه کاندی نو پدی لحاظ سره د قرآن قانون په هر زمان او مکان کی د تطبیق وړ دی چه د بشر د دنیوی او اخروی ګټو ضامن دی ، ځکه دا د بشر د ناقص فکر قانون ندی دا قرآن د قدیم او ثابت الله جل جلاله قانون دی ،(۱٤۰۰) کاله هم د مسلمانانو قانون وه اوس هم زمونږ قانون دی او تر قیامته به هم د اسلامی امت قانون وی ، د روس د مثال په ډول د نړۍ د ټولو ناقصو انسانانو د افکارو د قانونو همدا حال دی ،

که مو قرآن په ټول جهان باندی حاکم شو خلکو
ظلم به ورك ، استبداد، ورك ای مظلومانو خلکو

قرآنکریم داسی یو دستور او قانون دی چه د هر ظالم او جابر ژامه ماتوی او د ظلم او استبداد ټغر ټولوی د ظالمانو او فاسقانو نظام ختموی په عوض ئی د عادل خدای حق نظام قایموی نو ځکه یهود اونصری د دی قرآن د نافذولو مخه په هر ډول چه امکان ولری نیسی نو مونږ د دی قانون په نافذوولو کی یواځی نه یو بلکی هغه خدای جل جلاله چه د آسمانونو او ځمکی پادشاهی او خزانی ورسره دی را سره ملګری دی .

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تَنصُرُوا اللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ

أَقْدَامَكُمْ 1 .

(ای مؤمنانو که تاسی له الله سره مرسته وکړی نو هغه به له تاسی سره مرسته وکړی او ستاسی قدمونه به کلك کړی) .

که چیرته هر مسلمان په دین د خدای جلّ جلاله غیرت وکړی قصد او نیت ولری چه په نړۍ کی د مسلمانانو آبرو او عزت مینځ ته راشی مستضعف او مظلوم مؤمنان له آفته د کفر او کمونیزم څخه نجات پیدا کړی نو دا پدی کیدای شی چی د غیرت او همت ملا وتړی او ځان یو داعی او تحریکی وګرځوی او د همت دا دروندداوله مشقت څخه یك بار په خپلو اوږو کیږدی ، نو الله جل جلاله به دی پدی مشکلاتو کی یواځی نه پریږدی د ده د غیرت او همت په عوض کی به الله جل جلاله هم اسلام لوړ وګرځوی او هم به دی داعی ته مقام او عزت ور په برخه کړی . ځینی بی ایمانه کسان د دی پخاطر چه ځان پری ډیر ګران وی دا بهانی جوړوی چه کفارو سره زه مبارزه او جهاد نشم کولای ځکه چه هغوی ډیرځواکمن او قوی دی او حتماً به زه هلاك شم خو دا سست عنصره کسان د خدای تعالی له قرآن څخه بی خبره دی .

إِنَّ اللَّهَ يُدَافِعُ عَنِ الَّذِينَ آمَنُوا

(بیشکه چه الله جل جلاله له هغو کسانو څخه دفاع کوی چه ایمان ئی راوړی دی[٢]) .

همدارنګه الله جل جلاله د دعوت او جهاد ریښتینی پاسداران د دښمنانو دسیسو ته تنها نه پریږدی ، نو مؤمنه که ته د الله تعالی دین کتی تاته به کفار هیڅ ضرر و نه شی رسولای د دی پخاطر چه ته له

---

1 . . . . د محمد سورت ٧ ایت
٢ . . . . د الحج سورة ٣٨ ایت

جندالله او لشکر د الله څخه یی تا به الله جل جلاله له هر آفت او مصیبت څخه ساتی که ستا د مرګ نیټه راورسیږی او د اوسپنو په قلعه ګانو کی پټ هم شی بیا هم د مرګ له نیټی او مکان څخه نشی تښتیدلای او که د مردکیو یا تورو درباندی باران وی خو که ستا اجل او د مرګ نیټه نوی را رسیدلی ستا یو ویښته به هم ضایع او کنډو نشی ..

رسول الله صلی الله علیه وسلم به د ځان د حفاظت لپاره محافظین له ځان سره ګرځول الله جل جلاله دا آیت شریف پری نازل کړ

وَ اللّٰهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ

(الله د خلکو له شر څخه ستا ژغورونکی دی (۱)).

خدای جل جلاله حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل باډیګاردان د لری کړه یواځی پواځی ګرځه خدای جل جلاله تا له هر آفت او مصیبت څخه ساتی نو رسول الله صلی الله علیه وسلم خو یو داعی او دعوت ګر وه ځکه الله جل جلاله ئی نګهبانی کوله نو کله چه مسلمانه ته هم داعی او دعوتګر وګرځی نو تاته به هم خدای تعالی د کفارو له مکرونو او توطئو څخه نجات درکړی نو ته هم په آرامه زړه بی له کوم ترس او خوف څخه خپل دعوت او تحریك ته ادامه ورکړه له هیڅ دنیا ئی قدرت څخه مه ویریږه ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی چه خدای جل جلاله ملایکو ته وایی چه په خپلو وزرونو باندی د خدای جل جلاله د لاری داعیان احاطه کړی او له مصیبتونو څخه نجات ورکړی نو محترمه دعوتګره ته پدی لوی سفر کی یواځی نه ئی د نړۍ مالك او څښتن له تا سره ملګری دی ، نو پام کړه چه همت او غیرت د له لاسه ورنکړی ته په هر میدان کی بریالی ئی .

۱... د المائده سورة ٦٧ ایت

وَ مَنْ يَتَوَلَّ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهُ وَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فَاِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ هُمُ الْغَالِبُوْنَ .

(او څوك چې الله او د هغه پيغمبر او مؤمنان خپل ملګري نيسي هغه ته دې څرګنده وي چې همدا د الله ډله غالبيدونكې ده[۱]) .

پس اى د خداى جل جلاله د لارې داعى تاته الله تعالى زيرى د بريالیتوب درکړی ځکه ته د مالك الملك د حزب غړی ئې نو له شجاعت او زړورتوب څخه كار واخله او تللى عزت د اسلام بيرته راژوندى كړه ، د تحريك خلافت اسلامى افغانستان غړيه په اخلاص او ميړانه بې له كوم حراس څخه د قدمونه د الله جلا جله د رضا لپاره پورته كړه ، نو ته پدى دعوت كې يوازى نه ئې د جهان ځښتن به حتماً له تا سره مرسته وكړي .

وَ لَيَنْصُرَنَّ اللّٰهُ مَنْ يَّنْصُرُهٗ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَقَوِيٌّ عَزِيْزٌ

(الله جل جلاله به ارومرو له هغو كسانو سره مرسته وكړي چې د هغه مرسته وكړي[۲]) .

په ولينصرن كې دا لام ، لام د تأكيد دى يعنى حتماً او ضرور مرسته كوى الله جل جلاله له هغه چا سره چې هغه مرسته كوى له دين د خداى جل جلاله سره نو كله چې له يوه داعى سره الله جل جلاله مرسته كوى نو دى به ولى له چا څخه ترس او حراس كوى ولى به زړور او ميړنى نه اوسى ځكه د نړۍ ځښتن ورسره مل دى ، رحمن بابا فرمائى :

۱... د المائده سورة ٥٦ ايت
۲... د الحج سورة ٤٠ ايت

که الله در سره مل نه وی رحمانه
که لښکری درسره وی یك تنهائی

نو دا یوه ثابته او معلومه خبره ده چی الله جل جلاله در سره ملګری وی ته هیڅ کله یوازی نه ئی او نه به په کوم میدان کی له ماتی سره مخامخ شی ځکه ته د ناقص انسان ملګری نه بلکی د نړۍ د څښتن ملګری ئی .

هر هغه څوك چی کوښښ او لټه کوی تر څو په ټوله نړۍ کی دین د خدای جل جلاله تیت شی نو خدای تعالی فرمائی چی زه هغه شخص ته لاره ورښیم یعنی زه ئی رهبری کوم کله چی د یوه داعی او تحریکی اصلی رهنما او لارښود خدای جل جلاله وی نو هغه به څه غم او خفګان کوی .

ای دل ملول مباش که اللـه اکبر است
دشمن اګر قویست نګهبان قـوی تر است

نو ای داعی ته به ولی د ماتی په وخت کی مأیوسه او نا اومیده کیږی ځکه ستا نګهبان ستا لارښود ، او ستا رهبر ، د نړۍ مالك دی

وَ اَلَّذِيْنَ جَاهَدُوْا فِيْنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا

(کوم کسان چی زمونږ په خاطر مجاهده وکړی هغو ته به مونږ خپلی لیاری ورښیو[1]) .

هر هغه څوك چی په لاره د خدای جل جلاله کی مجاهده ، زیار او کوښښ وکړی دی به د خپل ځان دښیګنی او نجات له پاره کار وکړی ، پدی پورتنی آیة شریف کی الله تعالی مونږ ته دا پاڼ راکوی هر هغه څوك چی د الله جل جلاله په لاره کی د اخلاص په درلودلو سره د

---

[1] ... د العنکبوت سورة ٦٩ ایت

ټولی نړۍ د دښمنی خطر ګالی ، الله تعالی دغه کسان یوازی نه پریږدی بلکی د هغو لاس نیسی او هغو ته ښه لارښوونه کوی او خپل لوری ته د راتلو لیاری د هغو پر مخ پرانیزی او خلاصوی .

قدم په قدم د هغو رهبری کوی چی زمونږ خوښی تاسی په څه ډول تر لاسه کولای شی او قدم په قدم د دنیا په ټولو چارو کی ورته ښه رهنمائی کوی په هغو کی چی څومره ښه نیت ، اخلاص او د خیر غوښتنه وی هماغومره د الله جل جلاله مرسته ، توفیق او هدایت هم ورسره ملګری کیږی .

پس هر څومره چی یو داعی په خپل دعوت کی مجاهده او کوښښ وکړی هماغومره به الله تعالی مقام او عزت ورکړی ، او دا داعی به په داسی خبرو پوهیږی چی نور به ئی احساس هم نه شی کولای .

نو دعوتګره ته ولی دومره الله جل جلاله ته محبوب او ګران ئی ؟ ځکه ته غواړی قرآن او نبوی سنت د ټولی نړۍ دستور او قانون کړی ، نو خدای جل جلاله په خپل ذات باندی له تا سره د مرستی او همکاری د ثابت والی اعلان کړی

وَ كَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ

(او پر مونږ دا حق ؤ چی مونږ له مؤمنانو سره مرسته وکړو[۱]) .

مونږ راضی نه یو پدی حال باندی
قرآن حاکمو په ټول جهان باندی

نو الله جل جلاله له هغو مؤمنانو سره مرسته کوی چی د هغوی هدف او نیت اعلاء کلمة الله وی ، او مرام ئی د ظالمانو له ظلم او استبداد څخه مظلومانو ته نجات ورکول وی ، او هدف ئی د کفارو او

---

۱ ... د الروم سورة ٤٧ ایت

ظالمانو د نظامونو ختمول او د اسلامی عادل نظام راوستل وی په ټوله نړۍ باندی نو د خدای تعالی مرسته پداسی مسلمانانو باندی حق ده ، نه تش په نامه مسلمانانو باندی چی نه د اسلام او اسلامی امت کوم درد او احساس ورسره وی .

الف : یو داعی باید د ماتی په وخت کی مأیوسه او ناأمیده نشی او د بریالیتوب په وخت کی کبر او غرور ونکړی..

کله چی مونږ قرآن په ټوله نړۍ باندی قانون ګرځوو نو په شان د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم صبر او استقامت باید ولرو د ماتی په وخت کی مأیوسه او ناهیلی نه شوو د کامیابی او بریالیتوب په وخت او شیبو کی کبر ، غرور او غفلت و نکړو رسول الله صلی الله علیه وسلم چی کله د کفارو له خوا ډیر اذیت کیده نو ده به صبر او برده باری اختیاره وله څکه الله جل جلاله فرمائی :

وَ اصْبِرْ فَإِنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ

(او صبر وکړه ، الله د نیکی کوونکو اجر هیڅکله نه ضایع کویٔ دا[1]) .

د بعثت په لسم کال د رسول الله صلی الله علیه وسلم تره ابو طالب وفات شو ، نوموړی به له خپل وراره حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نه په ټول ژوند کی په کلکه ملاتړ کاوه او د ده په ټول ژوند کی قریشو ونه شوای کولای چی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته شخصاً څه ډول تکلیف ور ورسوی څکه هغوی له یوی خوا ابو طالب ته احترام درلود او له بلی خوا ئی ورڅخه ډیره کوله ، خو کله چی ابو طالب

1... د هود سورة ١١٥ ایت

وفات شو ، قریشو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زیات آزار او تکلیف کولو باندی لاس پوری کړ له همدی کبله د ابو طالب وفات د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زیات غم او خفگان سبب شو .

رسول الله صلی الله علیه وسلم دری کاله نور هم په ډیر اذیت او حرج سره په مکه معظمه کی دعوت وکړ پدی جریان د دری کلونو کی د مدینی څه خلك مسلمانان شول کله چی قریش د یثرب (مدینی منوری) د یو شمیر خلکو له ایمان راوړلو څخه خبر شول او پدی سره ئی په مکه کی پر مسلمانانو خپل ظلمونه لاپسی زیات کړل نو رسول الله صلی الله علیه وسلم مسلمانانو ته د مدینی په لور د هجرت کولو امر وکړ ، اصحابو رضوان الله عنهم ټولو په پټه سره هجرت وکړ ، خو یوازی حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه په ښکاره هجرت وکړ د مکی مشرکین ئی له خپل هجرت نه خبر کړل او ورته وئی ویل : که څوك غواړی چه مور ئی بوره شی نو سبا دی ما پسی پدی لاره راشی خو هیڅوك هم ورپسی و نه وتل ، کله چه قریش پدی باوری شول چی مسلمانان په مدینه کی د عزت او امنیت خاوندان شول نو په (دارالندوه) کی ئی مجلس وکړ تر څو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د له مینځه وړلو لپاره لاری چاری ولټوی ، په پای کی فیصله پدی وشوه چی له هری قبیلی څخه به یو تکړه ځوان انتخابیږی او بیا به دا ټول په گډه رسول الله صلی الله علیه وسلم په شهادت ورسوی ، پدی سره به ئی خون هم په ټولو قبیلو وویشل شی او بنو مناف (د مناف اولاده ، مناف د عبدالمطلب نیکه وو) به هم لدی امله چی له ټولو سره د جنگ توان نلری په دیت اخیستلو به راضی شی پدی ډول ځوانان راټول شول ، د هجرت په شپه ئی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دروازه کی د هغه صلی الله علیه وسلم د راتلو او د هغه د وژلو انتظار ویسته ،

په دغه شپه رسول الله صلی الله علیه وسلم پخپل ځای ویده نه شو او حضرت علی رضی الله عنه ته ئی وویل چی زما په ځای ویده شه او ورته وئی فرمایل چی تاته به هیڅوك ضرر و نه شی رسولی ، او امر ئی ورته وکړ چی سهار قریشو ته له ما سره د دوی ایښی امانتونه بیرته وروسپاره ، رسول الله صلی الله علیه وسلم یو موټی شګی واخیستلی او له کور نه ووت او دا شګی ئی وشنیدلی هر یو مشرك د خپلو سترګو په موښلو شو پدی حالکی رسول الله صلی الله علیه وسلم له کوره ووت او له حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه سره یو ځای غار ثور ته ولاړ ، ابوبکر رضی الله عنه لومړی غار ثور ته ننوت ټول سوری ئی په خپلی جامی باندی پټ کړل یو سوری پاتی شو رسول الله صلی الله علیه وسلم د ابوبکر صدیق رضی الله عنه په زنګانه سر کښیښود او ویده شو پدی وخت کی ابوبکر صدیق رضی الله عنه خپله پښه د غار په سوری باندی کیښودله له سوری څخه مار ابوبکر صدیق رضی الله عنه وچیچه ، کله چی رسول الله صلی الله علیه وسلم او ابوبکر صدیق رضی الله عنه له مکی څخه ووتل مشرکینو د دوی په پلټنه شروع وکړه مګر پیدا ئی نکړل جایزی ئی انتخاب کړی ، پدی عصر کی په مکه کی یو مشهور پوه قایف نومیده دا نظر ئی ورکړ چی رسول الله صلی الله علیه وسلم حتماً په غار ثور کی پټ شوی دی قایف له مشرکینو سره یو ځای د غار ثور خولی ته ورغی کله چی دوی د غار ثور خولی ته ورسیدل ګوری چی د غار په خوله کی د غنو جالی دی او د غار په مخه کی کبتری جاله جوړه کړی او په هګی باندی ناسته ده قریشو قایف دروغجن کړ او ورته وئی ویل دروغ وائی که رسول الله صلی الله علیه وسلم پدی غار کی وائی نو دا جالی به نه وی ، پدی حال کی چی قریش د غار په خوله کی ولاړ دی ابوبکر صدیق رضی الله عنه حضرت محمد صلی الله علیه

وسلم ته خطاب وکړ که دا کفار خپلو پښو ته وګوری مونږ به ووینی نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل:

لَاتَحْزَنْ إِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا

(مه خفه کیږه الله جل جلاله له مونږ سره دی[۱]) .

همداوه چی خدای جل جلاله په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی تسکین او آرامی د قلب راوستله او ملائکی ئی د دوی د مرستی لپاره مؤظفی کړی .

نو وګوری چی رسول الله صلی الله علیه وسلم د ماتی په وخت کی مأیوسه او ناأمیده نه شو ، کله چی دری شپی او ورځی ئی په غار ثور کی تیری کړی پس له هغه څخه ئی د بحر احمر په غاړه د مدینی په لوز د هجرت لپاره حرکت پیل کړ پدی دری ورځو کی کفارو هیڅ ځای بی لټولو پری نښود د قریشو ټولو قبیلو د دی اعلان وکړ که هر چا رسول الله صلی الله علیه وسلم او ملګری ئی پیدا کړل یا ئی وواژه او یا ئی ژوندی ونیوه ، نو هغه ته به زیاتی پیسی ورکړی ، پدی اعلان سره سراقه بن جعشم کلکه ملا وتړله او عزم ئی وکړ چی دا کار به کوی تر څو دا جائزه په یوازی توګه سره وګټی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم او ابوبکر صدیق رضی الله عنه د سری بحیری په څنډه ډیره مسافه طی کړی وه چی سراقه وروپسی ورغی خو کله چی ورنږدی شو د آس پښی ئی په شګو کی ننوتی او له تګه ولوید ، دری ځله ئی د دی کوښښ وکړ چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په طرف ورشی خو وئی نه شواي کولای نو ئی باور راغی چی د یوه کریم رسول الله صلی الله علیه وسلم په وړاندی قرار لری نو له رسول الله صلی الله علیه وسلم

۱... د التوبه سورة ٤۰ ایت

د افغانستان د اسلامی خلافت د تحریك مهم اهداف

۱ ــ د خپل ځان اصلاح

۲ ــ د خپل کهول (فامیل) اصلاح

۳ ــ د ټــولنی اصلاح

٤ ــ د وطــــن نجات

٥ ــ د حکومت اصلاح

٦ ــ د اسلامی ځمکو او سیمو آزادول

۷ــ په ټوله نړۍ کی د اسلامی دعوت خپرول

۸ ــ په ټوله نړۍ کی د اسلامی خلافت بیا را ژوندی کول .

۹ ــ قــــــــــرآن د ټول جهان قانون گرځول .

څخه ئی وغوښتل که له تا سره مرسته وکړم نو د څه شی وعده راکوی رسول الله صلی الله علیه وسلم پداسی حال کی چی سراقه بن جعشم د ده مبارك د قتل لپاره ورغلی ، د فارس د کسری د زیوراتو د وراغوندلو وعده ورکوی ، کله چی د حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه د خلافت په دوره کی د فارس امپراطوری د مسلمانانو په لاسونو فتحه شوه نو سراقه بن جعشم حضرت عمر رضی الله عنه ته ورغی چی رسول ا لله صلی الله علیه وسلم له ما سره د کسری د زیوراتو د پوشلو وعده کړی حضرت عمر رضی الله عنه هغه وعده ورسره پوره کړه او د فارس د امپراطوری د کسری په زیوراتو ئی وپوښه .

نو یو داعی ته مناسب ده چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په څیر لاره ونیسی چی د ماتی په وخت کی مأیوسه او نا أمیده نه شی بلکی د ماتی خوړلو په وخت کی د الله تعالی مدد ته انتظار وباسی ، یو داعی باید با عزم و اوسی د کوم شخص ، حزب یا حکومت په سیاسی ، اقتصادی ، نظامی او نورو فشارونو باندی د دعوت میدان پری نږدی ، که تاسی داسی کس کوم وخت ولید نو دا داعی ندی .

نظر وکړی زمونږ مفکر شیر صفت داعی شهید استاد سید قطب رحمة الله علیه ته کله چی د مصر طاغوتی حکومت دی او د ده داعیان ملگری د دار په میزونو درولی او د دار کړی ئی په مبارکو غاړو کی پرتی وی پدی حالت کی د حکومت یو افسر له خپل موټر سره راځی او وائی اعدام معطل کړی زه له شهید سید قطب سره غږیږم د اعدام کړی ئی د شهید سید قطب رح له مبارکی رقبی څخه لری کړه افسر ورسره جلا غږیږی او یو تیار لیکلی شوی لیك ورکوئی چی دا امضاء کړه پدی مکتوب کی لیکلی شوی چی زه له اسلامی مبارزی او دعوت څخه صرف نظر کوم شهید سید قطب رحمة الله علیه د مکتوب له امضاء کولو څخه

ډېره وکړه ، دی او داعی ملګری ئی څو دقیقی بعد اعدام کړ شول .

نو یو دعوتګر باید د بریالیتوب په وخت کی کبر ، غرور او غفلت و نکړی کله چی رسول الله صلی الله علیه وسلم مکه معظمه فتحه کړه په اوښ باندی سپور وه او مکی ته ننوت پدی اندازه تواضع او عاجزی ئی اختیار کړی وه او دومره ئی خپل سر ټیټ نیولی وه چی مبارکه سپینه ږیره ئی د اوښ په موړلګیدله ، نو دا دی د یوه داعی ، تحریکی او اسلامی مبارز خاصیت چی د ماتی په وخت کی به نه ناامیده کیږی ، مبارزه او دعوت به نه پریږدی او د بریالیتوب په عصر کی به کبر ، غرور او غفلت نه کوی ، که دا دوه فورمولونه مونږ په نظر کی ونیسو انشاء الله بیا به ډیر زر اسلامی خلافت په ټوله نړۍ کی را ژوندی شی مسلمانان به د غلامی او ذلت له ژوند څخه نجات پیدا کړی د عزت او قوت په دروازه به ورننه وزی .

مونږ څکه نه نا امیده کیږو چی الله جل جلاله له مونږ سره ملګری دی او الله جل جلاله مونږ ته کافی دی زمونږ کار ساز ، ښه څښتن او مرستندوی دی .

حَسْبُنَا اللّٰهُ وَ نِعْمَ الْوَكِيْلُ (زمونږ لپاره خدای جل جلاله کافی دی او هماغه ډیر ښه کار جوړونکی دی) د آل عمران سورة ۱۷۳ آیت

نِعْمَ الْمَوْلٰى وَ نِعْمَ النَّصِيْرُ (هغه ډیر ښه ساتونکی او مرستندوی دی) د انفال سورة ۴۰ آیة

یو داعی او تحریکی باید د ماتی په وخت کی غافله نشی چی هر څه پریږدی او په کوم فشار یا تهدید سره میدان خوشی کړی ، که کوم وخت له ماتی سره مخامخ کیږی باید ثابت قدم ، زړور او امیدوار واوسی څکه حق تل بریالی دی او باطل همیشه له مینځه تلونکی دی .

كَمْ مِّنْ فِئَةٍ قَلِيْلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيْرَةً بِاِذْنِ اللّٰهِ ۗ وَ اللّٰهُ

مَعَ الصَّبِرِيْنَ (ډير څله داسي شوي دي چي يو وړوکي ټولګی د الله جل جلاله په امر پر يوی لويی ډلی برلاس شويدی ، الله د صبر کوونکو ملګری دی) 1

دعوتګره ته وګوره د افغانستان جهاد ته ، د وخت حکومت هم د روسانو مزدور حکومت وه د افغانستان مسلمان ولس کوم نظامی اداری او سياسی تشکيلات هم نه درلودل خو له لوئی امپراطوری سره ئی مقابله شوه بلآخره مجاهد ولس بريالی شو ، افغان مجاهد ولس ته بريالیتوب الله جل جلاله ورکړ ، انشاء الله د اسلام دا بل لوی دښمن امريکا به هم د روس په شان دړی وړی شی او بيا به انشاء الله د اسلامی خلافت د لمر وړانګی د نړۍ په مخ خوری شی ، او مخلوق به د بنده له بنده ګی خلاص او د يوه خدای جل جلاله په بنده ګی کی شامل شی ، ځکه حق د خدای نوم دی او حق غالب دی د دی پخاطر الله تعالی حضرت محمد صلی الله عليه وسلم ته ووېل چی ووايه :

وَ قُلْ جَآءَ الْحَقُّ وَ زَهَقَ الْبَاطِلُ ط إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوْقًا .

(او اعلان وکړه چی حق راغی او باطل له مينځه لاړ ، باطل له مينځه تلوونکی دی[2]) .

دغه اعلان په هغه وخت کی شوی وه چی کله يو زيات شمير مسلمانانو مکه پريښی او حبشی ته ئی هجرت کړی وه او باقی پاتی مسلمانان د سختی ، بی کسی او مظلوميت په حال کی په مکه او د مکی په شاوخوا کی ژوند تيراوه او په خپله پيغمبر صلی الله عليه وسلم

---

1 . . . . د البقره سورة ۲۴۹ ايت

۲ . . . . د بنی اسرائيل سورة ۸۱ ايت

ته هر وخت د سرخطر متوجه وو ، په هغه وخت کی په ظاهره باطل بر لاسی وه او د حق د بر لاسی نښی نښانی چیرته له ورایه هم تر نظره نه راتلی ، مگر په همدغو ترخو شرایطو کی پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته حکم وشو ، چی ته په ظاهره دغو باطل پرستانو ته واوروه چی حق راغی او باطل له مینځه لاړ ، پدغسی وخت کی دغه حیرانوونکی اعلان خلکو ته یوازی د خولی پف ښکاره شو او په کړس کړس ئی ور پوری وخندل ، خو پدی اعلان « ۹ » نهه کاله تیر شوی وو چی پیغمبر صلی الله علیه وسلم همغه د مکی ښار ته د فاتح په توګه ورننوت او کعبی ته ورغی هغه باطل ئی ایسته کړ چی د « ۳٦۰ » دری سوه شپیتو بتانو په بڼه کی هلته په ځای شوی وه ، او دا «۳٦۰» بتان رسول الله صلی الله علیه وسلم دړی وړی کړل او جآء الحق و زهق الباطل ، إن الباطل کان زهوقا به ئی په مبارکه ژبه زمزمه کوله .

داعی که ته د ماتی په وخت کی مأیوسه ، نا امیده او غافله شی پدی باید پوه شی چی بیا به تر آخره ته د موفقیت په دروازه ورننه نه وځی ، تا پدی نا امیدی ، مأیوسی او غفلت باندی ځان د ماتی کندی ته گذار کړ ، صحیح ده چی انسان فطرتاً د ماتی خوړلو په وخت کی ملول او خفه کیږی ، خو دا ملول والی او خفگان ئی باید د نامیدی ، مأیوسی او غفلت سبب نه شی ، یو مسلمان مبارز باید په څیر د غره ثابت قدم واوسی ، په څیر د څپو د سیند طوفانی او هیبت ناك واوسی ، په څیر د ښکاری باز تیزاو لوړ پروازی واوسی ، هیڅ مشکل باید د ده په پولادی اراده باندی خلل وارد نکړی او هیڅ تند باد دی باید له خپل ځای څخه جګ نکړی او هیڅ شکست دی باید نا امیده او مأیوسه نکړی ، که داعی دغه پورتنی اوصاف په ځان کی پیدا کړل بریالیتوب ئی هم انشاء الله حتمی او مسلم دی .

یو داعی باید د ماتی په وخت کی د خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم د دعوت مشکلاتو ته نظر وکړی بیا به هیڅ کله هم غافل او ناهیلی نه شی ، د بعثت په لسم کال کله چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم تره او ښځه ئی وفات شول وروسته له هغه څخه د قریشو له ظلمونو نه ډیر تنګ شو نو ئی طایف ته مخه کړه پدی ګمان چی ګوندی په اهل ثقیف کی د خپل دعوت لپاره قبلوونکی او کمك کوونکی پیدا کړی ، مګر هغوی ډیره بده رویه ورسره وکړه او خپل ماشومان ئی ورتوش کړل هغوی رسول الله صلی الله علیه وسلم په تیږو وویشته تر دی چی پر دواړو مبارکو پښو ئی وینی وبهیدی ، بیا د طایف یوه باغ ته ننوت او خدای جل جلاله ته ئی د دعا لاسونه پورته کړل او وئی ویل : ای الله تا ته د خپلی ناتوانی ، بی وسیلګی او د خلکو په نزد د بی قدری نه شکایت کوم ، یا ارحم الراحمین ته زما او د کمزورو رب ئی ، چا ته می پریږدی ، هغه پر دی ته می پریږدی چی ډیر بد را ته ګوری ، او که دښمن ته می ورسپاری ، که ته ناراضه نه وی نو د هیڅ چا پروا نه لرم ، خو ستا عافیت را ته له هر څه پراخه دی ، ستا د مخ په هغه نور چی تیاری پری روښانه شوی ، د دنیا او آخرت کار وربانددی برابر شوی ، ستا له قهر او غضب څخه پناه غواړم ، ستا رضا زما رضا ده ، که ستا مرسته نه وی نه د نیکی وس لرم او نه له بدی څخه د منع کیدلو قدرت لرم .

له اسلامی دعوت څخه د مکی د خلکو اعراض او مخ اړونی نه وروسته طایف ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم تګ پدی دلالت کوی چی هغه صلی الله علیه وسلم د خپل دعوت د دوام او استمرار لپاره کلك عزم او تصمیم درلود ، د خلکو اعراض او نه قبلوني وربانددی منفی اثر نه وه کړی ، او نه په دی سره مأیوس شوی وه ، که دا ځای د دعوت

پر مخ بند شو نو د بل ځای په لټه کی به شو همدا راز د ثقیفی د بی عقلانو او ماشومانو له خوا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته آزار ورکول د دی دلیل دی چه د شرطبیعت هر ځای چه وی یو دی .

د محمد صلی الله علیه وسلم له مبارکو پښو څخه د وینو بهیدل د هر داعی لپاره لوړ مثال او عظیم الشأن عبرت دی چه تر کومه حده باید یو داعی د الله جل جلاله په لاره کی تکلیف وګالی ، د طایف په هغه باغ کی د رسول الله صلی الله علیه وسلم دعا د دی څرګندونه کوی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په حقه د الله جل جلاله له رضا پرته بل څه ورته اهمیت نه درلود ، د مشرانو ، رهبرانو او عامو خلکو خوشحالی ورته څه ارزښت نه درولود .

لم یکن بك غضب علـــی فـــلا أبالی

(که ستا غضب را باندی نه وی نو د هیڅ شی پروا نلرم) .

دا دعا همدا راز درس راکوی چه د قوت غوښتنه یوازی له الله تعالی نه باید وشی ، داعی ته په کار ده چه د سختیو په وخت کی الله تعالی ته رجوع وکړی او له هغه جل جلاله نه مرسته وغواړی ، او پدی دعا کی د داعی یو بل صفت هم ښوول شویدی او هغه دا چه داعی یوازی د الله تعالی له قهر او غضب نه وویریږی او د بل چا قهر او غصه ورته بی ارزښته وی .

ب - یو داعی باید نرم خویه او با حکمته واوسی :

کله چی مونږ غواړو قرآن په ټوله نړۍ باندی قانون کړو نو لازمه ده چی د اخوان المسلمین د عام مرشد شهید امام حسن البناء رحمة الله علیه دا قول هیر نکړو هغه مبارك فرمائی چی د اسلامی نهضت غړیه ته باید شجر با ثمر (ونه میوه داره) واوسی که چا په ډبری باندی وویشتلی په مقابل کی باید میوه ورکړی لکه هغه ونه چی

ځوك ئی په ډېره ولی هغه میوه ورکوی نو ته هم ځان د دی صفت وړ وګرځوه .

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته خدای جل جلاله فرمایلی :

وَ لَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيْظَ الْقَلْبِ لَا نْفَضُّوْا مِنْ حَوْلِكَ

(که داسی نه وای او ته تند خویه او سخت زړه وای نو دا ټول به ستا له شا وخوا نه خواره شوی وو[۱]) .

یو داعی ته مناسب ده چی تند خویه او سخت زړه و نه اوسی ځکه مونږ قرآن د ټولی نړۍ قانون او دستور ګرځوو ، باید ښه اخلاق او نیکه رویه خپل خصلت او عادت وګرځوی او په اجتماع کی له خلکو سره په ورین تندی معامله وکړی او د حق لاری ته خلك په ښه طریقه را دعوت کړی ، صحیح ده چی د میوه داری ونی خصلت پیدا کول انسان باندی ثقیل تمامیږی ، خو یو دعوت ګر ته دا مناسب نده چی له هر جاهل او خودخوا سره درسی سرټینګ ونیسی یو داعی سره دا ښائی چی جهالو ته ګذشت او درسی سرورخوشی کړی پوه خلکو سره په حکمت معامله وکړی ، او نادانه خلك هم په حکمت سره اصلاح کړی .

أُدْعُ إِلَىٰ سَبِيْلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَ الْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَ جَادِلْهُمْ بِالَّتِيْ هِيَ أَحْسَنُ

(ای پیغمبره د خپل رب د لاری په لوری په حکمت او غوره نصیحت سره بلنه وکړه ، او له خلکو سره پداسی ډول مباحثه وکړه چی ډیره غوره وی[۲]) .

پدی پورتنی مبارك آیة شریف کی الله تعالی حضرت محمد صلی

---

۱ ... د آل عمران سورة ۱۵۹ ایت
۲ ... د النحل سورة ۱۲۵ ایت

الله علیه وسلم ته د حکمت او احسن والی حکم کړی ، نو زه دلته لازم بولم چی په خلص ډول پدی دواړو مسئلو باندی رڼا واچوم.

حکمت :

حکمت په لغت کی علم یا عمل ته وائی ، او په اصطلاح کی له حکمت نه مطلب دادی چی د ناپوهانو غوندی بی سنجشه تبلیغ و نه شی ، بلکی په پوره پوهی سره دی دمخاطبانو د ذهنیت او استعدادونو او شرایطو په نظر کی نیولو سره ، دغه راز د وخت او ځای په نظر کی نیولو سره دی عمل وشی ، هر ډول خلك دی په یوه کانی نه تلی ، کوم وګړی یا ډلی سره چی ئی مخه شی لومړی باید دی د هغو ناروغی وپیژنی بیا دی پداسی دلیلونو سره د هغوی تداوی وکړی چی بیا د تل لپاره له ناروغی څخه نجات ومومی .

د غوره نصیحت دوه مطلبه دی :

یو دا چی یوازی په دلایلو سره د مخاطبانو په ډاډه کولو اکتفاء و نشی بلکی د هغو احساسات هم راولړزول او تحریك شی ، بدی او ګمراهی یوازی په عقلی دلایلو باطلی و نه ښودل شی ، بلکی د انسان په فطرت کی چی له هغو نه کومه کرکه پرته ده هغه دی هم را وپارول شی ، او د هغو د ناوړه نتیجو څخه دی ووېرول شی ، د هدایت او غوره عملونو سموالی او ښیګڼه دی یوازی په عقلی ډول ثابته نکړی بلکی د هغی لوری ته د مینه او میلان هم پیدا کړی .

دوهم مطلب د غوره نصیحت دادی چی نصیحت دی پداسی توګه وشی چی د زړه سوی او خواخوږی پر بنسټ ولاړ وی ، مخاطبان دا ګمان ونکړی چی ناصح هغوی سپك ګڼی او د خپلی لوړتیا له احساس څخه خوند اخلی ، بلکی هغوی دا درك کړی چی د ناصح په زړه کی د هغوی د اصلاح لپاره مینه او کوښښ شته او په حقیقت کی د هغوی خیر

و ښیګڼه غواړی .

نو یو داعی ته مناسب ده چی سخت زړه او تند خویه و نه اوسی ، بلکی باید په دعوت کی حکمت ، ښه نصیحت ، اخلاص او ښه نیت ته پاملرنه وکړی .

ج - د یوه دعوتګر قول او عمل باید یو شان وی :

کله چی مونږ غواړو قرآن د نړئ ستور کړو او تللی اسلامی خلافت چی د مسلمانانو عزت او آبرو ده یو ځل بیا راژوندی کړو ، نو مناسب ده چی خپل قول او عمل یو شان وګرځوو ، تر څو زمونږ خبری په خلکو تأثیر وکړی ، تاسی وګوری هغه خلك چی یوازی وینا کوی مګر پر خپلی وینا په خپله هم عمل نکوی نو خلك پداسی وینا کوونکو باندی ملنډی وهی ، زما په نظر خلك د استهزاء کولو حق لری ځکه عمل ئی نشته خبری ئی شته نو زه د تحریك خلافت اسلامی افغانستان ټولو غړو ته وایم چی له اقوالو څخه مخکښی مو اعمال ښه کړی ځکه کله چی مو اعمال ښه وی خلك مو خبرو ته غوږ نیسی او هم مو خبری پر خلکو ښه تأثیر کوی پدی هکله زه د قرلن کریم څو مبارك آیاتونه درته بیان وم.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ

(ای مؤمنانو تاسی ولی هغه څه وائی چی کوئ ئی نه[۱]) .

۱... د الصف سورة ۲ ایت

كَبُرَ مَقْتاً عِنْدَاللّٰهِ أَنْ تَقُوْلُوا مَا لَا تَفْعَلُوْنَ

(د الله جل جلاله په وړاندې دا ډير ناوړه حرکت دې چې تاسی هغه څه ووائی چې کوئی ئی نه[۱]) .

د يوه رښتينی مسلمان وينا او عمل بايد سره سمون ولری څه چې ووائی هغه بايد په عمل کی ثابت کړی که د کولو نيت يا جرئت ئی نه وی نو په خوله د هم نه وائی ، ويل يو څه کول بل څه د انسان د هغو ډيرو بدو صفتونو څخه دی چې د الله تعالی په نظر کی ډير زيات د غضب وړ دی .

أَتَأْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَ تَنْسَوْنَ أَنْفُسَكُمْ

(تاسی خو نورو ته د ښې لارې غوره کولو له پاره واياست مګر خپل ځان هيروئ[۲]) .

بعضی خلك شته چې خپله حرام خوری او بل ته وائی حرام خوړل بد دی ، خپله غيبت کوی خو بل ته د غيبت کولو څخه پرهيز ورکوی ، خپله دروغ وائی مګر بل له دروغ ويلو څخه منع کوی ، يو داعی لومړی بايد خپل ځان له ناجايزه شيانو څخه وساتی بيا بل چا ته د هدايت حکم وکړی ، اول بايد ځان پاك کړی بيا بل ته د پاکوالی حکم وکړی ، هر هغه کس چې ځان ئی نه وی اصلاح کړی بل څوك نه شی اصلاح کولی ، ځکه که له تا سره څه شی نه وی موجود نو بل چا ته به څه شی ورکړی اول ځان اصلاح کړه بيا بل څوك هم اصلاح کولای شی .

يو داعی بايد له ټولو څخه مخکی خپل اعمال کنترول کړی امر په ښو کارونو منع له بدو او حرامو کارونو څخه وکړی ، له فحشا څخه

۱... د الصف سورة ۳ ايت
۲... د البقره سورة ٤٤ ايت

لومړی هدف

د ځان اصلاح

یو مسلمان به د خپل ځان په اصلاح او روزنه داسی لاس پوری کوی چه خپل وجود به قوی کوی په خپل ځان کی به ښه اوچت خویونه او اخلاق پیدا کوی د اسلامی تنظیم په سلیم او روغ فکر به سنجش کوی له حلالی روزی ځخه به خپل ځان تغذیه کوی .

د خپلی عقیدی په خلوص او سوچه والی کی بَه کوشش کوی د الله تعالی عبادت به په صحیح او مناسبه توګه اداء کوی له خپل نفس سره به جهاد کوی ، د خپل وخت قدر به په پوره ټوکه پیژنی او د خپل ژوندانه چاری به په اسلامی اصولو سره تنظیموی او د یوه ګټور او نافع غړی په توګه به په خپله ټولنه کی ژوند تیروی او دا کار د هر مسلمان غړی وظیفه ده

له فحشا ځخه به ځان ساتی ځکه ساز د کفر دروازه ده که دروازه بنده وی نو انسان نشی کولای اطاق ته داخل شی واقعی مسلمان لره لازمه ده چه اسلام د ژوندانه په ټولو اړخونو کی تطبیق کړی ځکه الله جل جلاله فرمائی :

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱدْخُلُوا۟ فِى ٱلسِّلْمِ كَآفَّةً[1]

ای مومنانو تاسی په هر اړخیز ډول په اسلام کی ننوځی یعنی په اسلام کی په پوره او مکمل ډول داخل شی دا نیمه او ناقصه مسلمانی لری کړی ځکه د واقعی مسلمان له شان سره دا نه ښائی چه هم مسلمان

---

1 .... د بقره سورة ۲۰۸ ایت

باید پیرځان لری وساتی دی باید د عالم اسلام د ناموسو ساتنه وکړی ، خپله خو په کلی ډول پرهیز وکړی ، او د فحشا مخه باید په هر قیمت چی تماميږی ونيسی .

يوه ورځ حضرت محمد صلی الله عليه وسلم ته يو صحابی رضی الله عنه راغی او ورته وئی ويل چی ما ته د زنا کولو اجازه راکړه رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل که ستا له مور سره څوك زنا وکړی آيا ته ئی تحمل کولای شی ؟ صحابی رضی الله عنه ورته وويل ای رسول الله دا ته څه وائی زه دا شی قبولی شم ؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل آيا بل څوك ئی څنګه قبول کړای شی ؟ بيا ئی ورته وويل که ستا له خور سره څوك زنا وکړی آيا ته ئی تحمل کولای شی ؟ بيا دی شخص ورته وويل ای رسول الله دا څه وائی ؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل چی ته ئی نه شی قبولولای نو بل څوك ئی هم نه شی قبولولای ، رسول الله صلی الله عليه وسلم تر خاله او عمه (تروركانو) پوری ټول ورته ياد کړل بيا دی صحابی رضی الله عنه توبه وويستله او رسول الله صلی الله عليه وسلم د ده په قلب ورته لاس کيښود او دعائی ورته وکړه ورروسته له هغه څخه تر آخره د عمره دا صحابی له دی آفت او مصيبت څخه نجات پيدا کړ او ويل به ئی چی په ټول ژوند کی می له زنا څخه ډير بد راځی .

د - يو داعی باید د امام اعظم رحمة الله عليه په شان مجاهده او فدا کاری ولری :

يو داعی ته مناسب ده چی د خپلو امامانو ثبات او استقامت ته نظر وکړی او د عبرت درس ورڅخه واخلی ، امام اعظم رحمة الله عليه ته په خپل وخت کی د زمامدارانو له طرفه څو ځلی د قضا منصب وړاندی شو ولی ده د قضا منصب قبول نه کړ او د ده علمی او لوړ

شخصیت دا إجازه ورنکړه چې ځان د زمامدارانو د وخت د لاس آله وګرځوی او د ده د علمي شخصیت څخه ناروا ګټې پورته کړی پدی مکله ده ته زیات تهدیدونه هم متوجه شول حتي څه وخت بندی شو او په دورو ووهل شو ، د دی ټولو تهدیدونو سره سره ده مقاومت وکړ او په ځان ئی دا مشکلات قبول کړل ولی د وخت د زمامدارانو هغو آرزوګانو ته چې د علمي ارزښتونو سره ئی سمون نه درلود ځان تسلیم نکړ .

د امام اعظم صاحب فدا کاری ته مو سلام خو مونږ هم د امام اعظم صاحب د مذهب والی ادعاګانی کوو کله ځانونه د امریکی غلامان کړو ، کله ځانونه د ظاهر شاه هم پیمانان او متحدین وګرځوو ، کله ځانونه د غرب مزدوران او ایجنټان کړو ، کله له کمونستانو او غرب ګرایانو سره ائتلافی حکومتونه جوړ وو ، کله ځان د اسلامی نهضت ټیکه داران کړو او د امام حسن البناء رحمة الله علیه د خط دعوی کوو ، عجیبه قیصه ده مونږ چیرته او امام اعظم رحمة الله علیه چیرته ، امام اعظم صاحب دقضا د منصب د نه قبولو په سبب تهدید کیده په بندیخانه کی ئی شپی او ورځی تیرولی او بلأخره په دورو باندی کوبل کیده ، مګر مونږ د قدرت ، څوکی ، خودخواهی او د منصب حاصلولو پخاطر د مظلومو مسلمانانو په ژوند ، عفت ، عزت او وینی باندی لوبی کوو ، نو دا یو واقعیت دی چې مونږ له امام اعظم رحمة الله علیه سره خپل ځانونه نه شوو برابرولای ، خو خدای تعالی دی مونږ په شان د امام اعظم رحمة الله علیه وګرځوی چې په حق مین و اوسو ، نه په ملصب ، چوکی او قدرت مینان .

د تحریك خلافت اسلامی افغانستان غړیه په ځان کی دی د امام اعظم رحمة الله علیه په شان نیك او غوره اوصاف پیدا کړه .

عجیبه خو قیصه ده دعوی خو د مذهب کړو .

قانون خو مو غربی پیشن مو امریکائی دی

زمونږ تربیوی اړخ تصوف (تصفیه) او نظم مو عسکری دی :

د تحریک خلافت اسلامی افغانستان غړیه کوښښ وکړه چی لوړی خپل قلب تصفیه کړی ځکه که ستا زړه پاك او تصفیه نه شی نو ته له مونږ سره تر آخره پدی اوږد سفر او د داعیانو په کاروان کی حرکت نه شی کولای ځکه زمونږ تربیوی اړخ تصوف او د قلب پاکوالی دی او زمونږ نظم عسکری دی ، نو خپل زړه د الله په یادولو صفاء کړه :

أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ

(خبردار اوسئ ! همدغه د الله یاد هغه شی دی چی په هغه سره زړونو ته ډاډینه وریه برخه کیږی[۱]) .

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا

(ای مؤمنانو یاد کړی خدای جل جلاله په یادولو ډیرو سره[۲]) .

إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ

(ریښتینی مؤمنان خو هغه دی چی د هغو زړونه د الله جل جلاله د یاد په اوریدلو لړزیږی او کله چی د هغو په وړاندی د الله ایتونه لوستل کیږی نو د هغو ایمان زیاتیږی او هغوی په خپل رب باندی اعتماد

۰۰۰۱ د الرعد سورة ۲۸ ایت
۰۰۰۲ د الاحزاب سورة ٤۱ ایت

لری) 1

نو د یوه داعی لپاره مناسب ده چی د خپل قلب د صفاء کولو لپاره د شپی قیام (د تهجد لمونځ) وکړی په دی سره د انسان زړه تزکیه او پاکیږی او د انسان همت لوړیږی ، نو زمونږ هر تحریکی ورور باید أقلا په هفته کی یوه شپه د تهجد لمونځ وکړی .

یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم اصحابو رضوان الله عنهم ته خطاب وکړ چی هر شی زړیږی لکه انسان ، جامه او حیوان نو ایمان هم زړیږی تل لا اله الا الله وائی چی ایمان مو نوی شی ، په یوه حدیث شریف کی راغلی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی که کوم وخت یوه مسلمان ته سخت مشکل کار پیښ شو نو (حسبنا الله و نعم الوکیل) ډیر و وائی انشاء الله خدای تعالی به ئی مشکلات حل کړی .

زه د تحریك خلافت اسلامی افغانستان ټولو غړو ته خطاب کوم چی مأثوره دعاګانی روزمره خپلی وظیفی وګرځوی او پدی هکله د شهید امام حسن البناء رحمة الله علیه د الماثورات رساله لاس ته راوړی .

زمونږ نظم عسکری دی :

نو یو عسکر د خوشحالی او خفګان په وخت کی د خپل قوماندان د حکم اطاعت کوی او د خپل عسکری نظم ساتنه کوی ، کله چی په عسکری قانون کی درجی تر فیعات او مکافات شته ، او په اساس د سابقداری ، استعداد ، اخلاص او کوښښ مقامونه ورکول کیږی ، نو د تحریك خلافت اسلامی افغانستان په جماعت کی هم په اساس د سابقداری ، استعداد ، اخلاص او کوښښ سره ترفیعات او مقامونه

---

1 .... د الانفال سورة ۲ ایت

ورکول کیږی .

رسول الله صلی الله علیه وسلم د اسلام ستر قوماندان او قائد وه اصحابو رضی الله عنهم به ورځخه په کلکله دفاع کوله کله چی د بدر غزا شروع کیده پدی وخت کی حضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه نظر ورکړ چی باید رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د مسلمانانو د لیکو تر شا یوه ځیره جوړه کړای شی ، که فتحه وه نو ښه زما او ښه ستا او که نه نو پخپل مرکب به سپور شی او په مدینه کی به له خپلو پاتی اصحابو رضی الله عنهم سره یو ځای شی .

د احد د غزا په ورځ کله چی یوی ډلی د مسلمانانو د رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت ځخه سرغړونه وکړه چی دا سرغړونه سبب د ناکامی د مسلمانانو وګرځیده پدی وخت کی مسلمانان د مدینی په لور وتښتیدل ، مشرکین رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورسیدل او نیزی ئی د ده مبارك په وجود ننوتی تر ځو په ځمکه راولوید او بی هوشه شو او مبارك مخ ئی زخمی شو ، ګونډی ئی هم وینی شوی لاندینی شونډه ئی هم ټپی شوه ، د سرخولی ئی ماته شوه او دوه کړی ئی په مخ کی ننوتی ، مشرکینو له هر خوا په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی حمله راوړه تر ځو په شهادت ئی ورسوی ، خو د الله رسول صلی الله علیه وسلم له یو شمیر مسلمانانو سره یو ځای د غره په شان ودرید ، د مؤمنانو له جملی نه ورسره ابودجانه ؤ چی ځان ئی د مشرکینو د غشو په وړاندی د رسول الله صلی الله علیه وسلم سپر ګرځولی ؤ ، غشی د ده په شا لګیدل ، بل ورسره سعد بن ابی وقاص ؤ چی هغه ورځ ئی تقریبا زرغشی وار کړل ، همدا راز هلته نسیبه ام عمارة الانصارية وه د زخمیانو اوبه ورکول ئی پریښودل توره ئی واخیسته جنګ ئی پل کړ په توره وهل کوی او غشی هم ولی تر ځو له رسول الله صلی الله علیه

وسلم څخه دفاع وکړی ، په پای کی په غاړه کی ولګیده سخته ټپی شوه ، لدی سره ئی میړه او دوه زامن هم حاضر وه .

د حنین د غزا په ورځ کله چی مسلمانان له حضرت محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه تیت شول یوازی ام سلیم بن ملحان سره له دی چی حامله هم وه خو خپله ملاتی کلکه په ټکری تړلی وه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ئی دفاع کوله .

د جنګ کتل او د دعوت بری دواړه غوښتنه کوی چی عسکر باید د قوماندان د ژوند په هکله ډیر محتاط واوسی ، ځکه دا د دعوت د کامیابی او جګړی ګټلو غوښتنه ده ، قوماندان او قائد هم باید دا احتیاطی تدابیر ومنی ، ځکه د قائد ژوند په حقیقت کی د دعوت ژوند دی او له مینځه تګ ئی د جګړی بایلل او د دعوت ماته ده ، ومولیدل چی رسول الله صلی الله علیه وسلم د بدر په غزا کی پدی راضی شو چی ورته یوه څپره جوړه کړای شی او دا مو هم ولیدل چی په نورو غزاګانو لکه (احد او حنین) کی صادق او مخلص مؤمنان او مؤمنی ښځی په څه ډول د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر شا او څوا را ټولیدل ، هغه مبارك به ئی له غشو څخه ساته ، ځانونه به ئی مرګ ته ورکول خو د رسول الله صلی الله علیه وسلم دفاع به ئی کوله ، دا کله هم نده پیښه شوی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم لدی کار څخه منع کړی وی ، یا ئی بد بللی وی ، سره له دی چی د هغه (صلی الله علیه وسلم) له عظیم غیرت سره سره الهی تائید هم ور په برخه ؤ بلکی ورڅخه راتول شوی خلك ئی ستایلی ، لکه چی د نسیبه ام عمارة ستاینه کوی ، او ورته دوعا کوی چی الله جل جلاله د هغه او د هغی میړه او اولاد په جنت کی د ده صلی الله علیه وسلم ملګری کړی .

وګوری کله چی یو عسکر د خپل لښکر نظم ساتی او د خپل قائد

فرماندهی ته غاړه ږدی په عین حال کی د خپل قائد ساتنه او نگهبانی هم کوی ځکه د ده د لښکر ماته د قائد په نابودی کی ده نو باید قائد هم د خپل لښکر سلا او مشوره په نظر کی ونیسی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم کله چی د بدر له غزاء سره مخامخ شوله اصحابو رضی الله عنهم سره ئی مشوره وکړه مهاجرینو د جنګ کولو مشوره ورانډی کړه کله چی انصار پوه شول چی مهاجرین جنګ کول غواړی نو د انصارو مشر سعد بن معاذ رضی الله عنه د انصارو په نمایندګی وویل قسم په هغه ذات چی ته ئی په حق راستولی ئی که په بحر کی د ځان غورځولو امر را ته وکړی مونږ به ټول له تا سره یو ځای بحر ته ځانونه واچوو .

هـ - تحریك خلافت اسلامی افغانستان له هیڅ مسلمان سره اختلاف نلری :

تحریك خلافت اسلامی افغانستان له هیڅ مسلمان سره اختلاف نه لری هر هغه څوك چی کلمه د لا اله الا الله محمد رسول الله وائی زمونږ ورور دی ولوکه په هر رنګ وی یا د هر قوم یا قبیلی غړی وی یا د هر هیواد اوسیدونکی وی یا د هر نژاد څښتن وی ، ځکه زمونر اصل قرآن او نبوی سنت دی ، مونږ په فروعا توکی له چا سره اختلاف نه لرو ، زمونږ تحریك د اسلامی خلافت د بیا را ژوندی کولو تحریك دی نه د عالم اسلام د اختلاف تحریك پداسی حال کی چی عالم اسلام په اور کی سوځی ، بی دینه قوتونو شرق او غرب ټولو کفارو لاسونه سره یو کړی تر څو د اسلام ټغر په ټوله نړۍ کی راغنډ کړی ، فعلا په ټوله نړۍ کی د مسلمانانو کورونه ورانیږی مسلمانان زندانی کیږی مسلمانان اعدام کیږی ، لو زمونږ د تحریك خلافت اسلامی افغانستان دا وظیفه ده چی د عالم اسلام په سر باندی چی کوم اور بل دی پدی اور باندی اوبه واچوو نه چی لمن ورته ووهو ، مونږ د مسلمانانو وحدت ، اتفاق او اتحاد

غواړو ، مونږ نه غواړو چې عالم اسـلام دې پدې بل کړې شوی اور کې ایـرې شي او بلکل له نړۍ څخه محوه کړای شي ، هغه ډله یا کسان چې په نامه د فروعـاتو د عالم اسـلام په مینځ کې اختلاف ته لمن وهي زمونـږ په نزد مـردود دي ، مونـږ دا عمل غیر اسلامی عمل بولو ، او دا ډول تنظیمونه او اشخاص زمونـږ د جماعت په نزد د کفارو مـزدوران دي چې د یهودانو او عیسویانو له خوا دې نا مقدسې وظیفې ته توظیف او ټاکلی شوي دي ، نو مونـږ بیا هم اعلان کوو چې مونږ په فروعـاتو کې له مسلمانانو سـره اختلاف نلرو ، مونږ ته د امام اعظم رحمة اللـه علیه حنفی مذهب غوره مذهب ښکاري نو مونـږ ته مناسب نده چې په نورو مذاهبو او د اسلام په نورو فروعاتـو باندې فتواګانې صادرې کړو ، مونـږ ته لازم ده چې د مسلمانانو د وحـدت په لـور په اخـلاص قدمونه پورته کړو نه د اختلاف په لـور ، مونـږ چا ته دا وخت نه ورکوو چې په امام اعظـم صاحب رحمة الله علیه او حنفي مذهب یا نورو مذاهبو باندې ګذارونه وکړي ، مونـږ د فروعـاتو له اختلاف څخه سخت خسته او ناکراره شوي یو ، زمونـږ هـدف د عالم اسـلام وحـدت دی ، مونـږ به انشاء اللـه د فـروعاتـو د اختلاف مخ نیوی کوو ، ځکه زمونـږ اصلی هـدف او آرمان بیا په ټوله نـړۍ باندې د اسـلامی خـلافت را ژوندی کول دي ، بیا د مسلمانانو حکومت کول دي په ټـوله نړۍ باندې ، بیا د مسلمانانو د عـزت پګړې بیرته ورپه سر کول دي .

و - د اسلامی حکومت له جوړولو څخه وړاندې سالمی اسلامی روزنې ته اړتیا:

په اسلامی دعوت او اسـلامی جماعت کې د افرادو ښه روزنه ډیـر مهم رول لري ، د اسـلامی نهضت او تحریک بری په دوه مسئلو

پوری منحصر دی ، لومړی کلك نظم او دسپلین ، بشپړ او دقیق پلان او پروګرام ، او دوهم د غړو په لوړه سویه فکری او اخلاقی روزنه ، د دغو دواړو مسئلو بشپړوالی له اسلامی نهضت څخه یو داسی نه ماتیدونکی ځواك او قدرت جوړوی شی چی له سترو څخه ستر تویانونه ئی هم د ارادی مخه او تګ لوری د مقصد له منزله نه شی بدلولی .

رسول الله صلی الله علیه وسلم چی کله په پیغمبری مبعوث شو دری کاله ئی مخفی او پټ دعوت وکړ په دری کلونو کی ئی دیرش کسان د اسلام په مبارك دین کی داخل کړل او پس له د خوله څخه ئی په اسلامی روحیه وروزل ، رسول الله صلی الله علیه وسلم په دیارلس کلونو که له دو نیم سوو څخه تر دری سوو کسانو پوری په اسلام کی داخل کړل او پس له هغه څخه ئی په سالمه اسلامی روحیه باندی وروزل .

دا د نړئ اصول دی که چیرته ځوك قصد لری چی کمونیستی حکومت جوړ کړی او د کمونیزم نظام جاری او پیاده کړی مخ کی له هغه څخه به د کمونستانو حزب جوړوی او کمونستان به تربیه کوی ، که ځوك غواړی غربی مشرب حکومت جوړ کړی مخ کی له هغه څخه به د غربګرایانو ډله تأسیس کوی او خپل اعضاء به د غرب په غلامی کی ښه روزی ، تر څو غربی او کفری حکومت جوړ کړای شی ، هر هغه ځوك چی قصد لری اسلامی حکومت جوړ کړی او اسلامی خلافت یو ځل بیا په ټوله نړئ کی را ژوندی کړی باید مخکښی له اسلامی حکومت او اسلامی خلافت څخه یو منظم اسلامی جماعت جوړ کړی ، او په سالمه اسلامی روحیه باندی خپل ملګری وروزی ، تاسی نظر وکړی چی د افغانستان مجاهدین چا په سالمه اسلامی روحیه باندی و نه روزل بلکی په خودخواهی ، خود سری او سرکشی کی ښه ماهر وروزل شول ،

همدلوه چی د شهیدانو په وینو گټل شوی ټانکونه او طیاری مو د پاکستان په بازارونو کی کباړ او خرڅ شول ، ښارونه او دولتی دفترونه مو چور شول ، هر هغه څوک چی په سالمه اسلامی روحیه باندی تربیه او روزل شوی نه وی او دوی ته قدرت په لاس ورشی دا د اسلام تباهی ده .

نو مونږ د تحریک خلافت اسلامی افغانستان جماعت غواړو په شان د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم خپل ځوانان په سالمه اسلامی روحیه باندی وروزو ، همدا سبب دی چی زمونږ ټول ترکیز په فرهنگی او ثقافتی موادو باندی څرخیږی ، او زمونږ تحریک یو ثقافتی او فرهنگی تحریک دی ، مونږ پدی عقیده یو تر څو خلك په سالمه او ښه اسلامی روحیه باندی و نه روزو زمونږ مشکلات نه حل کیږی ، کله چی څوك یو تعمیر جوړوی باید مخکښی له هغه څخه خام مواد ورته تهیه او تیار کړی لکه خښتی ، سمنټ ، لرگی ، چونه ، اوسپنه او ناسی نور که دا شیان موجود نه وی او یو کس د تعمیر د جوړولو قصد کوی دا شخص سخت جاهل او لیونی دی ، نو د اسلامی حکومت د جوړولو پخاطر باید اول خام مواد تهیه شی ، د اسلامی حکومت لپاره خام مواد مونږ ته په اساس د ښی اسلامی روزنی لاس ته راځی نه په اساس د قوم پرستی ، لسان پرستی او سمت پرستی .

یو داعی باید پدی پوه شی چی اسلام د هغه بشپړ ، کامل او جامع نظام نوم دی چی د ژوندانه د ټولو اړخونو د چارو تنظیم او سمبالول پر غاړه لری دا دین هم دولت دی او هم وطن هم حکومت دی او هم ملت هم اخلاق دی او هم زور ، دا دین د زړه سوی ، ترحم او عدالت دین دی ، پدی دین کی فرهنگ هم شته او قانون هم ، علم هم دی او قضا هم ، پدی دین کی ماده او معنی دواړه پراته دی ، پدی دین کی

ئی او هم دروغ وائی ، هم مسلمان ئی او هم حرام خوری ، هم مسلمان ئی او هم پربل مسلمان ورور باندی ظلم او ناروا کوی ، هم غیبت کوی او هم له کمونستانو او غرب گرایانو سره په پټه او ښکاره پول دوستی کوی خو بیا هم ځان ته مسلمان وائی دی ته خو مسلمانی نه وائی بلکی مسلمان حقیقی هغه څوك دی چه ژوند او مرگ ، دوستی او دشمنی ئی د خدای جل جلاله د رضا له پاره وی . لکه چی خدای جل جلاله فرمائی :

قُلْ إِنَّ صَلَاتِىْ وَ نُسُكِىْ وَ مَحْيَاىَ وَ مَمَاتِىْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ .

(وواىه چه په تحقیق سره زما لمونځ زما قربانی زما ژوند او زما مرگ هر څه د الله جل جلاله لپاره دی چه د ټولو کائناتو پالوونکی دی[۱]) .

نو حقیقی مؤمن کیدل ډیر مشکلات لری نو پدی خاطر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د کامل مؤمن په ارتباط فرمائی :

مَنْ أَحَبَّ لِلّٰهِ وَ اَبْغَضَ لِلّٰهِ وَ أَعْطٰى لِلّٰهِ وَ مَنَعَ لِلّٰهِ فَقَدِ اسْتَكْمَلَ الْاِيْمَانَ .

(هر هغه څوك چه صرف د الله جل جلاله د رضا له پاره له چا سره دوستی کوی او د الله جل جلاله د رضا لپاره له چا سره بغض او کینه ساتی او د خدای جل جلاله د رضا له پاره چاته یو څه شی ورکوی او د الله جل جلاله د رضا لپاره چا ته څه شی نه ورکوی نو یقیناً ده خپل ایمان کامل کړ[۲]) .

۱... د الانعام سورة ۱۶۲ ایت

۲... د ترمذی په روایت

PROPERTY OF
ARIC
Established 1989

دافغانستان د اسلامي خلافت
د تحريك تګلاره

ليكونكى : روح الله (خلافت يار)

20/-

دافغانستان د اسلامي خلافت
دتحريك تگلاره

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

ليكونكى : روح الله « خلافت يار »

ټول حقوق محفوظ دی

دکتاب نوم : دافغانستان د اسلامي خلافت د تحریك تګ لاره

لیکونکی : روح الله (خلافت یار)

شمیر : ۱۰۰۰ ټوکه

دچاپ کال : ۱۳۷۳

قیمت :

دافغانستان داسلامي خلافت دتحریك چاپ کوونکی : دارشاد اوفرهنګ

څانګی لخوا